بسم الله الرحمن الرحیم

# دافغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون
# په افغانستان کې د اقتصادي او ټولنیزو حقونو دریيم
# رپوټ
# د ۱۳۸۷ لمریز کال د لیندۍ میاشت

## *دمننې څرګندونه:*

**دغه رپوټ د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون له خوا دبېلابېلو ځانګو سره د ګډو هڅو او ډله یز کار پایله ده،چې د ملګروملتونو د کډوالو د چارو ادارې (UNHCR) ، د کمېسیون د سیمه یزو او ولایتي ځانګو ترمنځ د همکارۍ پر بنسټ، د ټولنیزو او اقتصادي حقونو پر څارنې ،ترویج او ملاتړ ولاړ دی.**

**د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د حکومت د استازو له همکارۍ څخه مننه کوي، په ځانګړي ډول د اوبو رسوني د مرکزي اداري څخه د نجیب الله پتن،** د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت له دروند مرستیال،د ښاري پراختیا له وزارت څخه ښاغلي محمد نادرعمر ، د کار،ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو له وزارت څخه غوث بشیري او د ښځو چارو له وزارت څخه د اغلې فوزیه امیني،اغلې شکیلا، او له اغلې مژګان مصطفوي څخه بیا د زړه له کومي مننډوی دی.

همدارنګه کمېسیون ددې رپوټ په برابرولو کې د ناروې د پناه ورکوونکو شورا له غړو (NRT) ، د ملګروملتونو د کډوالودچارو سازمان ،دافغانو ښځو شبکه(Turquoise Mountain)، میډیکا مونډیال افغانستان( Afghanistan Medica Mondial) ، د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP) ،دخوړو نړیوال پروګرام( WFP)،د خوړو او کرنې سازمان(FAO)، د کډوالو نړیوال سازمان( IOM)، د ښځو له پاره د ملګرو ملتونو د پراختیا صندق (یونیفم)،د ماشومانو له پاره ملګرو ملتونو د پراختیا صندق (یونیسف)، پر سېمه یزو بنسټونو باندې د ملي پراختیا سازمان (NABDP) او د کابل پوهنتون څخه هم مننه کوي.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون له هر څه وړاندې، له هغو کورنیو څخه مننه کوي چې په دغه بهیر کې یې ګډون کړی دی. او په سختو شرایطو کې یې زموږ له سیمه یزو ټیمونو سره مالومات شریک کړي دي. له دغو کورنیو څخه ډېرو یې په ناوړه شرایطوکې ژوند کاوه، کمېسیون هیله مند دی چې دغه رپوټ به ددغو خلکو نظریات منعکس کړي او په دې ډول به دهغوی خبرې په سیاست جوړونو کې ورګډې شي. دافغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په ملي او سیمه یزه کچه خپل کار ته دوام ورکوي ، ترڅو د هغو خلکو ملاتړ وکړي ، چې حقونه یې تر پښو لاندې شوي دي.

د کمېسیون لوی تمویلونکي اسټرالیا، کاناډا،ډنمارک،فنلنډ،نیوزیلنډ،ناروې، هالنډاو د بریټانیا هیوادونه دي.ددې ترڅنګ نور سازمانونه لکه د پراختیا سازمان (DED)، دافغانستان څخه،د آیرلنډ د مرستو سازمان (Irish AID ) د ملګرو ملتونو د بشر دحقونو دعالي کمیشنرۍ دفتر(OHCHR)،د سویس (SDC) د افغانستان له پاره د سویډن کمیټه او د امریکا د متحدو ایالتونو د پراختیا اداره (USAID).

ددغه رپوټ لګښت د ملګرو ملتونو د کډوالو د چارو ادارې (UNHCR) له خوا ورکول شوی.

یادونه : په دې رپوټ کې د قربانیانو د اصلي نوم له اخیستو څخه ډډه شوې او په ځای مستعار نومونه راغلي دي.

## د رپوټ لنډيز:

دغه رپوټ د افغانستان د حکومت هغه پرمختګونه ترڅېړني او ارزونې لاندې نيسي چې د ۲۰۰۷ کال له جنوری (۱۳۸۵جدي /او دلوې) څخه د ۲۰۰۸کال تر مارچ (۱۳۸٦ حوت/۱۳۸۷حمل) پورې يې د هيوادوالو د اقتصادي او ټولنيزو حقونو د ټينګښت له پاره تر سره کړي دي.

دافغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمېسيون تر دې دمخه هم د اقتصادي او ټولنيزو حقونو په برخه کې دوه رپوټونه په ۲۰۰٦(۱۳۸٤-۱۳۸۵) او ۲۰۰۷(۱۳۸۵-۱۳۸٦) کې خپاره کړي دي .دغه رپوټونه د کمېسيون په انټر نيټي پاڼه کې په دغه نښاني سره ليدلای شئ.www.aihrc.org.af

د يوشبات لرونکي او تکړه دولت د راوستلو دپاره چې هغه وکولای شي د قانون حاکميت ارزانه او اساسي خدمتونو ته لاسرسی او د جنسيت برابري په کې خوندي وي نو د اوږدي مودې پانګې اچونې او صحيح پروګرام جوړولو ته اړتيا شته .

د اقتصادي او ټولنيزو حقونو د تامين په برخه کې د افغانستان د حکومت حقوقي کړنلاره او چوکاټ د دوو اساسي او قانوني سرچينو په وسيله طرح کېږي. دافغانستان اساسي قانون [1] او اقتصادي ټولنيز او فرهنګي حقوقي نړيوال ميثاق [2] (ICESCR) دافغانستان له پاره د زر کلني پراختيا د هدفونو په سمولو سره د MDGS اودافغانستان د ملي پراختيا ستراتيژي ANDS . د دغو قوانينو او کړنلارو پر بنسټ د افغانستان حکومت دنده لري چې د افغانستان د اوسيدونکو د کار دحقونو ملاتړ وکړي د ټولنيز امنيت زمينه برابره کي ، د ژوند د مناسبې کچې حق محيط تيار کي، هيوادوالو دپاره ښوونيز او روغتيا خدمتونه برابر کي.

## زيانمنونکي ډلې:

په افغانستان کې د پراختيايي پروګرامونو څخه د زيانمنونکي ډلې محرومـوالي دوام لري د بشر دحقونو پر بنسټ باندې د پراختيا دپاره د لازمو شرايطو راوستل د اقتصادي او ټولنيزو حقونو څخه شميرل کېږي د بنسټيز عنصر ګڼون يو ابرومنده ژوند دی چې د ښوونې او روغتيايي خدمتونو غذا استوګنځي د کار پيداکول او لاس ته راغلو توکو منصفانه ويش دپاره د يوکس لاسرسی و اساسي سرچينو ته تامينوي دغه ډلې په دريوسطحو کې د پراختيا څخه ليري پاته شوي دي

لومړي دمرسته کونکو لومړيتوبونه ددې سبب شوي دي ترڅو د افغان هيوادوال په خپل ژوند کې د ښه کېدو او سمباليدو د بهير څخه بې برخې شي.

دوهم،په افغانستان کې د کړنلارو تر تيبونکي د ډېرو مشورو سره سره بيا هم د خلکو د اړتياو په پوهيدوکې ناکامه شوي دي او خپله ډيره توجه يې د مرسته کونکو غو ښتونوته ګرځولې ده.

دريم ، فقير افغانان په سيمه يزه کچه باندي محرومه دي ځکه چې فقر ددې سبب شوی دی چې هغوی په دوامداره توګه د خدمتونو څخه بې برخې شي.

## د قانون پلي کول :

د قانون نه پلي کول او دمدني ځانګو کمزوری ملاتړ او اختلال ددې سبب شوی دی چې د اقتصادي او ټولنيزو حقونو څخه په ګټه اخيستنه کې پسوالی راشي. دافغانستان اساسي قانون اونړيوال تصويب شوي حقوقي قوانين چې اقتصادي او ټولنيز حقونو ته د لاسرسي ضمانت کو ي يوازي دکاغذ پرمخ پاته دي . د قانون او عدالت اجرايي ځانګې کمزوري دي او په درد نه خوري د قانون احکام د پلي کېدو په وخت کې د داسې اداري دستورونو سره اخته شوي دي چې په ټوليزه توګه دحقوقو څخه موثره ملاتړ وکي او د قانون څخه د سرغړونو کچه محدوده کړي .برسيره پر دې دتذکري د ورکولو ، دزيږدنې د باورپاڼې د نکاح کولو او طلاق د ثبت ځانګې بې ترتيبه او ګډوډي دي . په ډېره ښه حالت کي خلک يوازي د ولايتونو و مرکز ته لاسرسی لري او هغه کسان چې دمرکزي نه په ليري واټن کې پراته دي د

---

١- دافغانستان د ۱۹۸۳ زکال په جنوري کې د اقتصادي،ټولنيز او فرهنګي نړيوال تړون لاسليک کړ

۲_ د افغانستان دملي ستراتيژي پراختيا د فقر د راټيټولو د ستراتيژي په توګه PRSP.په هيوادکې کړني کوي دغه ستراتيژي د حکومت اونړيوالې ټولني ګډي وعدې په هيواد کې د فقر د ټيټولو په خاطر په کار اچوي او په هيواد کې د فقر د ټيټولو په خآطر په کار اچوي او په هيوادکې د اوسني حالت د فقر حدود او بېلګې تعريفوي چې دفقر د ټيټولو د ستراتيژي اصلي عناصر په ګوته کوي د فقر دپاره د مرستې پروژې او پروګرامونه په نښه کوي او پر يو لوي پنځه کلن اقتصادي چوکاټ او د فقر د راټيټولو دپاره يو پنځه کلن پلان جوړوي( د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژي لومړۍ برخه ټوليزه ليدنه)

محرومۍ په حال کې اوسيري . ديو تکړه او موثره اداري نظام پرته د افغانستان حکومت ته سخته ده چې د ولس د اړتياو څخه خبر شي او دهغوی حقونه وپيژني او دهغه نه ملاتړ وکي.

## د کار حقونه :

د کار د حقونو په برخه کې د حکومت د ملامتی په وجه باندې داسې قوانين او ميکانيزمونه نه دي طرح شوي چې د قانون د اجرا څخه ملاتړ وکي ،په ځانګړي توګه دغه وضعه د هغو کسانو په اړه چې په غير رسمي اقتصادي برخو کې کار کوي ماشوم کارګران،مهاجر او د ښځو په برخه کې واقعيت لري. ددغه رپوټ د ليکلو په وخت کې داسې مقررې چې نا منظمه او غير رسمي کارونه وڅيړي او داسې ميکانيزمونه چې د داسو کسانو شمېر وښيي چې په غير رسمي کارونو بوخت دي د هغوی د اړتياو په هکله د داسې کارګرانو د حقونو ملاتړ چې په غير رسمي داقتصادي برخو کې بوخت دي او د ورځنۍ اجوري اخيستونکي کارګرانو په برخه کې نه وي . غير رسمي کارګران داسې زمينه نه لري چې خپل د کار کيفيت لوړ کړي او يا هم خپل د ژوند سطحه لوړه کاندي . د ماشومانو کار رواج شوي دي . تقريباپه کابل کې ۱پر ٤ برخې ماشومان کار کوي ،په داسې حال کې چې د ۱۸ کلني نه کښته سن لرونکي ماشمانو ته د ورځي اته ساعته کار په قانون کې منعه شوي دي . د کار شرايط زيان راوړونکي او د خطره ډک دي . د اوږدې مودې کار او په خراب محيط کې کار خطر لري . د قاچاق د او جبري کار له امله د غير ي رسمي کارګرانو او ماشوم کارګرانو وضعه زيانمونونکي کړې ده .د قاچاقو ضد قانون د جوړيدو په حال کې دی او دهغه دوې برخې د انسان قاچاقولو سره مبارزې ته ځانګړي شوي دي ، خو د هغه کار لاتيت دی. د ايران د پولو څخه د راشړل شوومهاجرو کارګرانو وضعه د ۲۰۰۷کال په ژمي او ۲۰۰۸ کا ل کې (۱۳۸۵-۱۳۸٦-۱۳۸۷)د اندېښنې وړ دي.

داسې ښکاري چې د پولو څخه د راشړل شوو ډېرو کسانو هغه څوک دي چې د قاچاق په ډول هلته بيول شوي وه او په اجباري کارونو باندي بوخت وو په ايران کې د افغان مهاجر کارګرو ملاتړنه کېږي اوکله چې هغوی د ايران له پولوڅخه راشړل کېږي نو په افغانستان کې د پولو د راشړلو او په دننه هيواد کې د هغوی د حقونو د ملاتړ بهير ناکامه دی. په رسمي ا يا غير رسمي کارونو کې د ښځو د حقونو څخه دفاع ځانګړي پاملرنه غواړي.

په اوس وخت کې ښځو ته د زيږونو په وخت کې د رخصتۍ يوازيني هغه تدبير دی چې ښځې ترې بهرمني دي. لازم دي چې داسې تدبيرونه ونيول شي چې د هغه له امله د ښځو دکار په سيمه کې هغوی‌ته جنسي ازارونه رسول شي او د هغوی په وړاندي د بدو کړونو مخه ونيول شي تر اوسه پورې داسې ميکانيزمونه نشته چې د هغه په وسيله دي د ښځو په وړاندي د بدو کړونو مخه په موثره توګه ونيسي . په همدې ډول داسې تشويقونه لکه دماشوم څخه ملاتړ ،شغلي ښووني او د جنسيت دپاره کار سياستونه چې د هغه په وسيله ډېرې ښځې کارته راجذب کړلاشي موجودي نه دي .

دافغانستان اساسي قانون د عادلانه او برابري ټولني د جوړلو دپاره ډېر ښه اساس وړاندي کړي دي. نولازم بريښې چې د قانون د پلي کيدو بهير ټينګ شي . حکومت بايد دکار قوانين په ځانګړي توګه د ورځني اجورې اخيستونکي کارګرانو، د هغوی روغتيايي کتني د هغوی بې خطره د کار سيمه او د ماشومانو کار دپاره تيار کړي.

## د ټولنيز امنيت سيستم:

په افغانستان کې د ټولنيز امنيت سيستم يوازي د تقاعددحقونو،معلوليت لرونکي کسانو،دحکومت پخواني غړو د شهيدانو د کورنيو او ماشومانو دپاره شته او بس . که څه هم په اساسي قانون کې د سالمو کسانو،ناروغانو بې سرپرسته ښځو دپاره ميکانيزمونه نه دي طرح شوي او د قانون اجرا آتهم تبت او پرک دي .زيانمنونکي کورنۍ چې د هغوی په سر کې ښځې ماشومان ،روغ داخلي بيځايه شوي او هيواد ته بيرته راغلي کسان وي او هغه کورنۍ چې د اتوکسانو نه ډېر غړي لري دډېرو مرستو ملاتړي ورسره نشته او په ټولنه کې په ستونزمن حالت کې اوسيږي. ددغه رپوټ دليکلو په وخت کې يوازي د مدني ټولنو سازمان او د نړيواله ټولنې سازمانونه هغه ځانګې وي چې دغه ډلو ته يې ټولنيز خدمتونه کول او د دوی سره مرستې يوازي نړيوالو مرسته کوونکو کولې.

## د ښځو وضعيت:

د افغانستان د اساسي قانون پرينسټ او د افغان حکومت د کړو وعدو سره په کورني ژوند کې د ښځو په حقونو کې يو څه ښه والی راغلی دی.په دې حقونو کې د واده کول حق،په کم عمر کې د

واده کولو څخه خلاصون ،دښځې او نارینه ترمنځ د واده کولو په بهیر کې قانوني حق اویا د واده نه کولو حق اوکورني تاوتریخوالی شامل دي.

دماشومانو واده کول د اندیښنې وړ دي ځکه چې په افغانستان کې ډېرې نجوني د ١٦کلنی نه مخکي واده کوي جبري ودونه یوه بله ستونزه ده او هغه ځوانان چې غواړي د پلار او مور د خوښې پرته واده وکړي ډېر ځله تر تعقیب لاندې نیول کېږي او د خپلو کور نیو د غړو له خوا ځورول کېږي. که څه هم په کښته سن کې او یا هم په زور واده کول په قانون کېمنع شوي دي او د هغه سزا دوه کلونه حبس دي خو تر اوسه پورې څوک په دې جرم باندې نه دي بندي شوي کوم چې قانون ورته اشاره کړي ده . د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی په جدي توګه دوام لري.د پور پرې کول د ښځو په وړاندي لویه ویره ده چې د هغوی حقونه تر پښو لاندې کړي ځکه چې ډېرې قضیې داسې ښيي چې ډېرې ښځې د پور اداکولوپه خاطر مجبوره کېږي، چې ودونه وکړي . دغه څه دې ته اړتیا لري چې دکوچني پورونو د اداکولو په اړه یو میکانیزم منځ ته راوړي او هم هغه څوک چې په اقتصادي برخه کې زیانمن شوي وي هغوی ته د خلاصون او یا مرستې لاره پیدا کړي.

## د ژوند مناسبه کچه :

د ملکیت،استوګنځي پاکواوبو او خوړو امنیت هغه څلور بنسټیزه مسئلي دي چې د ډېرو افغانانوپه مخ کې خنډ

جوړوي تر څو هغوی دمناسب ژوند لرونکي شي.دغو مسئلو په غیر متناسب ډول هیواد ته د بېرته راتلونکو داخلي بېځایه شوو او کوچیانو ژوند اغیزمن کوي او دهغوی د بیرته راتګ په مخ کې خنډ ګرځي . د ملکیت او استوګنځي د حقونو په زمینه کې حقوقي ادعاوي ددې سبب شوي دي تر څو یو شمیر افغانان ملکیت ونه لري او په نتیجه کې د وړ استوګنځي او ښه ژوند په مخ کې یې خنډ جوړ کړي . هیواد ته د بیرته راستنو شویو او داخلي بېځایه شویو کسانو پرته نوروته په لیرو او پرتو سیموکې د استوګنځي برابرولو کوم پروګرام نشته. د ښار ډېر اوسیدونکي و ارزانه کورونو ته لاسرسی نه لري.ډېر هغه کسان چې په خوارو سیمو کې استوګن دي د ژوند د ښه کېدو دپاره کومه لاره نه لري په ټول هیواد کې وپاکو اوبو ته لاسرسنه ډېره لږه ده د پاکو اوبو د برابرولو او د پاکي سیستم د اروستلو دپاره ډیره لږه پانګه اچولی شوي ده.

## روغتیا او ښوونه:

د روغتیا او ښوونې سیستم د ښځینه کار مندانو د کمبودۍ له امله او د امنیت دنشتوالي له امله د ستونزو سره مخامخ دي په دې برخه کې دمسلکي کارمندانو دنشتوالي له کبله ډېر ځله په کلینیکونو او ښوونځیو کې غیر مسلکي کسان په کارونو باندې ګمارل کېږي. کلینیکونه د اړتیا وړ درمل او سامانونه نه لري .ښوونځي هم دزده کوونکو دپاره د درسونو پوره سرچینې او لازم سامانونه نه لري. په روغتیايي او ښوونیزو ځانګو کې د ښځینه کارمندانو نشتوالی ددې سبب شوي دي چې ډېرې نجونې د ښوونې او روغتیا د حق څخه بې برخې شي. په ښوونځیو کې د نجونو د شمېر کمښت ددې سبب ګرځي چې په راتلونکي کې په دې برخه کې لږه پرمختیا وشي.د امنیت نشتوالی د روغتیا وزارت دې ته اړ کړي دي چې په ډېرو لیرو پرتو سیمو کې خپل کلینیکونه وتړي .ددې ریپوټ د برابرولو په وخت کې افغانستان ددې شاهد دی چې د جګړې له امله پر ښوونځیو بریدونه ،د ښوونکو او زده کوونکو په ویره کې اچول او ځانګړي توګه ښځینه کارمنداني اوزده کونکي په ښه کول د ښوونځیو د تړلو سبب شوي دي.

## کورنی ژوند:

د کورنیو له پاره قانون بله هغه څه دی چې پام باید ورته واوړي .دولت باید د قوانینو د حکمونو سره سم د جبري ودونو او په کښته سن کې د نجونو دکوزده کولو مخه ونیسي او داسې زمینه برابره کړي ترڅو په رسمي ځانګو کې دواده او طلاق بهیرثبت کړي. پرته له توپیره کړنلارې اجرا آت د روغتیا او ښوونې په برخه کې اړین دي په ځانګړې توګه دا ډول اسانتیاوې باید وښځو او لږکیو ته برابري شي.

د افغانستان حکومت بایدهغه قوانین اصلاح کړي چې د افغانستان د اساسي قانون او د نړیوالو قوانینو سره په ضدیت کې وي . لویه اندیښنه د نجونو او هلکانو دسن توپیر دی چې د واوده کولو په وخت کې باید پام ورته واوړيي.اړین ښکاري چې کورني قانون د افغانستان د اساسي قانون او دولت دکړو وعدو سره سم تر تیب کړل شي د کورنی.د غړو د حقونو په اړه باید داسې قوانین او مقررې جوړې شي چې په هغه کې د واده او طلاق موضوع ،دکورني تاوتریخوالي د له منځه وړل او د غیري

قانوني ډيرو پيسو لګولو مخه ونيول شي اړين بريښي چې د قاچاقو پر ضد قوانين تيار کړل شي او داسې پروګرامونه جوړ کړل شي چې په ښوونځيو او دکار په سيمه کې ښځو ته جنسي ازارونه ورکړل شي.

ددغو مسئلو په نظر کې نيولو سره او دنړيوال اقتصادي ،ټولنيزاو فرهنګي ميثاق پر بنسټ باندې د دندو د سرته رسولو دپاره د افغانستان حکومت په يو لړ اقداماتو لاس پورې کړی چې په هغه کې د موجوده قوانينو اصلاح کول ،هغه قوانين چې د افغانستان د اساسي قانون او نړيوال معيارونو سره سر نه خوري

د ټولنيزو بنسټيزو خدمتونو وړاندې کول،د مرستندويه ميکانيزمونو طرح او ددغه ميثاق د مندرجه حقونو د تامين په منظور باندې امنيت راولي.

حکومت بايد لاندې ټولنيز اساسي خدمتونه وړاندي کړي.

- دهغه کسانو دپاره چې په غير رسمي اقتصاد کې کار کوي د کار د مناسبې فضا او دهغوی د مهارتونو د لوړولودپاره زمينه برابره کړي.
- د زيانمنونکي ډلو دپاره هم غړي او ترتيب شوي خدمتونه وړاندې کړ ياو هغه ځانګې چې ددغه برخې مسوول دي فعاله شي .
- د پاکو اوبو دپاره د لازمې پانګې لګول .
- د اوبو او مځکو د شخړو د حل دپاره يو ميکانيزم جوړول.
- دمور او ماشوم د زيږيدلو او له هغه نه وروسته د هغوی د ساتلو او مرستو ميکانيزم.
- د ټولوهيوادوالو دپاره د روغتيايي او ښوونيزو ارزانه ميکانيزم پرانيستل .

د پورته تدبيرونو په څنګ کې بايد د ملکيت د امنيت،د ژوند د تيرولو دپاره د ښو لارو ټاکل ،يوه تکړه او کارکوونکي اداري ځانګه د زيږيدلو باور پاڼه او د واده او طلاق باور پاڼې دپاره ځانګې پرانيستل شي،په همدې توګه دولت بايد د ښونځيو او کلينيکونو امنيت ونيسي.

## سريزه :

اقتصادي او ټولنيز حقونو په نړيوال اقتصادي، ټولنيزاو فرهنګي حقوقي ميثاق کې ضمانت شوي دي چې د ملګرو ملتونو سازمان د ۱۹۹٦زکال د ډسمبر په ١٦ تصويب کړ يدي. (١٣٤٥کال د ليندي ٢٥).

د غه میثاق د نړیوال مدني او سیاسي میثاق ICCPR سره تړل دی . په دغه دوو سندونو کې د بشرد حقونو ټوله انساني حقونو په نړیوالو قوانینو کې شامليږي.

دبشر حقونو که مدني ،سیاسي،اقتصادي، ټولنیز یا فرهنګي وي پر دولت باندې درې ډوله دندې تحمیلوي:د رعایت دنده ،د ملاتړ دنده،او د پلي کولو دنده. د رعایت دنده د دولت څخه غواړي چې په مستقیم او غیر مستقیم ډول د بشر دحقونو سر غړونکي ونه اوسي . د ملاتړ د دندې څخه مطلب دادی چې د غړیو دولتونو څخه غوښتنه کو ي ترڅو د هغو کسانو او موسسو په وړاندې جدي اقدامونه ونیسي چې د بشر حقونه تر پښولاندې کوي . د پلي کولو دنده بیا د داسې اسانتیاوو غوښتنه کوي چې د بشر حقونه پکي ترویج کړل شي.دغه امر ددې بیانونکي دي چې غړي دولتونه باید مناسب تقنیني ،اداري بودجوي ،قضایي او نور تدبیرونه ونیسي تر څو د بشر د حقونو د پلي کیدو لاره اواره شي.

د نړیوال مدني او سیاسي حقونو میثاق داسې حقوقي شرحي کوي چې غړي دولتونه باید په هغه کې د لاس وهني څخه ډډه وکړي خونړیوال اقتصادي،ټولنیز او فرهنګي میثاق بیا د داسې حقونو سره سرو کار لري چې غړي دولتونه باید  دهغه د پلي کولو دپاره لاره چاره وسنجوي .دمثال په توګه نړیوال اقتصادي ټولنیز او فرهنګي میثاق دغه حقونه تشریح کوي : د کار حق د ټولنیزامنیت حق ،د کورني ژوند حق د مناسب ژوند حق،د روغتیا او ښوونې حق ټول خلک باید په مساوي او بې توپیره توګه له دغو حقونو څخه ګټه واخلي. غړي دولتونه مسولیت لري تر څو ددغه حقونو د تل پاتي کېدوله پاره کار وکړي . په دې رپوټ کې هڅه کېږي چې د اقتصادي ،ټولنیز او فرهنګي نړیوال حقوقي میثاق په مندرجه حقونو باندې او هم د هغه د پلي کېدو په برخه کې د افغانستان د حکومت د هڅو په باره کې درست معلوماتونه وړاندې کړي.

د۲۰۰۷او۲۰۰۸ز کلونه (۱۳۸۷-۱۳۸٦-۱۳۸۵ل کلونه) د ۲۰۰۱ز کال (۱۳۸۰-۱۳۷۹) راهیسې چې د طالبانو د سقوط او ړنګیدو کال وو تر ننه ډېر سخت کلونه وو. د ناامنیو ډیرښت، د خوراکي موادو د بیو لوړوالی او کمزوری اقتصاد د هیواد د پرمختیا په مخ کې خنډ شو. که څه هم د هیواد اقتصاد دودې په حال کې دي خو افغانستان تر اوسه پورې د ډېرو فقیرو هیوادونو په کتار کې دي.ډېر افغانان تر اوسه پورې د روغتیایي او ښوونیزو خدمتونو څخه بې برخې دي او استوګنځي نه لري . د ښاري سیمو پرته په نورو سیمو کې د ژوند له پاره اړین توکي په مشکل پیدا کېږي . او تیرو کلونو (۱۵کلونه) راپه دیخوا وچکالي ددې سبب شوي دي چې خلک په ډېر مشکل حالت کې ژوند وکړي او ځیني سیمي اساسا د ژوند وړتیا نه لري.

په افغاني دولتي څانګو کې اداري فساد دیو پلوه او د مرستو کوونکو هیوادونو لومړیتوبونه ددې سبب شول چې په افغانستان کې  دمناسب ژوند د سطحې د راوړلو په لاره کې خنډونه پیښ شي.

هغه ستونزې چې افغانستان او هغه ننګوني چې ولس ته متوجه دي هغه دندې چې د اقتصادي ،ټولنیز او فرهنګي حقونو نړیوال میثاق پر اساس د افغانستان حکومت ته متوجه دي نه پوره کوي . پس له دې چې دلته یو ملکي انتخاب شوي حکومت منځ ته راغی دغه وخت میسره شو چې نړیواله ټولنه د افغانستان د ولس سره په اقتصادي او ټولنیز حقوقي برخو کې مرسته وکړي ځکه دیرش کلنی جګړو په دغه هیواد کې د فقر او بیوزلي لاره هواره کړې وه له بده مرغه چې د حکومت د کمزوري او اداري فساد له امله دغه وخت د لاسه ووتې.

د افغانستان حکومت باید د قوانینو او پروګرامونو د نه پلي پلي کولو مسوولیت په غاړه واخلي .د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنیه باید دغه هیواد د ولس اړتیاوو ته لومړیتوب ورکړي. په دې رپوټ کې هڅه کېږي چې تر څو دغه اړتیاو ي راوپیژني او هغه برخو ته ګوته ونیسي چې د افغانستان حکومت خپل مسوولیتونه دخلکو په وړاندې نه دي تر سره کړي.

ډېر ځله حکومت په افغانستان کې د امنیت نشتوالي دیوې پلمې په توګه باندې راوړي دي چې ولي یې د اقتصادي او ټولنیزو حقونو په برخه کې وخپل ولس ته خدمت نه دي کړي ، په داسې حال کې چې دلته د ناامني څخه سترګې نشو پټولای خو د زیانمنونکو ډلو دپاره د هغوي د اقتصادي او ټولنیزو حقونو د پلي کولو له پاره حتا په هغه سیمو کې چې بشپړه امنیت وو دحکومت د اداري فساد او د ارادي نه درلودل ددغه څه سبب شول چې دغو ډلو ته خدمت ونه شي د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمېسیون په دې نظر دي چې د بغاوتونو او ناامنیو یو اصلي علت هم دادي چې د افغانستان ونه کړای شول چې د ولس اقتصادي وضعیت او د ژوند د سطحې په ښه کیدوکې ګامونه اوچت کړي . نو له دې سببه د اقتصادي او ټولنیزو حقونو پر وضعیت باندې څارنه ډېر مهم دی. له لوږې نه خلاص او ښوونې ، روغتیا او استوګنځي ته لاسرسنه د ټولنیزو شرایطو ارمان نه دی بلکې دا د انسانانو د بنسټیزو حقونو څخه ګڼل کېږي.په غالب ډول دغه مسئلي یو له بله څخه نه جلا کېږي،

ځکه چې په هغوی کې نښلونکي عوامل لکه معلولیت،جنسیت،ښوونې ته لاسرسنه او ښه ژوند ته امکانات پکې شامل دي. نو په دې خاطر دي چې هغه عوامل وڅېړل شي کوم چې په افغانستان کې د اقتصادي او ټولنیزو حقونو په مخ کې خنډ ګرځي.

په پای کې دا هم باید په نظر کې ونیسو چې ددغو مسئلو جرړې د افغانستان د پولو هاخوا دي. د افغانستان حکومت کولای شي چې د خپلو اداري ځانګو ٦٠% بودجه د خپلو مالیاتو څخه په لاس راوړي، د اداري بودیجې ٤٠% او د پرمختیايي بودجې ١٠٠% بیا د نړیوالو مرستو څخه ورکول کېږي. دغه څه افغانستان د اقتصادي ، ټولنیزو افکارو او سیاسي ارادې په برخو کې د مرسته کونکو هیوادو په وړاندې زیانمنونکي دي. هغه بدلو نونه چې په نړیواله کچه باندې د خوراکي موادو په بیه کې لوړ شوي دي او په نړیواله کچه د اقتصاد کړ کیچ چې په ٢٠٠٧ او ٢٠٠٨ (١٣٨٧-١٣٨٦-١٣٨٥) کې راغلي دي پر افغانستان دوه تاثیرونه کړي دي ، ځکه لومړی د مرسته کوونکو د مرستې کچه راټیټوي او په دوهمه پله کې د خوراکي موادو لوړوالی په غریبو هیوادونو کې د خلکو د ژوند سطحه د فقر تر کرښې لاندې راولي. د افغانستان ستونزې نړیوالې ستونزې دي او دهغه حل هم نړیوالو مرستو ته اړتیا لري. هیله ده چې دغه رپوټ وکولای شي چې په افغانستان کې زیانمنونکي ډلې په ګوته کړي او ددغه ډلو د زیانمنیدو عوامل ولټوو او د هغه د حل په لاره کې هڅه وکړو او د خلکو بنسټیزې اړتیاوې وپیژنو او خلک د خپلو حقونو څخه ګټې ترلاسه کړي.

## دافغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کمېسیون په اړه:

د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمېسیون یوه بنسټیزه ملي ځانګه ده چې د هغه دنده تشکیل او واک یې د هیواد د اساسي قانون په ٥٨ ماده کې بیان ا و تشریح شویدی.د ٢٠٠٦-٢٠٠٨د کمېسیون د عمل پروګرام په دریو برخو کې ځانګړي شوي دي. ١- د بشر د حقونو ملاتړ دپولیسو د قضائیه واک او پارلمان سره د هغوی د کار له مخې و حکومت ته مشورې ورکول د بشري حقونو پر بنسټ د قوانینو د اصلاح او ښه والي په منظور او د ښه سیستم او ښه عمل دپاره . ٢- د بشر حقونو ته رواج ورکول د څېړنو له مخې او د دولتي مقاماتو ته د کړنلارو په هکله مشورې ورکول( د ښوونیزو

لاربښوونو برابرول، د دولتي مقاماتو دپاره د ورکشاپونو پرانیستل) ۳- دکمي او کیفي معلوماتو او د حکومت د عمل د بهیر له مخې د بشري حقونو څارنه او څېړنه . په دې برخه کې د بشر د حقونو د خپلواک کمېسیون له خواځانګړې پاملرنه شوي ده او دښځو ،ماشومانو او بندیانو وحقونو ته د رسیدو دپاره لازمي سرچیني برابري شوي دي تر څو دا ډاډ لاس ته راشي چې د افغانستان د قضائیه واک او پولیسو د ملاتړ دندې د افغانستان د اساسي قانون په مطابق سرته ورسیږي. د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون ټینګ باور لري چې دیوې خپلواکې سولمنې او برابري ټولنې د راوستلو دپاره د اقتصادي ټولنیزو حقونو پوره کول اړین ښکاري.

د ۲۰۰۷ کال د جنوري له لومړۍ نیټې څخه بیا د ۲۰۰۸ کال تر مارچ پورې (۱۳۸۷-ورى- ۱۳۸۵ مرغومى ) د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ۲٦۳۰ شکایت پاڼې په -۱۲- سیمه ییزو او ولایتي څانګو کې تر لاسه کړي دي چې د هغه په نتیجه کې -۱۱٦۲- پېښې د بشر د حقونو د سرغړوني ثبت شوي او تعقیب شوي دي دغه کارونه په سیمه ییزو او ولایتي سطحو کې د ځینو حکومت او غیر حکومتي سازمانونو په مرسته تر سره شوي دي. د ښځو حقونو ته ځانګړې پاملرنه نه ده شوې.

۸۱۵ ښځوته قانوني مشوري ورکول شوي دي او د۱٥٤ کړکیچ لرونکو کورنیو تر منځ منځګریتوب شوى دى او د کمېسیون په هڅو باندې د سترې محکمې سره په مشوره سره په افغانستان کې دلومړي ځل دپاره د واده ثبتونه لازمي وښودل شوه .د واده ثبتونه ډېر مهم ګام دی چې د ځینو ناوړه عملونو مخه ونیسي لکه دماشومانو ودول ،جبري ودونه او په بدو کې ورکول دي. د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمېسیون د مدني ټولنو د سازمانونو سره دکورني قانون مسوده جوړه کړه او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون مسوده د مدني ټولنې په مرسته جوړ شوى دى. ددې قانون مسوده د اصلاح دپاره د ۲۰۰۷ په دسمبر کې د(۱۳۸٦کال لیندى/مرغومى) د عدلې وزارت د ښځو چارو وزارت او ملي شورا ته وړاندې کړه.

برسیره پر دې کمېسیون هڅه کړې ده چې د قران شریف د مبارکو اوامرو په رڼا کې د ښځو د حقونو دفاع وکړي ،د همدغه مطلب د سرته رسولو په خاطر کمېسیون د حج او اوقافو د وزارت سره مرستې کړي دي تر ځودښځو د حقونو د پیژندلو له پاره د خلکو فکر د دیني ښوونو په اړه په مسجدونو کې لوړ کړي، په نتیجه کې د حج او اوقافو وزارت ټولو مسجدونوته لیکونه واستول چې د جمعې د ورځې خطیبان پس له لمانځه نه د ښځو د حقونو په اړه ویناوي وشوې.

د بشر د حقونو، دښځو د حقونو، دماشومانو، دمعلولیت لرونکو کسانو د حقونو په برخه کې د بشر د حقونو دښوونې څانګې د کمېسیون سیمه ییزو او ولایتي څانګو د ولایتونو په مختلفو ولسوالیو کې د بشر د حقونو د ترویج کړل.

کمېسیون د ښوونیزو ورکشاپونو ، راډیویي پروګرامونو،تلویزیوني خپرونواو پوهاوي په ناستو سره په زرونو کسان د بشر د حقونو باندې وپوهول او په زرونو شمېر د بشر د حقونو میاشتنۍ مجلې یې په ټول هیواد کې وویشلې او ویشي یې.کمېسیون د ښوونې او روزنې د وزارت سره مرسته وکړه چې د هغوی په کتابونو کې د ۷ټولګي څخه تر ۱۲ ټولګې پورې د بشر د حقونو برخه ولیکي چې په پښتو او دري ژبه خپاره شوي دي.

د ماشومانو حقونه یوه بله برخه ده چې کمېسیون په هغه کې ښه لاسته راوني لري، د افغانستان د بشر دحقونو خپلواک کمېسیون د یونیسیف څانګې په مرسته دماشومانو پر حقونو باندې څارنه کړیده او په سیمه کې یې د ۳٤٦۲ ماشومانو سره مرکې کړیدي.د ۲۰۰۷ کال د جنوري (۱۳۸۵-کال مرغومي) بیا د ۲۰۰۸ کال د مارچ تر ۳۱پورې د ( ۱۳۸۷کال دوري ۱۲) ۱۳۰۰۰کسان (د٥٤۰۰ښځو په ګډون ) په ۱٥۰ ورکشاپونو کې او ۳۳۰د پوهې لوړولو په مجلسونو کې د ماشومانو د حقونو په اړه پوهاوی ورکړل شوي ده . دغه فعالیتونه په ځانګړي توګه د پولیسو کارکوونکو ،سپین ږیري ،څارنوالان ، دمحکمو کارکوونکي، ښوونکي، زده کوونکي، او د ښوونکو د روزنې په مرکزونو کې تر سره شوي دي.

دافغانستان د بشر دحقونو خپلواک کمېسیون د ملګرو ملتونو سازمان د پناه ورکونکو څانګو په مرسته د پناه ورکوونکو،بیرته راتلونکي او د داخلي بیځایه شوي کسانو د حقونو په برخه کې مرسته کړیده . ددغو مرستو په وسیله سره د بشر دحقونو سرغړونو د څارنې دنده تر سره شوې ده . د ۲۰۰۵کال( ۱۳۸۵-۱۳۸۸٤) راپه دیخوا ددغه دوو څانګو په ګډه مرسته سره چې بیرته راغلي او داخلي بیځایه شوي وه په ۲۰۰۰ کلیو کې چې د افغانستان په ۳۳ ولایتونو کې مرکې شوي دي .د۲۰۰۷کال په سپټامبر کې (۱۳۸٦کال میزان ) کمېسیون د ملګرو ملتونو د پناه ورکوونکو سازمان په مرسته یو ټیم د زرنج او اسلام کلا سیمو ته ته واستاوه ترڅو د افغانستان په ګاونډي هیوادونو کې د افغانانو د بشر د حقونو دسرغړونو په اړه او دهغوی ددفاع کولو په خاطر څیړنې وکړي. نوکله چې دغه سرغړونې په

ګوته شوي نو دهغه دحل دپاره لاره ، چاره سنجول کېږي. په ۲۰۰۸ کال کې ( ۱۳۸۷-۱۳۸٦) د کمېسیون او د ملګرو ملتونو د پناه ورکوونکو سازمان د مرستو په بهیر کې نوښت راغلی دی ا ځینې نورې ځانګې د ملګرو ملتونو سازمان له خوا د هغه سره یو ځای شوي دي تر څو یو منظمه چوکاټ جوړ کړي ترڅو د افغانستان د حکومت مسوولیتونه ډېر او جدي کړي ترڅو په هیواد کې د ولس د انساني حقونو مراعات وشي.

د ۲۰۰٦کال (۱۳۸۵-۱۳۸٤) راپه دې خوا له نژدې څخه د افغانستان د خلکو اقتصادي او ټولنیز حقونه وڅارې . په دغه رپوټ کې د کمېسیون د سیمه ییزو څارنې ټیمونه د ملګرو ملتونو د پنا ورکونکو سازمان په مرسته په ۳۳ ولایتونو کې کې د نیمروز ولایت پرته چې هلته امنیت ښه نه وو د ۱۵۰۰۰- کسانو سره مرکې کړي دي . د سیمه ییزو څارنې ټیمونو د اقتصادي ، ټولنیزو حقونو په اړه معلوماتونه راټول کړي دي او هغه یې خپاره کړي دي .

د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کمېسیون په افغانستان کې د بشر د حقونو د ترویج ، مرستې او څارنې دپاره کارکوي. دغه فعالیتونو کمېسیون ته امکان ورکړی دی تر د ۲۰۰۵او ۲۰۰٦کلونو دپاره (۸٦-۸۵-۸٤-۱۳۸۳) دوه اقتصادي او ټولنیزو حقونو رپوټونه برابر کړي دي ددې رپوټونو څخه مطلب د حکومت د دندو تلل او کتنه وه ، او د اقتصادي او ټولنیزو حقونو اجراآت د افغانستان د اساسي قانون او د نړیوالو مهاهدو د تصویب پر اساس باندې سرته ورسیږي او هم یې حکومت ته ځیني غوښتنې او سپارښتنې واړندې کړي دي.

## د نړیوال اقتصادي ټولنیزو او فرهنګې میثاق پر اساس د افغانستان د حکومت وعدې :

د پورته میثاق پر اساس د حکومت دنده او مکلفیت دادی چې لږ تر لږه اقتصادي او ټولنیز حقونه لکه د پوره غذا حق د مناسب استوګنځي حق د روغتیا او ښوونې حق تامین شي[3] . ددغو وعدو او اسنادو له مخې د بشر د حقونو دندې پر دریو برخو ویشل کېږي : د رعایتولو دنده ،دمرستې دنده او د اجرادنده ،د رعایتولو دنده له دولت څخه غواړي چې په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه د بشر د حقونو سرغړونکي ونه اوسي. دمرستې د دندې څخه مطلب دادی چې غړي دولتونه باید په داسې اقداماتو لاس پورې کړي چې د دولتي او غیري دولتي ځانګو د بشر د حقونو د سرغړونو مخه ونیسي. او په پای کې د اجراآتو دنده داده چې غړي دولتونه مکلف دي چې د مناسب تقنیني اداري اقداماتو نیولو سره دبشر د حقونو د پلي کولو دپاره لاره هواره کړي.

ددغه میثاق درج شوي معیارونه په داخلي محکمو کې د اجرا وړ دي . غړي دولتونه باید دغه معیارونه په رسمیت وپیژني او په قانوني توکه دغه معیارونه ددوی دپاره لازمي دي ،نو څکه خلک کولای شي دملي محکمو د دیوان څخه خپل دحقونو اجراآت وغواړي [4]. د افغانستان اساسي قانون د کار د حقونو اجرا (٤۹-٤۸ماده ) ټولنیزامنیت (۵۳ماده) کورنی (۵٤ماده) اوښوونه(٤۳او٤٤مادې) دا حکم کوي. دا په دې مانا ده چې دغه حقونه په مستقیمه توګه په ملي محکمو کې د اجرا وړ دي.

د اقتصادي ټولنیزو او فرهنګي حقونو نړیوال میثاق داهم غواړي چې د مندرجه قوانینو د دوام پلي کول یو مکلفیت دی . نوځکه دا میثاق داسې ګمان کوي چې ممکن ځیني غړي هیوادونه ددې وس ونلري چې سمدستي ددغه میثاق د غوښتنو د پلي کولو دپاره لازمي سرچینې او ظرفیتونه ولري. خو ددغه میثاق د دندو ځیني برخې یې پر غړو دولتونو تحمیل کړي دي چې سمدستي باید سرته ورسیږي. غړي دولتونه مکلفیت لري چې لږ تر لږه ددغه میثاق د درج شوي حقونو د پلي کیدو دپاره ګامونه واخلي .دغه تدبیرونه باید منسجمه ،رښتیاني او هدف لرونکي واوسي. نوله همدې کبله غړي دولتونه نشي کولای ددغه حقونو د نه پلي کولو له پاره پلمي وکړي چې مور په لاس کې منابع او یا توان نلرو چې بیکاري ورکه کړو او یا ولې لږ کارونه کوو[5]. لږ تر لږه غړي دولتونه کولای شي چې د خپلو هیوادوالو بنسټیزې اړتیاوې د هغوی د ابرومندانه ژوند دپاره برابرې کړي،او دزیانمنونکو ډلو ،معلولیت لرونکو کسانو ،ماشومانو او د هغو کسانو دپاره چې دخپل اقتصادي او ټولنیزو حقونو څخه ،محروم دي

---

[3] -د اقتصادي ،ټولنیزو او فرهنګي حقونو کمیټه ، ټولیز نظر شمېره ۳( ۱۹۹۰-٦۸-۱۳٦۹) د غړو دولتونو د دندو ماهیت.

[4] - داقتصادي ټولنیزو او فرهنګي حقونو کمیټه ، ټولنیز نظر شمېره ۹.۱۹۹۸(۷۷-۱۳۷٦) په داخلي سطحه دمیثاق اجرا.

[5] - د اقتصادي ،ټولنیزو او فرهنګي حقونو کمیټه ټولنیز نظر شمېره (۳-۱۹۹۰-٦۹-۱۳٦۸) دغړو دولتونو د دندو ماهیت.

داسې کړنلارې برابرې کړي چې د هغوې بنسټیزو اړتیاو ته ځواب وویلای شي.د دغه میثاق د دوهمې مادې له مخې ،ټوله کسان بیله تبعیضه په برابره توګه د خپل اقتصادي ،ټولنیزه او فرهنګي حقونو لرونکي وي. په همدې ډول دغه میثاق د مندرجه حقونو په اړه په ځانګړو شرایطو کې شاته تګ منع کړیدی.

د افغانستان حکومت د بشر د حقونو د معاهدې په لاسلیک سره موافقه کړې ده چې دغو موسسو ته به په منظمه توګه خپل ریوټ وړاندې کوي. ددغه دندې په لړ کې باید غړي هیوادونه په منظمه توګه خپل ریپوټونه د ملګرو ملتونو د سازمان د اقتصادي ،ټولنیزو او فرهنګي کمېټې ته ولیږي او هغوی بیا د پورته میثاق مطابق ټول ریپوټونه د افغانستان د ریوټ په شمول ګوري او ارزیابي کوي یې. افغانستان دغه کمېټې ته خپل دوه دوره یې ریپوټونه لیږلي دي ، وروستي ریوټ د ۲۰۰۸ کال په مې کې وو(د۱۳۸۷د غوایي او غبرګولي میاسته)

## د څیړنې ډول او د نفوس نمونه :

ددې ریوټ په جوړولو کې دکمي او کیفي میتود څخه کار اخیستل شوي دي. د سیمه ئیزو څانګو مرکې دبشر دحقونو لومړی سرچینې دي چې د هغه څخه د اقتصادي او ټولنیزو حقونو د وضعیت د ارزښت ټاکنې په مطلب شوي دي . دغه معلومات د سیمه ئیزو څانګو د ماشوم د حقونو د څارنې دکارمندانو له خوا د هغوی دکار په اړه اویا دماشوم د واده کولو په اړه شوي دي او د قضیو د ادارې له خوا چې هغوی د سرغړونو نمونې څیړلې دغه پوره شوي دي .په همدې د وزارتونو ،د ملګرو ملتونو اړونده سازمانونه او مدني ټولنو څخه ریپوټونه راټول شو یدي.دغه معلومات د افغانستان د بشر دحقونود خپلواک کمېسیون له خوا راټول شوي دي او په ځینو برخو کې یې مسئلې په ټولیزه توګه څیړلې دي .دغه معلومات د حکومتي کارمندانو ،دملګرو ملتونو سازمان او دمدني ټولنو دکارکوونکوسره د ژورو او اوږدو مرکو د لارې لاس ته راغلي دي .د کتابتون څیړنو ددې ریوټ د اقتصادي او ټولنیزو حقونو د تاریخي پیژندني شالید راته روښانه کوي.

د بشرد حقونو سیمه ئیزه څارنه د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمېسیون اصلي وسیله ده چې په سیمه کې د اقتصادي او ټولنیزو حقونو وضعیت څارې . د بشر د حقونو د سیمه ئیز څارنې پوښتنلیکونه درج شوي شاخصونه دغه مسئلې څیړي: کار او پور ،روغیتا ته لاسرسی ،د ماشومانو پرکارتکیه کول، دماشومانو دواده کول رواج ،د اوبو شته والی ،پر ځمکه او اوبو باندې جګړې او دهغه د حل لارې ټولنیزې امنیتي اندیښنې،ګډون او مهاجرت وضعیت.

د ۲۰۰۷کال د جنوري کال د لومړی نیټې څخه (د۱۳۸۵کال د مرغومي ۱) بیا د ۲۰۰۸کال د مارچ تر ۳۰(د ۱۳۸۷کال د وري ۱۲)پورې د بشر د حقونو د سیمه ئیزو څارونکو څانګې وکړای شوای چې د۱۵۰۰۰څخه د ډېرو کسانو وضعیت وڅیړي.۲۱۰۵مرکې د ملګرو ملتونو سازمان د پناه ورکونکو دڅانګې له خوا او -۱۳٤٦۱ –مرکې د افغانستان د بشر دحقونو دخپلواک کمېسیون شوي دي، مرکه کوونکوسن د -۱۱- څخه بیا تر -۷۲- کلنې پورې وو، د بشر د حقونو ټول سیمه ئیز ارګانونه په دې کارکې ګډون کړې وویوازې د نیمروز سیمه چې امنیت په کې نه وو دغه څه سرته ونه رسیدل.

مرکه کوونکې د افغانستان د قومي ترکیب نماینده ګي کو ي، پښتانه او تاجیک چې د مرکه کونکو دریمه برخه جوړه وي او پس له هغه بیا هزاره ګان او ازبکان په ترتیب سره ډېره برخه جوړي. د بشر دحقونو سیمه ئیزو څارونکو د جنسیت توازن ساتلی دي. چې دمرکه کوونکو-۷۰۳۳-کسان چې ٪۳. ٤٥ جوړي ښځې دي او ۸۵۲٦ – کسان چې ٪۸. ٥٤جوړوي نارینه وو. مرکه کوونکو ډېره برخه یاني ۱٤۰٥۰کسان ٪۳. ۹۰د کلیو څخه وه په داسې حال کې چې پاته مرکه شوي کسان ۱٥۱٦یا ٪۷، ۹دښارونو اوسیدونکي وو.

د جغرافیې د پراخې سره سره د بشر دحقونو سیمه ئیز څارونکي څومحدودویتونه لري، دسیمه ئیز څارونکو له خوا څخه د مرکه کونکو ټاکل په تصادفي توګه نه دي شوي بلکې هغوی د پورته ډلې د زیانمونکي په درجو ټاکل شوي دي. لومړي دغه ټیم د والیانو سره مشورې وکړې ترڅو هغه ولسوالۍ ورته په ګوته کړي چې تر نورو ټولو هغوی د زیانمونکي په درجو ټاکل شوي دي. لومړي دغه ټیم د والیانو سره مشورې وکړې ترڅو هغه ولسوالۍ ورته په ګوته کړي چې تر نورو ټولو هغوی زیانمونکي دي پس له هغه ددغه ولسوالیو د ولسوال سره خبرې وشوې اوتر ې وغوښتل شول چې هغه سیمې ورته په ګوته کړي چې تر نورو سېمو ډېرزیانمونکي دي. په پای کې ټیم هڅه وکړه او هغه څوک یې وټاکل چې ډېې محروم پاتې شوي دي او هغوی د نموني په توګه په کارباندې واچوي. دغه څیړنې په یو وخت کې سرته ونه رسیدلې . هغه معلومات چې د ځینو ولایتونو په اړه باندې وولکه بادغیس، غور،

نورستان ،پکتیکا او زابل د یوې میاشتې په موده کې سره راټول کړل شول. په همدغه وخت کې د جوزجان، غزني، فارياب، ننګرهار، کابل او کندهار ولایتونو معلومات ددغه رپوټ د جوړولو په وخت کې راټول کړي . تر څو د پورته ولایت د اقتصادي او ټولنيزو حقونو په وضعیت باندې پوه شي. دامنیت د نشتوالي له امله د افغانستان د بشرد حقونو خپلواک کمېسیون ټیم د فراه،هلمند،کندهار او زابل په ولایتونو کې دغه کار په نامناسبه توګه د ځینو اوسیدونکو سره مرکې وشوې په نتیجه کې د بشر د حقونو سیمه ئیز څارونکي څانګې مرکې دافغانستان د ټول نفوس نماینده ګي کوي خو ددغه نمونې رپوټ یوازي پر زیانمنونکي ډلې باندې تمرکز کړیدی.

په همدې ډول دبشر د حقونو سیمه ئیز څارنه پر داسې ابزارو طرحه شوې ده چې په هغه کې دیوې کورنۍ ټولیزه کړنې په پام کې نیول شوي دي نه دیوه کس . په ډېرو مواردو کې یوه کس د یوې کورنۍ په نماینده ګي باندې ځواب ورکړی دی خو دیوه کس د وضعیت د څیړلو په اړه ډېر لږ سوالونه شوي دي. نو له همدې کبله نشو کولای چې ځینې اقتصادي او ټولنیز شاخصونه د جنس او یا سن له پلوه سره جلا کړو. پلرونو او میندو د خپلو ماشومانو په نماینده ګي باندې ځواب وایه حتا هغه سوالونه چې د ماشومانو د ښوونې او د هغوی دکار په اړه وو، نو دغه ځوابونه چې د ماشومانو د ښوونځي او دهغوی دکار په اړه وویوازي د هغوی د پلار او مور مفکوره رانښيي.

برسیره پر دې د فصلي بدلونونو له کبله ددغو ابزارو ظرفیت محدود دی. فرضا سوال پاڼه وایي چې اقتصادي او ټولنیزې کړنې د هغوی خدمتونو او سرچینوته لاسرسنه دکال په موده کې ثابته ده په افغانستان کې د ساړه ژمې له امله په ډېرو سیمو کې سخته ده چې د سرچینو او خدمتونو ته دي لاسرسنه وشي او په ډېرو سیمو کې په دې فصل کې اقتصادي فعالیتونه په ټپه دریږي.

برسیره پردې د کیفیت خپلواک شاخصونه د شغل، واده کولو (په زوره واده کول) جبري کار ، د ژوند شرایط او امنیت نه څیړي. دمرکه کوونکو نظر د سوالونو له طریقو څیړل کیږي نه دهغه شاخصونو څخه په ګټه اخیستلو سره کوم چې د پرمختلونکو ټولنو له خوا قبول شوي دي. د مثال په توګه په یوه کوټه کې چې پنځه یا شپږ کسان ژوند کوي په عام ډول په افغانستان ((له حده ډېره ګڼه ګوڼه )) نه شمېرل کیږي، په داسې حال کې چې د روغتیا په کلاسیک تعریف کې دغه څه (۰ له حده ډېره ګڼه ګوڼه ))شمېر شوې ده.

دماشوم د حقونو سیمه ئیزه څارنه چې د هغه څخه د ماشوم دحقونو د څیړلو په توګه کار اخیستل شوي دي د بشر د حقونو د سیمه ئیزي څارنې ملاتړ کوي. ددغه څیړنې مرکه شوي هغه ماشومان دي چې په ځانګړي توګه زیانمنونکي دي . په دغه ماشومانو کې د مرستندویه سازمانونه ماشومان ،کارکوونکي ماشومان او هغه ماشومان دي چې په داسې سیمو کې اوسیږي چې ناوړې پیښې پکې کیږي. دماشوم د حقونو د سیمه ئیز څارنې څخه د ماشومانو دکار او ښوونځیو ته د هغوی د تللو دپاره مالومات تر لاسه شوي دي.

ددغه رپوټ کیفي معلومات دا زمینه برابروي چې د بشر دحقونو د سیمه ئیز څارنې کمیت ښوونه او دماشوم د حقونو سیمه ئیزه څارنه راته روښانه کوي. ډېر کیفي مالومات د اوږدو مرکو د لارې چې په فني ډول جوړې شوي وې دحکومت دنماینده ګانو د ملګرو ملتونو سازمان او دمدني ټولنې د لارې لاس ته راوړل شوي دي. چې په فني ډول جوړي شوې وې حکومت د نماینده ګانو د ملګرو ملتونو سازمان او د مدني ټولنې د لارې لاس ته راوړل شو ي دي. هڅه شوې ده چې هره مسئله ددغو درو خواو څخه وڅیړل شي، که څه هم په ټولو برخو کې دغه څه ممکن نه وه ،د حکومت ډېرو غړو په هغه بحثونو کې مثبته ونډه واخیسته کوم چې د اقتصادي او ټولنیزو حقونو دڅیړلو او دهغه څخه د ملاتړ په باب وي او څه ننګونې په دې لاره کې شته . خوددې تر څنګه ډېر حکومتي کسان مرکو ته حاضر نه شول او دڅیړنې د ټیم څخه یې د خبري کولو دپاره ډډه وکړه . په نورو مواردو کې دیو حکومتي کارمند او د ملګروملتونو سازمان د کارمند تر منځ توپیرنه لیدل کیدۍ دمثال په ډول د حکومت کارمندانو او دملګرو ملتونو سازمان کارکوونکو د دوه کلونو په اوږدو کې پر یوه ناکامه پروژه کار وکړ چې دوی باید د دهغو کسانو دپاره چې د ځمکې د ورکولو وعدې ورسره شوي وې باید د ۲۰۰۸کال په جنوري کې (د ۱۳۸٦کال مرغومي او سلواغه )یې ورکي.

په پای کې ددغه څیړنې د ترتیبولو او تنظیم دپاره د دوه قانوني سندونو او لارښودونو څخه ګټه اخیستل شوي ده د اقتصادي ، ټولنیزو او فرهنګي حقونو نړیوال میثاق ددغه رپوټونه اساسي چوکاټ وو او د افغانستان اساسي قانون د هغه د ملاتړ په توګه وو. د افغانستان دپاره د زرکلونو پرمختیايي هدفونو ۲۰۲۰(۱۳۹۹-۱۳۹۸) او د افغانستان دملي ستراتیژي پرمختیا ،ځانګړي شاخصونه وړاندې کوي ، چې د هغوی په وسیله دحکومت د خدمتونو او پروګرامونو د ارزښت پیداکونې دپاره کار واخلي.

## اړونده موضوعګاني:

ځینې هغه خنډونه چې د اقتصادي، ټولنیزي او فرهنګي حقونو په هکله د هیوادوالو په مخ کې پراته دي.

- د امنیت کړکیچ په ۲۰۰۷او ۲۰۰۸کلونو کې (۸۷-۸٦-۱۳۸۵) او دغه حقونو ته د خلکو نه لارسرسنه او هم یې د خدمت کولو په مخ کې خنډ اچولی دی.
- د مرسته کوونکو هیوادونو لومړیتوبونه د ټولنیزو پرمختیایي زمینه ،ناپوره مرستې ،بیکاره اداره او دقانون دنه پلي کیدل حتا په افغانستان کې لړ لاسرسنه هم دغه حقونو ته نشته ،دغه ستونزې کیدای شي چې د مسجدونو او شوراګانو سره په ګډون کې لاس ته راشي او دغه حقونو ته لاسرسنه اسانه شي.
- دملکیت امنیت د ژوند د پرمختیاو اوښه ژوند سره تړلی دی.
- په پای کې معلولیت ،او جنسیت هغه مسئلې دي چې د اقتصادي اوټولنیزو حقونو د خدمت په لاره کې خنډ ګرځي او هغوی ته داسې خدمتونه نشي کیدلای.

د افغانستان حکومت باید دغو ټولو ستونزوته پاملرنه وکړي تر څو ټول هغه خنډونه چې د اقتصادي اوټولنیز حقونو په مخ کې دي د منځه لیري شي.

## دکار حقونه:



د اقتصادي ،ټولنيزو او فرهنګي حقونو نړيوال ميثاق ٦او ٧ماده او د افغانستان اساسي قانون ٤٨او ٤٩مادې د مناسب کار حق د کارګرانو څخه پوره ملاتړ او دجبري کار منع کول په رسميت پيژني . د ماشومانو کار هم په نړيوال ميثاق او هم په اساسي قانون کې منع شو يدي. د افغانستان قوانين د کارګرانو څخه دملاتړ دپاره ښه زمينه برابروي ،ياني د تبعيض نشتوالي ، ښه رويه او منصفانه معاش،د تقاعد حقونه او روغتيايي او د کار په سيمه کې امن اوسيدل . افغانستان په خپل دوهم دوره يې رپوټ کې دا فغانستان حکومت دټولنيز ملاتړ دپاره قانوني احکام تشريح کړي دي چې په هغه کې دغه موارد شامل دي:

(١) دمعاش ټيټه اندازه (٢) د غذا مصرف مرسته (٣) ليږدول راليږدول (٤) د استوګنځي برابرولومرسته (٥) دکورنۍ او کارمندانو دپاره طبي خدمتونه (٦) د تقاعدې په وخت کې مالي مرسته (٧) د زيږيدو دپاره مرسته (٨) دمړه شوي کارمند کورنۍ دپاره مرسته (٩) د سالمو،ناروغانو ،دمعلوليت لرونکو کسانو اونورو مستحقوکسانو دپاره دتقاعد حقونه کوم چې په قوانينو کې ځانګړي شوي دي. دکار خاوند بايد دغه ټولې مرستې تيارې کړي د تقاعد د حق په ګډون .د روغتيايي خدمتونو پرته څکه چې روغتيايي خدمتونه هيوادوالو ته بيله لګښته ميسره دي چې هغه د تقاعدد سندوخه څخه لګښت اخلي. خو په هر صورت ددغه قوانينو دپاره لږ کارونه شويدي.

حکومت د اقتصادي او ټولنيزي پراختيا دکمزوري دليل پر قوانينو باندې ناتواني بولي . په هر صورت حکومت مسووليت لري چې د نړيوال اقتصادي او ټولنيز او فرهنګي حقونو د ميثاق پر اساس باندې ددغه حقونو د پلي کيدو دپاره بنسټيز ګامونه واخلي .د مثال په توګه که څه هم په افغانستان کې د لږ معاش په هکله حکم راغلی دی،خو په دې برخه کې د لارښوونې کوم معيار او يا ځانګړي ميکانيزم تر اوسه پورې نشته . دکار نظام تر اوسه پورې ملاتړی ميکانيزم نلري او دحکومت له خوا هيڅ ډول دڅارنې وسيله په دې هکله نشته چې دغه څه د اقتصادي ، ټولنيزو او فرهنګي حقونو د کمېټې له خوا څخه هم تائيد شوي دي. د يوه موثره اجرايي ميکانيزم طرح دا غواړي چې د کار د وضعيت د پيدا کولو دپاره په ټول هيواد کې يو منظم مالومات راټول کړو، دمثال په توګه اړين ښکاري چې دغه مالومات راټول کړو.

- د شغل نسبت د نفوس، جنس،ډلو،هدف او ښوونو د سطحې په ډول .
- په غير زراعتي برخو کې د ښځو ګټه وره ونډه اخيستنه .
- په لنډمهاله کارونو کې دکارګرانو شمېر او دهغوی وضعيت (مثلا،غير رسمي کارونه،موسمي کارونه، ديوثابت وخت دپاره کار،او لنډ مهاله کار)
- دزيان راوړونکو کارونو په اړه پوره مالومات او په دغه کارونو کې دکارمندانو شمېر او ډولونه .
- دکار د پلوه ناوړه پيښې او کار له خوا ناروغی.
- په اوږدمهالي کارونو کې د خلکو سلنه %( يوکال اويا اوږده موده ) د جنس ،مهارت او سيمې له پلوه .

د کار د حقونو په برخه کې اساسي مسئلې په غير رسمي اقتصادکې دکار ګرو حقونه ، دماشومانو کار، د مهاجرو کارګرانو حقونه په ځانګړي توګه د جبري کار او د انسان قاچاق شامیلیږي. په رسمي او غير رسمي کارونو کې د ښځو حقونه او د هغوی څخه ملاتړ ځانګړي پاملرنه غواړي . درخصتيو دپاره تدبير يوازي د ميندوارۍ په هکله نيول شوي دی.په دغو پروګرامونوکې د جنسيت د ښه رويي دپاره د کار په سيمه کې فعاله کړنلاره نشته .

## کار اوبي کاري:

په افغانستان کې غير رسمي اقتصاد د پيسو پيداکولو او ژوند پرمخ بيولو دپاره لويه سرچينه ده . د جګړې وروسته وضعه ددې ډول اقتصاد سبب شوي دی. د مخدره توکو له اقتصاد نه پرته ،دغې مسئلې ته د رسيدومسئله نامالومه ده.دغه ډول اقتصاد دوه لويې ستونزې لري، له هغه څخه ماليه نه اخيستل کېږي او دهغوکسانو حقونو چې په غير رسمي اقتصادي برخه کې کارکوي دژورې انديښنې وړي دي.

د اقتصاد پرمختيا د بي کارۍ د راټيټولو سبب ګرځي. د افغانستان دملي ستراټيژي پرمختيا د خصوصي برخو د پراختيا او پر سوداګرۍ باندې ولاړ سيستم ته لومړيتوب ورکوي، خو دغو مسئلو ته چې د غير رسمي اقتصاد په برخه کې د پانګه اچونکو او دکار کونکو مهارتونه لوړکړل شي پاملرنه نه کوي. د ملګرو ملتونو سازمان د پرمختګ پروګرام او د امريکې د متحده ايالتونو د پرمختيا اژانس د کوچنيو پروژو د پراختيا او د منځنيو پروژو پراختيا او خيړلو دپاره هغوی ته مرستې او لارښوونې کوي.

د امنيت ښه والی ،غښتلی اداره،مسلکي کارګران، پور اخيستلو ته لاسرسی ،بريښنا لرل.او دليږدولو ډاډه وسايل لرل د بازار د پرمختيا دپاره ښه شرايط برابروي. په اوس حال کې د افغانستان حکومت نه شي کولای حتا د دغو اړتياوو نيمايي لا وړاندي کړي. افغانستان بايد د خپل کار د قواوو د پراختيا دپاره پانګه اچونه وکي.

درې لسيزې جګړې ددې سبب شوې دي چې د کار قوا د فني اومسلکي مهارتونو څخه بي برخې شي. حکومت د ا اعلام کړي دي چې دولت دکارګرانو د مهارت د لوړولو او استخدام دپاره مرستې کړي دي. ددغه پروګرام د پيل څخه ۱۵۰۰۰زده کوونکو ته په -٤٤- سيمو کې دمسلکي ښوونو دپاره نومونه ثبت کړي دي.[٦]په هر حال داشمير د نفوسو په مقايسه باندې ډېر لږ دی چې و ښوونو ته اړتيا لري. په ليري پرتو سيمو کې دمهارتونو د لوړولو په برخه کې څه مالومات نشته .برسيره پردې په داسې حال کې چې دکار ، ټولنيزو چارو شهيدانو او معلولينو وزارت دمهارتونو د لوړولو دپاره ځانګړی رياست لري خو ددغه رياست د بريالیتوبونو په برخه کې څه مالومات نشته.

دکارګرانو ډېره برخه د خپل کور د ډوډۍ پيداکولو دپاره په غير مسلکي برخو کې په کار بوخت دي . ورځني اجورې اخيستونکي کارګران هغه لويه ډله ده چې د غير رسمي اقتصاد په برخه کې په کارونو بوخت دي ، د بشر د حقوقو سيمه ئيز څارونکي چې د زيانمنونکو کسانو او ډلو په اړه مالومات ټول کړي دي داسي ښيي چې په ښارونو کې ۳٤%نارينه کارګر او په کليو کې ٥٨% نارينه کارګران په غير مسلکي کارونو بوخت دي د ورځني اجورې په اخيستلو سره د خپل کورنۍ له پاره غذا برابروي. هغه شمېرنه چې ډېر خلک د ښار په څلور لارو کې د ورځني اجورې اخيستونکي کار پيدا کولو دپاره کوم چاته انتظار باسي په لاس کي نشته . هيڅوک د هغوی د کار او وضعيت څارنه نه کوي چې د هغوی اجوره څومره ده ، څوساعته کار کوي او دکار خطر يې څومره دی . ددغو کارګرانو دمهارت لوړلو، پراختيا او د کارځای ته د هغوی د ليږدولو دپاره کوم ميکانيزم نشته ،دغه کارګارن تر ډېره ځايه د جبري کار ، قاچاق ، دکار فرما او پوليسو له خوا زيانمنونکي دي . له هغه ځايه چې غير رسمي کار ګران منظم تر تيب ا وسازمان نه لري نو هغوی پرحکومت او يا کومي بلي څانګې باندې د زور اچونې او فشار کومه وسيله نه لري ،دامهمه ده چې د افغانستان حکومت پر دغه بهير باندې څارنه پيل او داسې ميکانيزم جوړ کړي چې د هغه له مخې دوی ددغه ډول کار ګرانو ملاتړ وکړي.

په پرمختلونکو هيوادونو کې چې کوچني رسمي اقتصاد لري د بي کارانو سرشميرنه ګران کار دی. خو شميرنې ښيي،چې په افغانستان کې کې۳۳% دکار وړ کسان بيکاره دي . د ا په داسې حال کې ده چې ددغه مالومات شته د نورو مالوماتو د ګټې اخيستلو په خاطر ممکن نه ښکاري . د دغه دوو اصلي پروګرامونه پرته چې د کار د ملاتړ دپاره شته ( دمسلکي مهارتونو ښوونې د ګټې اخيستلو په خاطر ممکن نه ښکاري . ددغه دوو اصلي پروګرامونه پرته چې دکار دملاتړ دپاره شته ( دمسلکي

---

[٦]- دبهرنيو چارو وزارت ۲۰۰۸کال (۸۷-۱۳۸٦) د افغانستان دوهم دوره يي رپوټ د اقتصادي او ټولنيزو حقونو کميټې ته .

مهارتونو ښوونې او دنړیوالو مرستو څخه دکار په مقابل کې غـذا) کـوم بـل داسـې پروګرام نشـته چـې دکار ملاتړ وکي . د بشر د حقونو سیمه ئیزځارنه د بي کاریو شـمیر ټیټ ښیي ، د هغو شـمېر دغه رقـم په ښـارونو او کلیو کې ٢٢%وايي. د بي کاره ښځو شـمیر په ښـارونو کې٥٤٥او کلیو کې ٦٢% راښـیي ، لازم بريښـي چې ددغه شـمير په پوهیدو سره د هغوی شـغل د هغـوی موقعیـت او جنسـیت پـه هکلـه بحث وکړو. د مرکه کوونکو هیله مندي د بشر د حقونو د سیمه ئیزو څارونکو پـه سـوال او ځـواب کـې دا ډول څرګنده شوې ده .

د هغوی د هیلو څخه یوه داوه چې د افغانستان دملي ستراتیژي د پراختیا په برخه کـې دي کوچنیـو او منځنیو شخصي شغلونو ته لومړیتوب ورکړل شي.د ښـاري نارینـه کارګـارنو پـه مـنځ کـې مـو سـمي بدلونونه دا ښیي چې پر درو اساسـي صـنعتونو بانـدې تمرکـز کـوي. ځانتـه کـار کـول ، ثابـت شـغل ، او ورځنی اجوره اخیستونکي کـار ، د پیسـو پیـداکولو لـومړی سـرچینه (( د ځانتـه ثابـت شـغل )) پـه نـوم ٤٤%(نارینه کارګران) دي چې په نانوايي ،نجاري ،پښګري ، او دکانونه دي چې نور داسـې کارونـه هـم پکې شـامل دي.

دکـار دوهمـه لویـه سـرچینه (( ورځنـي اجـوره اخیسـتونکي غیـر مسـلکي)) کارونـه دي چـې ٣٤% جوړوي ، هغوی هغه کسان دي چې د جوړولو په کسب اخته وي او د ښار په څلور لارو کې ولاړ وي تـر څو یو څوک راشـي اوکار ګر ته ضرورت ولري.

دریمه لویه سرچینه ((ثابـت شـغل )) دی چـې پـه هغـه کـې د حکومـت او نـورو موسسـو کارمنـدان شـامل دي. د ښار ډېر لږ اوسیدونکو دا وویل چې دوی پـه سـارا کـې مځکـې یـا جایدادونـه لـري. دغـه کسان خپل وخت د ښار او سارا دکارونو تـر مـنځ ویشـي. دبـي کـاری سـطحه دا راښـیي چـې د ثـابتو صنایعو دکمبودی له امله د خلکو د پیدا کولو چانس ډېر لږ دی .د بي کارانو له ډلې څخه ٣٣% یې خپـل ځاني کارونه لري. دوهمه ډله یې چې په ښـارونو کې په نورونومونو د بـې کـارانو ډلـه جـوړوي ٣١%دي داهغه ډله ده چې د کلیو څخه ښارونو ته راغلي دي اوتر اوسه پورې لا په کـار پسـې ګرځـي او دریمـه ډله هغه کسان دي چې تر بي کارۍ ترمخه یې په ښارونو کې ثابت شغلونه لرله.

د ښځو د ډلې د بي کارانو د شمیر پوهیدل ستونزمن دي ، ځکه په کورونو کې دننه کار د شـغل پـه توګه نه دي پیژندل شوي ،د ښځوکارونه دکورنیو د اقتصاد د سرچینو دپاره مرسته کوي، نوله دې سـببه دا ګټوره ده چې د ښځو وکارونو ته پاملرنه وشي، ځکه دکورونو دکار تر څنګه د ښځو کارونوته وکورنوتـه اضافي مرستې راوړي . د ښار اوسیدونکو ښځو څخه تقریبا٤٥% یې ویلي دي چې دوی کـار کـوي . د هغوی دکار ډول او سطحه د نارینه وو دکار سره ورته والي لري % ٣٧ ښځو ویـل دوی شخصـي کارونـه لري ٢٣% ورځني اجوره اخیستونکي او غیر مسلکي کارونه او ٢٢% یې پـه ثابـت شـغل بانـدې بوخـت دي دغه روښانه کوي چې په ښارونو کې د ښځو دپاره کار نشته ځکه په ښـارونو کـې ښـځو دا ویلـي دي چې دکلیو د ښځو په پرتله دلته ٢٥% ډېرې ښځې کارکوي چې د دوي کار دکور په اقتصاد مرسـته کوي.

په کلیو کې کار کول ددې دپاره دي چې هغوی ژوندی پاتي شـي (لومړی شـکل) په کلیو کـې ٨٠% نارینه وو ویلي دي چې دوی په یو ډول کار باندې بوخت دي: ٣٧% ورځنـي اجـوره اخیسـتونکي کارونـه ٣٠% بیا په خپلو ځمکو باندې کارونـه کـوي او ٢٠% نـور بیـا د نـورو پـر ځمکـو بانـدې کـار کـوي . کلیـوال کارکوونکي هم په زراعتي او هم په غیر زراعتي برخو کـې کـار کـوي او لـه دغـو لارو څخـه خپـل د ژونـد اړتیاوي برابروي یاني د زراعتي سکتور په څنګ کې هلته د غیر زراعتي برخو کـې کـار کـوي او لـه دغـو لارو څخه خپل د ژوند اړتیاوي برابروي یاني د زراعتي سـکتور په څنګ کـې هلتـه د غیـري زراعتـي لارې هم شته ،په ښـارونو کې ٥٨% په ورځني اجوره اخیستونکي او غیر مسلکي کارونو ١٨% په ثابتوځانته کار کولو شغل او ١٣% په ثابتو شغلو نو باندې بوخت دي ښځې دکار په برخه کې دکار کولـو پـه سـبب باندې په لږ شـمیر په زرا عتي کارونو باندې بوخت دي ، خو ددې تر څنګه د کښت ټولولو په وخـت کـې د ښځو کارته ډېره اړتیاوي نو دوی د نارینه وو سره د زراعت په برخنو کې کارکوي . نارینه خپل وخت پـه دوه برخو ویشـي چې یوه برخه یې زراعت ته او بله برخه یې نورو سرچینو تـه چمتـو کـې چـې پـه کـوم موسـم کې چې په زراعت کې کارنه وي دوی به نور کارونه کوي . په زراعتي برخو کې دنارینـه وو سـره د ښځو مرسته د زراعتي ثمر ډېروي دغه خه روښانه کوي چې د کلیو ډېره برخه په غیـر زراعتـي برخـو کې هم کارکوي چې خپل ژوند پر مخ بوزي ، دغه لاس ته راغلي مالوماتونه د هغه مالوماتونو سره ورته دي کوم چې دملي ارزوني او زیانمنونکي خطر (NRVA) له خوآ په ٢٠٠٥کـال کـې (١٣٨٣-٨٤) تـر سـره شـوي وي . په کلیو کې ډېر کسان یوازې زراعت په کارسره خپل ژوند پـر مـخ نشـي بیـولای نـو ځکـه د هغه په څنګ ک نور کارونه هم کوي .

د بشر د حقونو د سیمه ئیز څارونکو دکلیو دمرکه کوونکو موسمي کارونه.




په دې څه نظر کې نیولو سره چې د افغانانو لویه برخه په کلیو کې ژوند کوي،نو د زراعت پرمختیا د افغانستان د ستراتیژي د بنسټیز اساس په توګه وپیژندل شي، له دې سره سره د ۲۰۰۱ کال را وروسته (۱۳۸۰-۱۳۷۹) د زراعت په برخه کې یوازي ۳% هغه مالي مرسته ترلاسه کړه کوم چې د هیواد د پرمختیا دپاره ځانګړي شوي وې، یا په بله ژبه د هغه -۱۵- ملیارده ډالرو مرستې چې د افغانستان دپاره راټولې شوي وې په دې برخه کې ویوازي پنځه سوه میلونه ډالره لګیدلي دي.[7] د کلیوالو د ژوند د سطحې لوړولو دپاره دولت باید زراعت ته د لومړیتوب حق ورکړي. ددې دپاره چې د کلیو اوسیدونکي وکولای شي چې د لږ تر لږه دکال په اوږدو کې وکولای شي د خپل پایښت دپاره د اړتیا وړ خواړه ترلاسه کړي نولازم بریښي چې د اوبو لګولو سیستم یې اصلاح کړل شي او د زراعت کارکوونکو ته راپور ورکولو اسانتیاوي برابري کړل شي او داسې تخمونه ورکړل شي چې کیفیت یې ښه وي . او حکومت باید داوبو رسولو سیستم د اوبو کانالونه اوکاریزونه بیا جوړ کړي او په دې ډول د اوبو دبیخایه تللو مخه ونیسي.

دافغانستان دزراعت او خوړو درئیس په قول چې افغانستان یوازي د خپلو اوبو د۳۰% ټولو زیرمو څخه ګټه ترلاسه کوي د اوبو دسیستم د بیا جوړولو په صورت کې به خواړو دډېرولو سره لویه مرسته شوې وي ځکه چې د للمي کښت په پرتله د اوبو کښت دوه برابره حاصل ورکوي. دمثال په توګه په هلمند اوهرات کې په ۲۰۰۸ کال کې (۸۷-۱۳۸۶) دیوه هکتار مځکې څخه د ۷ څخه تر ۸ټنو پورې غنم اخیستل شوي دي. په داسې حال کې چې په للمي مځکو کې دغه اندازه ۱،۵ ټنه وه . د خواړو او زراعت د سازمان د فعالیت راپه دې خوا په افغانستان کې لږ تر لږه ۵۰۰۰۰۰هکتاره مځکه تر اوبو لاندې راغلي ده چې په دې برخه کې ۱۰۰۰۰۰ هکتاره مځکه نوي تر اوبو لاندې راغلي ده ، خو په دې هیواد کې ۵۰۰۰۰۰ هکتاره نوره مځکه هم تر اوبو لاندې سیستم سره اوبیږي.

په ټول کې تقریبا -۷۵- میلونه ډالره یوازي د اوبو د بیا جوړولو په سیستم باندې لګیدلي دي او -۲۸- میلونه ډالره نور په دې برخه کې پانګه اچونه شوې ده . نو ویلای شو چې په دې برخه کې د نورو په پرتله لږي پیسې لګیدلي دي، په همدې ډول نوره پاملرنه اړینه ښکاري تر څو د بزګرانو سره مرستې وشي تر څو په دغه برخه کې پرمختیاوي راشي ، و پورونو ته لاسرسنه ستونزمنه ده ، اوکله چې تش لاسي بزرګران د تریاکو د کرلو دپاره پور غواړي نو تردې اسانه ورته ورکول کیږي کوم چې د غنمو د کرلو دپاره یې غواړي نو تر دې اسانه ورته ورکول کیږي کوم چې د غنمو دکرلو دپاره یې غواړي.[8]

## جبري کار او قاچاق :

دانسان قاچاق یوه حساسه موضوع ده چې د هغه څیړنې دپاره او په افغانستان کې د هغه د مخنیوي دپاره لږ کار شوي دی. د مهاجرت د نړیوال سازمان په وینا په ټوله نړۍ کې د انسانانو قاچاق د جنسي ګټو اخیستونو په مانا باندې کیږي او دغه څه بیا د قربانیانو پیژندنه ستونزمنه کړیده .پورته سازمان یادونه کړې ده چې لږ تر لږه -۱۳۰- قضیې د انساني قاچاق په برخه کې دوی ثبت کړیدي (د ۲۰۰۶کال د جنوري څخه بیا د ۲۰۰۶کال د جنوري څخه بیا د ۲۰۰۸ترمارچ پورې )د ۱۳۸٤کال د مرغومي څخه بیا د ۱۳۸۷کال تر اوږې پورې په هر کال کې -٦٥- پیښې . ددغو پیښو ډیرې برخې ( تر۹۰%ډېرې) یې هغه ښځې دي چې د جنسي ګټو اخیستونو دپاره افغانستان ته قاچاق شوي دي.

---

۷- ماټ والدمن(matt wadman ) ۲۰۰۸(۱۳۸۸-۱۳۸۷)لاس لنډي: په افغانستان د مرستو ګټورتوب (ACBAR) او اکسفام.

۸_ ډیوډ منزفیلډ (David Mansfield) او ادم پین (Adam pain) ۲۰۰۷(۱۳۸٦-۱۳۸۵) پر شواهدو باندې د کنټرولارۍ طرح په افغانستان کې د خشخاشو د کرنو بد لونکي طرح د افغانستان د څیړنو واحده ارزښت یابي AREU

دنړیوال مهاجرت دسازمان په وینا په هم اوس وخت کې خلور ښځې دکابل د پلچرخي په زندان کې بندیاني دي چې د هغوی جرم د عفت خرخوني کار وبار وو، خو داسخت ده چې ووایو چې ایا دغه ښځې په خپله خوښه باندې دغه کار ته حاضري شوي وې او یا خو قاچاق شوي وې.؟

د جنسي ګټې اخیستني موضوع منعه شوې ده او دهغه ډېر قربانیان نه پیژندل کېږي ، د مثال په توګه د ښځو چارو وزارت یوې کارمندي وویل چې جنسي ناوړه ګټه اخیستنه او قاچاق په افغانستان کې په کښته سطحه کې ده . دغه څه د احتمال څخه لرې بریښي ، څکه په سهیلي اسیاکې جنسي بریدونه هغه وسیلي دي چې د جګړې سببونه جوړوي. د هندوستان د خپلواکي او جدایي په وخت کې -۱۹٤۷- [9] اوبیا د بنګله دیش د جوړیدو په دوران کې -۱۹۷۱-[10] جنسي بریدونه د جګړې د سببونو په توګه پیژندل شوي دي. که څه هم دا دښمني ډېرکلونه مخکې شوي وې، خو د هغه ناوړه پیښې په ۲۰-۱۰ کلونو کې راپیدا شوې او ددغه څه څرګندوي دي. ډېر څله داثبوت شوې ده چې دغه ډول بریدونه په ځانګړي توګه هغه وخت پیلیږي چې حکومت د مخالفتونو سره مخامخ کېږي او دهغه واک محدود وي [11] د افغانستان د حکومت له پاره دغه څه هم اوس او هم په -۳۰- کلونو کې وجود لاره. که څه هم جنسي تاوتریخوالی په افغانستان کې ډېر څله د خبرو اترو سره سروکار نه لري، خو په عمل کې دغه څه د پراختیا او دهغه د مخنیوي دپاره لازم فعالیتونه تر سره شي.

افغانستان د قاچاق او جبري کار له پاره مساعد ځای دی. دغه هیواد خلاصي پولې او ډېر فقر لري او د قاچاق د مخنیوي دپاره کوم ګټور میکانیزم نه لري،جبري ودونه ،په لږ سن کې واده کول ، کورني تاوتریخوالی او دماشوم سره ناوړه کړنې رواج لري. دغه ټول شیان یو اوبل ته لاس سره ورکوي او دانسان د قاچاق دپاره زمینه برابروي.[12] د قاچاق هغه رپوټ چې د امریکې متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت له خوا ترتیب شو ي دي- هغو افغانستان ته په دوهمه سطحه ځای ورکوي، چې د انسان د قاچاق ډېرې پیښې رابښیي او دهغه سره د مبارزې دحل لاره هم نشته [13] هغه تدبیرونه چې اوس نیول شوي دي هغه دوه ځانګې لري چې یوه یې په داخله وزارت کې دماشومانو د قاچاقو سره د مبارزي کمیټه او د قاچاق او غلا سره دمبارزي کمیټه چې د تصویب په حال کې ده چې د هغه پشتوانه د جمهوري ریاست فرمان دی خو نور څه په دې لاره کې نشته .

## *له ایران څخه دکارګرو کډوالو را شړل*

په ایران کې په تخمیني ډول یو میلون افغانان چې سندونه په لاس کې نه لري او ډېر یې د مهاجرو کارګرانو په ډول اوبا هم د قاچاق په ډول هلته تللي اوبا بیول شوي دي ،داچې په یوشمیر انسانان د قاچاق په ډول بیول شوي دي او په ډېر ناوړه او ضد انساني شرایطو کې کار کوي لا معلوم نه دي. په هغه څیړنه کې چې د التای دمشاورتي سازمان له خوا Altai consulting تر سره شوې ده نو ٤۰% د پولو څخه راشړلو کسانو دا ویلي دي چې دوی په ډېر سختو شرایطو کې کار کاوه،او ۳% یې ویلي دي چې دوی ته قاچاقبرانو کار پیداکړی دی.[14] نو له دې سببه مهاجران هلته په زیانمونکي شرایطو او سیري څکه دوی داسې حالت کې اوسیږي چې کیدای شي د هغوی نه ناوړه ګټه واخیستل شي . ٦۰% خلک په خپلو سیمو کې دکار د نه لرلو په سبب او یا هم د پور له امله و ایران ته مهاجر شوي دي، د هغوی څخه ځینو یې ویلي دي چې د هغوی نه ناوړه ګټه اخیستل کیده لږ معاش دکار دوخت اوږدوالی او دخطره څخه ډک کارونه.

کارګرو مهاجرو ډېرې سختي تجربې کړیدي په ۲۰۰۳ کال کې دایران حکومت (۱۳۸۲-۱۳۸۱) د هغو افغانانو د ایستلو کار پیل کړ کوم چې دکار اجازه پاڼه ورسره نه وه ، دغه هیواد پر هغه کار فرمایانو باندې درنې جریمې او جزاګاني وټاکلي کوم چې اجازه نه لرونکي افغانانوته کار وکړي . دغه اندیښنه په ۲۰۰۸ کال کې (۱۳۸٦-۱۳۸۵) نوره هم ډېره شوه څکه د ایران حکومت هوډ کړی و چې ټوله هغه افغانان چې د کار اجازه پاڼې ونه لري له ایران څخه وباسي، په نتیجه کې د ۲۰۰۷او ۲۰۰۸کلونو په ډېر ساړه ژمي کې (۸۷-۸٦-۱۳۸۵)د ۳٦۰۰۰۰ په شاوخوا کې افغانان د ایران څخه وایستل شول. د ۲۰۰۷ کال په اکتوبر (د۱۳۸٦کال تله او لړم ) رایستل شوي کسانو سره د اسلام کلا په زرنج کې مرکې کړیدي. له هغوی څخه ۸۰% یې ویلي دي چې د دوی سره په ایران کې ډېره ناوړه چلند شوي دی او

---

[9] ویناداس (Veena das) (۲۰۰۷) ۸٦-۱۳۸۵ د لغاتونو ژوند، تاووتریخوالی ،بارکلي: دکالیفورنیا پوهنتون خپرونه.

[10]-سوزان براونمیر www.drishtipat.org1971wars.suasanhtm

[11]- رابرت هیډن (Rabert Haydon) ۲۰۰۰-۷۹-۱۳۷۸) جنسي بریدونه او دهغوی مخنیوي په قومي جګړو کې ، جنسي تاوتریخوالی په کوچني دولتونو کې . د انسان پیژندني امریکایي خپرونه .۱۰۲ جلد.

[12] دمهاجرت نړیوال سازمان ۲۰۰۸.په افغانستان کې قاچاق .سیمه ئیزي څیړني.

[13]- د امریکا د متحدو ایالتونو د بهر نیو چارو وزارت ۲۰۰٤ دانسان د قاچاق واقعیتونه.

[14] -د التای مشاورتي سازمان ۲۰۰۸(۱۳۸۷-۱۳۸٦) د ایران د پولو څخه د مهاجرو افغانانو راشړلو څیړنه .

هغوی مجبوره کړل شوي دي چې د پولو څخه د رایستلو لګښت هم د مهاجرو پر غاړه واچوي. دبشر دحقونو دڅارنې ډله ته دا روښانه شوه چې د افغانانو ډېره برخه له دې نه ناخبره وه چې دوی د ایران څخه ایستل کېږي . هغوی یې د کوره ، دکار دځایه او یاهم د سړک څخه نیول شوي وه اوبیا له پولو څخه را ایستل شوي وه.۸۱% مهاجر افغانان د محکمې د حکم د صادرید و څخه پرته د پولو څخه را ایستل شوي وه نوله دې کبله د دوی بشري حق تر پښو لاندې شوی دی او ایراني واکمنانو د ۶۰% افغانانو سره ناوړه چلند کړی دی. که څه هم دغه افغانان کوم سند په لاس کې نه لري چې باید په ایران کې واوسیږي ، خو ددې سره سره دهغوی بیرته راایستل باید د نړیوالو بشردوستانه معیارونوسره سم وي .یوه بله ستونزه داده چې ډېرو افغانانو د ځان سره خپلې کورنۍ هلته بیولي دي اویا هم ځینو افغانانو دایران نجونو سره واده کړیدي او اوس اولادونه لري ،نو داسې بیړنۍ پریکړې چې هغوی باید دپولو څخه وایستل شي په واقعیت کې د کورنیو د جلا کیدو سبب کېږي.

(( دنوامبر په میاشت کې د۲۰۰۷کال دیکشنبې په ورځ (د ۱۳۸٦کال لیندۍ ) یو افغان چې خلیل نومیدی او -۲۳-کلن وو دخپل کار د ځای څخه د اراک په ولسوالۍ کې ونیول شو او دورامین بندیخانې ته لیږل شوی وو. ددې خبر په اوریدو سره دهغه میرمن او دهغه ماشوم د یوه ګاونډي سره وبندي خانې ته راوان شول او ځلو ورځې وروستي هغوی و بندي خانې ته ورسیدل ، د بندې خانې څخه سمدستي خلیل، د هغه میرمن او دهغه زوی د پولې څخه راویستل شول او هغوی ته اجازه ورنکړل شول چې خپله پنځه کلنه لو رچې په کلي کې پاته وه د ځانه سره بوزي او ددوی پنځه کلنه لور اوس د خپل ایراني ګاوندي په کور کې اوسیږي خو د خلیل کورنۍ هیله لري چې د خپل لور دلاس ته راوستلو دپاره بیرته ایران ته ولاړشي))

## دماشومانو کار:

دماشومانو کار دنړیوال اقتصادي ،ټولنیز او فرهنګي حقونو میثاق په -۱۰- ماده کې او دماشومانو د حقونو -۳۲- ماده او د افغانستان د اساسي قانون په -٤۹- ماده کې منع شوي دی. دا په دې مانا ده چې دماشومانو د حقونو ملاتړ حکم کوي چې په اقتصادي برخو کې د هغوی دکار څخه باید ګټې تر لاسه نه شي او دولت دنده لري چې ماشومان او دهغوی کورنې چې زیانمنونکي دي دهغوي ملاتړ وکي تر څو هغو کارونو ته مجبوره نشي.دکار قانون چې په ۲۰۰۷کال کې تصویب شو(۸٦-۱۳۸۵) ۱۳- ماده یې حکم کوي چې د هغو کسانو استخدامول اجازه لري چې د -۱۸- کلونو څخه یې سن ډېر وي . خو ددې سره سره د قانون حکم دا اجازه ورکوي چې -۱۵-ماشومان د سپک کار د کولو اجازه لري او -١٤- کلن ماشومان کولای شي چې د استادانو سره د شاګرد په توګه کار وکړي. د افغانستان دکار قانون په روښانه توګه وایي (( دهغو کسانو استخدامول چې سن یې -۱۸- کلونو څخه لږ وي و داسې کارته چې هغوی ته مضر تمام شي اویا دهغه د جسمي معلولیت سبب وګرځي منع دی)) دا چې څرنګه کار وماشوم ته فزیکي ضرر رسوي د ماشوم په سن دکار په ساعتونو او دکار په ډول پورې تړلی دی . هیڅ یو ماشوم ته چې سن یې د ۱۸کلونو څخه لږ وي باید د په اونۍ کې له -۳۵- ساعتونو کارڅخه ډېر نه وي. خو دماشوم کار هغه کارته ویل کېږي چې یو ماشوم په ښاري سیموکې دکار په مقابل کې اجوره واخلي . په کښت او کورنۍ شغلونو کې د ماشومانو کارونه معمولا مضر نه وي د دغه ریوټ شمیرنه دماشوم کار وهغه کارته وایي چې دخپل کورنه بهر هغه کار وکړي نو ځکه دماشومانو دکار شاخص وهر کار ته نه ویل کېږي.

په افغانستان کې دماشومانو کار معمول دی هغه بیړنۍ ارزونه چې دماشومانو دکار په برخه کې دکابل په ښار کې تر سره شوه دابښيي چې په سلو کې ۲۵% ماشومان د ۷کلنی څخه تر -١٤- پوري په کارونو بوخت دي [15] دکار موده د اونۍ دټاکلي مودې څخه اوږي [16] ډېر ماشومان په خطر لرونکو سیموکې کارکوي. د کار ساعتونه اوږده اوسیمه یې بده وي ( مثلا هغوی د بدو کړنو او د جسمي او روغتیایي خطرونو سره مخامخ وي) یاني چټل محیط او خطر ناکه دکار وسایل . دکار سببونه هم اقتصادي وي او هم هغوی غواړي چې د اوږدې مودې کارکولو په دوران کې نوي مهارتونه زده کړي .[17]

---

[15] -د التای مشاورتي سازمان ۲۰۰۸کال . په کابل کې دماشومانو دکار بیړني ارزونه . دکار نړیوال سازمان IPEC

[16] -پایو لاکانټور paula kantor او اناستاسیا هوزویانوا۲۰۰۸کال دماشومانو دکار څخه د ګټې اخیستلو په اړه سببونه اوهوډونه . په کابل کې د فقیرو کورنیو په اړه لوستنه ،دافغانستان څېړنې او ارزوني ځانګه. پامیلاهونټ Pamela hunte او اناستاسیا هوزویانوا anastasiya hozoyanova (۲۰۰۸) ۸۷-۱۳۸٦- دبدخشان د فقیرو کورنیو په اړه لوستنه د افغانستان د څېړنې او ارزیابي ځانګه .
د التای مشورتي سازمان (۲۰۰۸) په کابل کې دماشومانو دکار بهاړه بیړني ارزونه . دکارنړیوال سازمان IPEC

[17] -پایو لا کانټور paula kantor او اناستا سیا هوزو ویانوا anastasiya hozoyanova ۲۰۰۸کال دماشومانو دکارڅخه د ګټې اخیستلو سببونه او اثرونه.

په ډېرو مواردو کې که کار خطر هم ولري نو بیاهم پلرونه او زامن یې کارته په مثبته توګه ګوري . په اوس حال کې دکار دکمښت دپاره کوم میکانیزم نشته یوازي د ځینو غیري دولتي سازمانونو له خوا ځیني تدبیرونه نیول شو یدي چې د ماشومانو دکار په هکله ځیني مسئلي تر څېړنو لاندې نیول شوي دي. دافغانستان د ملي ستراتیژي په پراختیا کې یوازي داسې حکمونه راغلي دي چې د ماشومانو دکار دکمښت دپاره د خلکو د پوهاوي سطحه لوړه کړي.

په افغانستان کې دماشومانو کار په دې خاطر چې د فقیرو کورنیو د کمزوري اقتصاد دپاره مرسته کوي معمولا دهغه د ارزوني دپاره هڅې نکیږي . یو بل استدلال هم دادی چې د ښوونځیو کمبودي او د کورنیو د پورونو له امله کورنی دماشومانو پر کارونو باندې متکي دي . خو د بشر د حقونو د سیمه ئیزو څارونو له خوا چې مالوماتونه ترلاسه شوي دي. نه د ښوونځیو کمبودي اونه هم دکورنیو پور ددې سبب شوي دي چې ماشومان دي په کار وګمارل شي. فقر او پور په افغانستان کې یو ټولنیز شاخص ګڼل کېږي نو دماشومانو دکارونو سره څه اړیکي نلري ،خو د پورورو کورنیو دماشومانو کار دنورو کورنیو په پرتله ډېر دي د څېړنو څخه دا څرګنده شوه چې په ښارونو او کلیو کې دماشومانو کارونه ورته والی لري ،څکه چې په دغه دواړو سیمو کې %۳٦مرکه کوونکو ویلي دي چې د دوی د -۱۵- نه کښته سن ماشومان کارونه کوي.

یوه پایله چې په کابل کې دماشومانو دکار کیفي لوستنه د هغه ملاتړ کوي، دادی چې د پلرونو اومیندو هیله مندي ښـــیي چې ماشومان یې کار وکړي چې دغه سبب د ټولو لوړو سببونو څخه ټاکوونکي وو[18]

## وړاندیزونه:

دکار دحقونو د ملاتړ په اړه او دغه ستونزوته درسیدو دپاره لازم دي چې د افغانستان حکومت په دې برخه کې موثره کړنې او څارني تر لاس لاندې ونیسي او هغو کسانو دپاره دمهارت لوړولو زمینه برابره کړي کوم چې د غیر رسمي اقتصاد په برخه کې کارکوي او داسي طرح جوړه کړي چې هغه ته رسمي بڼه ورکړي ، د غیر رسمي کارګرانو د ملاتړ پروګرام جوړ کړي دکار قانون په ځانګړي توګه دماشومانو دکار په اړه ۱۸۳ شمیره کنوانسیون چې دکار د نړیوال سازمان له خوا د لږ تر لږه سن دکار دپاره په ۱۹۷۳ کال کې (۱۳۵۲-۱۳۵۱) او ۱۸۳ شمیره کنوانسیون دکار د نړیوال سازمان له خوا د کارونو ډېر بدشکل په ۱۹۹۹( ۱۳۷۸-۱۳۷۷) او ۲۹ شمیره کنوانسیون چې دکار دنړیوال سازمان له خوا د جبري کارونو په برخه کې په ۱۹۳۰کال کې (۱۳۷۸-۱۳۰۸) تر اجرا لاندې ونیسي او د قاچاق د مخنیوي پر ضد تدبیرونه ونیسي او د قانون د اجرا دپاره مسئوله او ملاتړې څانګه او د څارني یو سیستم جوړ کړي.

د حکومت څخه غوښتنه کېږي چې د تیر کال د غوښتن پاڼې سره چې د ایران د حکومت په نوم خپره شوې وه چې د مهاجرو افغانانو د بشري حقونو رعایت وکړي، په ځانګړي توګه هغه افغانان چې کوم سند په لاس کې نه لري ، دایران حکومت سره دوه اړخیزه کمیسیون جوړ کړي او په دې اړه دهغه حکومت سره خبري اترې پیل کړي او داسي یو پروګرام پیداکي چې د دواړو پلو موافقه پکي وي.

په رسمي اقتصاد کې د ښځو د رابللو دپاره ښي کړنلاې رامنځ کړي ترڅو په کارونو کې د جنسیت تشویق پکي څرګندوي لکه د زیږولو دپاره اسانتیاوي، د جنسي ازار په مقابل کې ددوي ساتنه ،دکار په قانون کې د جنسیت د عمل ټولنیزه کول طرح شي . همدارنګه لازمه ده چې حکومت داسې پروګرامونه ترلاس لاندې ونیسي، چې په هغه کې د ټولو پوهاوي د جنسي ازار ،قاچاق جبري کارونه او نامنظمو مهاجرتونو پایلې په برخه کې لوړه کړي او دغه پروګرام تطبیق کړي.

کمیسیون د حکومت هغه پروګرام ستایي کوم چې په هغه کې د امنظمو مهاجرتونو پایلې په اړه پوهاوی ورکوي او د افغانستان حکومت دي ته تشویقوي چې دغه پروګرام دي تل دمالي او معنوي مرستو له پلوه ملاتړي کړي.

د افغانستان د ملي ستراتیژي د پراختیا دلومړیتوبونو له مخې د کلیو د پراختیا په برخه کې د افغانستان د حکومت څخه هیله کېږي تر څو ددغه پروګرام دپاره لازمه زمینه برابره کړي.

---

پامیلا هونټ Pamela hunte او اناستاسیا هوزویانوا anastasiya hozoyanova ۲۰۰۸ دماشومانو کار په بدخشان کې د فقیروکورنیو په اړه لوستي د افغانستان د څېړني او ارزوني څانګه .
د التای د مشاوري سازمان . ۲۰۰۸کال په کابل کې دماشومانو بېړني ارزونه . دار نړیوال سازمان IPEC
[18]- پایولا کانټور paula kantor او اناستاسیا هوزیانوا anastasiya hozoyanova ۲۰۰۸کال د ماشومانو دکار سببونه او دهغه نه ګټه اخیستل . په کابل کې د فقیرو کورنیو لوستنه . د افغانستان د څېړني د ارزوني څانګه .

دکليو د اوسيدونکو دپاره په زراعتي برخو کې دهغوی اړتياو ي ته پاملرنه وکړي په همدې توګه د نړيوالو سازمانونو خخه هيله کېږي تر څو د افغانستان د حکومت سره د ملي ستراتيژي د پراختيا دپاره په ځانګړي توګه د زراعت په برخه کې مرسته وکړ ي.

که څه هم د افغانستان د بشر دحقونو خپلواک کمېسيون د نړيوالي ټولنې د هم غږي هڅې تائيدوي ، خو کميسيون غوښتنه کوي چې د افغانستان د ملي ستراتيژي د پراختيا دهم غږي دپاره ميکانيزمونه جوړ کړ ي. هغه ميکانيزمونه چې ددغه ستراتيژي پر اساس جوړ شوي دي نو دنړيوالي ټولنې څخه هيله کېږي چې د کليوالو دمهارتونو د لوړوول دپاره موثره هم غږي په سيمه ئيزه کچه باندې برابري کړي .

# ټولنيز امنيت او دزيانمنونکو امنيت



د افغانستان د اساسي قانون په ۷ماد کې د افغانستان د اوسيدونکو ټولنيز امنيت او دزيانمنني په وړاندي د هغوی ملاتړ تسجيل شو ی‌دی او د بشر د حقونو د -۲۵- مادې پر اساس (UDHR) هر څوک حق لري چې د ژوند مناسبه سطحه د خپل ځان او کورنۍ د روغيتا او هوسايي دپاره ولري چې په هغه کې خواړه ،جامې ،استوګنځي ،طبي څارنه او ټولنيز لازمه خدمتونه د بي کاري په وخت کې د ناروغي په وخت کې د معلوليت ،کونډتوب ،زړښت او دژوند د اړتياوو دنه لرلو په صورت کې دهغه څخه برخمن واوسي. همدارنګه د اقتصادي ،ټولنيزو او فرهنګي حقونو نړيوال ميثاق په -۹- ماده کې د خلکو ټولنيز امنيت او ټولنيزه بيمه د هغوی د حق په توګه پيژندل شوي دي . دغه حق د انساني کرامت د ضمانت په توګه هغه وخت د خطر سره مخامخ کېږي چې خلک په داسې حالت کې واوسيږي چې د پورته ميثاق د حقونو څخه بي برخي پاته شي.[19] ددغه حق دنده په معمول ډول د زيانمنوني په حالت کې د ټولنيزي بيمې څخه ملاتړدی تر څو خلک زيانمن نشي هغه خدمتونه چې ددغه حق په لرلو سره بايد ترسره شي بايد په کافي اندازه وي او بيله تبعيض څخه د ټولو په خدمت کې وي [20]

دافغانستان د اساسي قانون په ۵۳ ماده کې د بي سرپرسته کورنيو معلوليت لرونکو کسانو دحکومت پخواني کارکوونکي زړوکسانو، بي سرپرسته ښځو او يتيمانو سره دمالي مرستو حق تضمينوي .

دافغانستان د پراختيا ملي ستراتيژي هم د ټولنيز امنيت او دټولنيزي بيمې سيستم هڅه کوي، چې د زيانمنو نکو دپاره مرستې وکړي چې د ژوند پر ستونزو بريالي شي. زيانمنونکي وضعه داسي تعريف شوې ده چې يو کس د بهرني بدلون په وړاندي د ضرر سر مخامخ شي او دهغه اقتصادي او ټولنيزه وضع کړکيچنه کړي . ټولنيز امنيت دغه زمينه برابروي چې دغه شان کسان د ماليې څخه معاف کړي د تقاعد حقونه، خواړه لباس، استوګنځي او مالي مرستو په ورکولو هغوی د کړکيچ څخه راوباسي او پر خپلو ستونزو بريالي شي. په ټوليز امنيت کې يو څو نور خدمتونه هم شامل دي لکه د ټولنيزو مرستو دپاره کارګران ،د پوهې لوړول او ټولنيزي مرستې دي چې دغه څه حکومت مجبوره کوي تر څو زيانمنونکي کسان وپيژني او پرهغوی څارنه وکړي. په افغانستان کې د ټولنيز امنيت سيستم د معلوليت او د شهيدانو کورنيو او ماشومانو مسئلو ته پاملرنه کوي.دمعلوليت لرونکو کسانو او دشهيدانو دکورنيو سره مرسته د هغوی د تقاعد په حق پوري محدود کړل شوي دي. د۲۰۰۸ کال تر جنوري (د۱۳۸٦-کال مرغومي /سلواغه) پورې په کابل کې د ماشومانو دپاره درې پناه ځايونه او په نورو ښارونوکې څلور پناه ځايونه موجود وو[21] هر پناه ځای د -۲۰- ماشومانو دپاره ځای لري.په کابل کې ۱٦٤ ټوليز ورکتونونه او د هيواد په نوروسيموکې -۲۰۲- ورکتونونه شته . له دې پرته د حکومت له خوا وخلکو ته نور خدمتونه نه کېږي، ددې ترڅنګه داساسي قانون له مخې داسې احکام شته چې دزړوکسانو ناروغانو،د بي سرپرسته ښځو دپاره مرستې وشي خو حکومت هيڅ ډول ميکانيزم نلري او د قانون اجراآت تيت او پرک دي.

---

[19] -دملګرو ملتونو سازمان د اقتصادي ،ټولنيزو او فرهنګي حقونو کميټه ،ټوليزه شمېره ۱۹ دټولنيز امنيت حق د ۲۰۰۸ کال د فبروری ٤

[20] -پورته سرچينه ./www.UNHCR.org /ref world/docid47b5b39c.htm

[21] -د بهرنيو چارو وزارت ۲۰۰۸کال (۸۷-۱۳۸٦)د اقتصادي ،ټولنيزو او فرهنګي کميټې ته د افغانستان دوهم رپوټ.

برسیره پردې هغه ډلې چې په قانون کې د زیانمنونکو ډلو په نوم پیژندل شوي دي ،نوري ډلې هم شته چې ودېرو خدمتونو ته اړتیا لري. فقیران ښځې ،لړه کیان ،داخلي بیځایه شوي او هیواد ته راستانه شوي د نه تبعیض کولو د حکمونو ترمرستې لاندې راغلي دي چې د اقتصادي ،ټولنیز او فرهنګي حقونو د نړیوال میثاق د -۲- او -۳- مادې لاندې راځي. هغو کورنیو ته باید ځانګړي پاملرنه وشي چې د هغوی په سر کې ښځې ، ماشومان ،زاړه کسان ،معلولیت لرونکي بیځایه شوي او راستانه شوي کسان قرار لري او یاهم له اتو څخه ډېر ماشومان لري . ددغه ریپوټ د لیکنې په وخت کې د مدني ټولنو سازمان او نړیوالي ټولنې یوازي پورته ډلي ته مرستې ورکړیدي . دکار ټولنیزو چارو شهدانو اومعلولینو وزارت د غیري حکومتي سازمانونو او د مرسته کونکو د هم غرى دپاره محدوده رول لوبوي[22]

ددغو خدمتونو ونډه ټوله په نړیوالو مرسته کونکو پورې اړه لري.

د بشر د حقونو سیمه ئیزه څارنه د زیانمنونکو کسانو ځانګړتیاوي رابرسیره کوي. دمرکه کونکو دریمه برخه داسې کسان وه چې دهغوی حالت داسې وو چې په کامله توګه په ټولنه کې ګډون ونکړای شي. ددوی ډېره برخه د دوه ډوله زیانونو سره مخامخ وه،لومړی برخه هغه کسان وه چې له اتو څخه ډیر اولادونه یې لرل او دوهمه ډله هغه بیرته راستانه شوي کورنی وي چې د هغوی سرپرسته ښځې او یاهم زاړه کسان وه. نو د دغو زیانونو په پوهاوي سره باید ټولنیز خدمتونه داسي ترتیب کړل شي تر څو د زیانمنونکو کسانو اړتیاوي پوره کړل شي . هغه کورنی چې د راستانه شوي کسانوتر سرپرستي لاندې وه شمیر یې %۳۲ ووچې دغه شمیر د اوږدې مودې جګړو او مهاجرت له کبله د انتظار څخه لیري نه بریښیدل .او هغه مرکه شوي کورنی چې د اولادونو شمیر یې له اتو څخه ډېر وو%۲۰ ښودل شوي دي. اود هغه نه وروسته هغه کورنی راځي چې دکور سرپرست یې زاړه کسان وه دهغوی شمیر%۱۹ ښودل شوي دي دغه شمیر د تعجب وړ نه ګرځي ځکه چې په افغانستان کې کورنی سنتي جوړښت داسې راغلي دي چې هغوی ډېر شمیر اولاد خوښوي او یاهم دکور سرپرست یوزوړ کس وي . دغه شمیرنې په واقعیت کې ډېر مهم مالومات راکوي دهغه له مخې حکومتونه کولای شي چې د راتلونکي لسو کلونو دپاره د اړو ځوانانو او زړو کسانو د خدمتونو دپاره د خدمتونو ماهیت او پروګرام ترتیب ونیسي. دوه نورې ډلې چې ډېرې زیانمنونکي دي هغه کورنی دي چې دهغوی سر پرستي د ښځو په غاړه ده چې دغه شمیر %۱۲ جوړوي اوهغه کورنی چې دهغوی سر پرستي دماشومانو په لاس کې ده شمیر یې %۱ ته رسیږي ،چې حکومت باید ډېره پاملرنه ورته وکړي . ښځوته دکار د زمینې نشتوالی ددې سبب ګرځي چې دکور د ژوند د پرمخ بیولو له پاره دغه بار د ماشومانو پر اوږو باندې واچو یاو په دې ډول دغه کورنی په ټولیزه توګه د اقتصادي فشار لاندې راشي.

## په پراختیا کې ګډون :

د ګډون له لارې و ژوند ته ښه بڼه ورکول او پراختیا د آبرو منده ژوند دپاره یو بنسټیز ه عنصربلل کېږي. د ګډون له لارې یوکس کولای شي چې اساسي سرچینو لکه ښوونه ،روغتیا ،خوړو، شغل، او دپیداکړي توکو مساوي ویشنې ته لاسرسنه پیداکړي [23] د نړیوال ټولنیز اقتصادي او فرهنګي میثاق پر اساس حکومت وعده کړیده چې تر څو د ټولو اقتصادي ټولنیزو او فرهنګي حقونو په برخه کې د ښځو او نارینه وو برابري په نظر کې ونیسي چې دوی په یوشاني ویورته حقونوته لاسرسی ولري او دغه د پورته میثاق په -۳- ماده کې راغلي دي. نوله دې سببه ټوله اقتصادي او ټولنیز حقونه باید پر مساوي او یوشان ګډون باندې ولاړ وي. ددې تر څنګه افغانستان د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعیض د مینځه وړلو کنوانسیون CEDAW لاسلیک کړي دي،چې ددغه کنوانسیون په اساس (CEDAW)[24] حکومت دنده لري چې داسې کړنلارې رامنځ ته کړي چې د هغه له مخې دهیواد په ټولو سیمو کې د ښځو په وړاندي هر ډول تبعیض د منځه ولاړ شي ا ښځې وکولای شي چې په کلیو کې دګډون له امله پرمختیاوي میسره کاندې (۱٤ماده –د الف برخه ) همدارنګه نړیوال حقوقي میثاق چې د اقتصاد، ټولنې او فرهنګ په برخه کې دي د محرومو او زیانمنونکو کسانو و حقونو ته پاملرنه کوي او حکومت دنده لري چې په پراختیا کې د ټولنې ټوله پرګني ورګډې کړي. ددې مانا داده چې په پروګرام جوړولو ،اجراآتو او ګټې اخیستلو کې د پراختیا د پاره ګډون او دهغه د ارزوني دپاره څارنه د ښه ګډون مانا ورکوي . خو ددې سره زیانمنونکي ډلې په افغانستان کې ددغه کړنلارې په اجراآتو او مرستو کې ګډون نه لري.

---

[22] -د افغانستان دملي ستراتیژي پرمختیا (۸۷-۱۳۸٦)

[23]- د حق د پراخیتا په برخه کې دملګرو ملتونو اعلامیه ۱۹۸٦(۱۳٦٥-۱۳٦٤) د لويي ټولنې پریکړه ۱۲۸/ ٤۱ اتمه ماده.

[24] -افغانستان د ۲۰۰۳کال د مارچ پر پنځمه (د۱۳۸۱د کب ۱٤) د CEDAW دکنوانسیون غړي شو.

په افغانستان کې د بشر دوستانه پراختيا د مرسته کونکو لومړيتوبونه په نظر کې نيسي خو دهم غېږي کړونو لرونکي نه دي [25] د پراختيا بوديجه و ډېرو نا ارامو ولايتونو ته ځانګړي شوې ده نوله دې سببه هغه لومړيتوبونو ته ضرر رسيدلی دی کوم چې د خلکو له خوا پيژندل شوي دي [26] نو ځکه ډېرې پيسې هلته لګيږي چې هغه امن نلري په همدې وخت کې د سيمه ئيزو خلکو غوښتونواو اړتياوو ته لږ پاملرنه شوې ده . برعکس هغه سيمې چې هلته امنيت شته دهغوی د جوړولو دپاره لازمه بودجه نه ده ورکړله شوې ددغه کړنلارې پر مخ بيولو سره دواړي خواوي بـايلونکي دي او دهغه په نتيجه کې د افغانستان ډېرې برخې د ابادېدو څخه محرومه کېږي.

کړنلارې جوړونکي دخلکو د اړتياو په اوريدو او دګډون دموسسو په ټينګولو کې پاته راغلي دي په سيمه ئيزه سطحه باندې حکومتي موسسې يا ناکامه او يا هم اساسا هلته نشته . په داسې حال کې چې کابل پر اداره او پروګرام جوړولو باندې حاکميت لري[27] د ملي پراختيا پروګرام د سيمه ئيزو او ملي يووالي د پروګرام په اساس (NSP) د فقر د راټيټولو په مطلب باندې منظور او د تشکيل جوړ کړل شو. ددغه دوو پروګرامونو پر اساس د سيمه ئيزو پراختياووو د پيژندلو دپاره شوراګاني جوړي شوې. دملي يووالي پروګرام وکړای شوای چې ځيني د شوراګانو په لور لاربنود کړي او په افغانستان کې يې ٧٠% سيموته دا امکانات وکړل چې د پراختيا پروژې تر سره کړي . د ولسواليو شوراګاني دملي پراختيا د پروګرام مطابق په سيمو کې د ولايتي حکومت او سيمې تر منځ د اړيکو نيولو وسيله وګرځيدې خو په عمل کې دغه څه برياليتوبونه نه لرل[28]

د پورته موضوع په زړه پوري مثال د افغانستان د ملي ستراتيژي پراختيا ده . دسيمه ئيزو شوراګانو سره ډېرې مشورې وشوې خوددې ستراتيژي ګټې په لومړي ګام کې د ښاري پراختيا اوسوداګرې په ګټه وه او دکليوالي پراختيا وو اړتياوو ته لږه پاملرنه کړ ي. يوه بله انديښنه داده چې دمرسته کونکو بهير دملي يووالي دپاره منظم نه دی او دهغه راتلونکي هم نامعلوم ښکاري.[29]

فقر په ملي سطحه باندې د محروميت له دليلونو څخه دي [30] دملي خطر او زيانمنوني ارزونه ٢٠٠٧(١٣٨٥-٨٦) داسې اټکل کوي چې په هيواد کې ٤٢% وګړي د فقر دکرښې نه لاندې ژوند کوي [31] دغه احتمال چې مرکه شوي کسان ديوې پراختيايي پروژې څخه محرومه شوي دي نو ډېر قوي احتمال شته چې دنورو پروژو څخه هم محرومه پاته شي. دغه وضعيت ددې سبب ګرځي چې د خلکو ځينو ډلو ته په دوامداره توګه خدمت ونکړل شي،چې د هغه نتيجه به تر څه او ناوړه وي ، ځکه چې ډېر خلک په کوچنيو سيمو کې ژوند کوي چې په هغه کې ټولنيز جوړښت د يوه کس پرټولو خواوو باندې اثر اچوي.

د بشر دحقونو سيمه ييزو څارونکو دمرکه شوو لويه برخه ٤٠% پخپلو مرکو کې ويلي دي چې فقر هغه اساسي دليل دي چې خلک په ټوليز ژوند کې د خدمتونو او ګډون څخه محرومه کوي. د محروميت يو بل دليل دهغوی بيګانګي وه چې د داخلي بېځايه شوي او د قوم څخه سرچينه اخلي ، خو نورې ځانګړتياوې لکه سن ،جنس ،بډو اخيستلو ته ميل معلوليت ،دبهر نه راستنيدل او ژبه هم دمحروميت د سببونو څخه شميرل کېږي . دغه ټکې ددې شي څرګندونکي دي چې نسبي سيمه ييز تجانس شته او د بيګانه د تحمل فرهنګ لا نشته .

د بشر د حقونو د سيمه ييزوڅارونکو په وينا چې ډېرو مرکه شووکسانو د احوال څخه مالوميدل، چې محروميت په هغه ولايتونو کې په لويه کچه باندې وو چې هلته امنيت نه وو. د ارزګان په ولايت کې له ٦٠% څخه ډېرو مرکه شوو په هلمند کې ٤٥% په کندهار کې ٤٠% او په زابل ولايت کې ٣٠% دا احساس کوي چې هغوی دپراختيا د پروګرام څخه محرومه دي . که څه هم دغه څېړنه دنمونې نماينده ګي نشي کولای خوهغه څه چې دمالومات په توګه لاس ته راغلي دي دمرسته کونکو هيوادو له نظره ډېر په زړه پوري دي.

داسې يو پروګرام طرح شوي چې دهلمند،زابل،کندهاراو ارزګان په ولايتونو کې دمرسته کونکوله خوا دهرکس پرسر ٢٠٠ډالره ولګيري په ٢٠٠٧ او ٢٠٠٨ کلونو کې (٨٧-٨٦-١٣٨٥) او دا پريکړه هم شوې وه

---

[25] -ماټ والډمن –mati waldman- ٢٠٠٨ کمبودي : په افغانستان کې د مرستو اغيزمنتوب . اکبر او اکسفام.

[26] - فردي اړيکې د ملګرو ملتونو د يوه کارمند سره مرکه د ٢٠٠٨ کال اګست.

[27] - اکسفام ٢٠٠٨(١٣٨٦) افغانستان :بشردوستانه لومړيتوبونه او پراختيا.

[28] -فردي اړيکې دملګرو ملتونو دکارمند سره مرکه د ٢٠٠٨ کال د اګست اوومه (د١٣٨٧کال زمری)

[29] فردي اړيکې دملګرو ملتونو دکارمند سره مرکه د ٢٠٠٨ کال د جولا ٣٠ (١٣٨٧د زمري ٧)

[30] -نسان عدل پرور ٢٠٠٨(١٣٨٧-١٣٨٦) د فقر ارزونې ازمايشي ګډون اکبرز

[31] - د بهرنيو چارو وزارت ٢٠٠٨(١٣٨٧-١٣٨٦) د اقتصادي ،ټولنيزو او فرهنګي کميټې ته د افغانستان دوهم رپوټ.

چې په نورو ولايتونو کې چې د محروميت درجه يې ډېره ټيټه ده د پورته مرستې يو پر درې بايد ولګيږي.[٣٢]

دغه محروميت ددې ښکارندوي دي چې هم حکومت اوهم خلک وخت دلاسه ورکوي .نو په دې احوال کې چې په سهيل کې ناامني ده او دولايتي بيارغوونی ټيمونه (PRT,S)[٣٣]خپل لګښت هلته کوي څه د تعجب خبره نه ده ځکه چې دغه ټيمونه ډېرلږ د خلکو سره ګوري چې د هغوی په اړتياوو خبر شي او يا خو اصلا هيڅ نه ګوري او مشوره ورسره نه کوي. که څه هم دوی دغه کار د امنيت د نشتوالي دانديښنو له سببه کوي اودغه انديښنه پرځاي ده خو تجربو ښودلې‌ده چې څو ځله چې په نړۍ کې‌داسې پروژو چې په پراختيايي برخو کې يې خلک محرومه کړي دي‌دغه پروژو پخپله هم‌ماته خوړلې ده.

په هوډ نيونه کې له ګډون څخه محروميت لاپيچلي دي ځکه چې ډېر پيژندل شوي لومړيتوبونه چې د ولس له خوا وړاندې شوي دي د اقتصادي ټولنيزو او فرهنګي نړيوال ميثاق او زرکلني پراختيايي هدفونو پر اساس باندې د حکومت د وعدو او دندو څخه شميرل کيږي . د اسيا بنسټ يوې څيړنې asia foundationښودلې دي چې ناامني ،بې کاري ،کمزوري اقتصاد او اداري فساد دهغه څلورو لومړيتوبونه دي چې دا فغانستان د ولس د ټولنيزي پراختيا دپاره په هيواد کې پيژندل شوي دي [٣٤]

په سيمه ييزه سطحه کې لومړيتوبونه عبارت وه د بريښنا بنځ کاري او به اوبښوونې . د ژوندون تيروني امکانات ،ټولنيزه شمول ،د نفوس د ژر او دير ودې ناوړه اغيزې او دګډون پراختيا،هغه لومړيتوبونه وه چې د فقر د ازمايښې ارزوني او ګډون کې پيژندل شوي دي. دبشر دحقونو سيمه ئيز څارونکومرکه کوونکو هم داسې لومړيتوبونه راښيي چې پورته لومړيتوبونو سره ورته والی لري(٢شکل)

مرکه شوو کسانو ښه کار غوښت ،پاکو اوبوته لاسرسنه ،روغتيايي او استوګنځيو ته لاسرسنه غوارۍ هغوی ددې غوښتنه کوي چې د هغوي ماشومانوته دي د ښوونې ښه امکانات برابرکړل شي.په پای کې هغوی غوارۍ چې په يوه سالم محيط کې ژوند وکړي.خو اوس د حکومت نوبت دی تر څو د زيانمنونکو ډلو دپاره خپلې وعدې پر ځای کي او خدمت وکي نو ځکه د پراختيايي ګډون ټوليز هدف د اجرايي برخو تر ټولو ښه طريقه پيژندل دي ځکه د افغانستان د خلکو غوښتنې او اړتياوي د حکومت د هغو دندو سره مطابقت لري چې د اقتصادي ،ټولنيزو،او فرهنګي نړيوال ميثاق او زرکلني پراختيا له خوا طرح شوي دي.

## *معلوليت لرونکي کسان:*

په هر ټولنه کې معلوليت لرونکي کسان تر نوروټولو زيانمنونکي دي.د هغوی جسمي او يا ذهني ناتواني او د دولت له خوانه هغوی ته د سامان آلاتو او اسانتياوو نه برابرول دهغوی دکار په مخ کې خنډ ګرځي او د ټولنې د خدمت او د ښوونو په برخه کې هغوی د ګډون نه بې برخې کيږي.نو په معمول ډول هغوی د خپلو کورنيو او ټولنو د اورو بار شي، او په هغوی باندې ملنډې وهل کيږي.[٣٥]

افغانستان ډېر شمېر معلوليت لرونکي کسان لري چې د هغوی لويه برخه د جګړو په بهير کې دغه حالت ته رسيدلي دي په ٢٠٠٧ز کال (٨٦-١٣٨٥) کې دکار ،ټولنيزو چارو ،شهيدانو او معلولينو شمير ٦٨٠٤٣ کورنۍ ښودلی دي چې په دغه وزارت کې يې نومونه ثبت شوي دي او دغه وزارت د هغوی سره مياشتني مالي مرستې کړي دي .[٣٦]

داساسي قانون ٣٥ ماده دهغه مثبتو تدبيرونو بيانونکي ده چې د معلوليت لرونکو کسانو سره مرسته او دهغه څه سره مبارزه کول چې ددوی په وړاندې تبعيض کو ي د حکومت د دندو څخه شميرل کيږي خو ډېر لږ کسانو پيژندنه ،ناکامه طرزالعمل او داصلاحاتو دپاره د سياسي ارادې نلرل دي .تر ټولو له خطره ډکه ناکامي د حکومت ددوامداره مرستو نه کول دي .

په افغانستان کې دمعلوليت لرونکو کسانو يوازينۍ ژوره او د ډاډ وړلوستنه دمعلوليت دملي پيژندلو لوستنه ده .دغه لوستنه داسې ښيي چې په اټکلي توګه په دې هيواد کې ١١% نفوس د ډېر سخت

---

[٣٢]-ماټ والډمن matt waldman٢٠٠٨ (٨٧-١٣٨٦) په افغانستان کې د مرستو موثريت .اکبر اکسفام.
[٣٣]- د ولايتي بيارغوني ټئمونه د مقالي پر اساس،په افغانستان کې پوځي او بشردوستانه اړيکې لومړی مخ (( دولايتونو د بيا جوړولو ټيمونه هغه پوځي او غيري پو ځي نړيوال ټيمونه دي چې په ټول افغانستان کې د ولايتونو په کچه فعاله دي))
[٣٤] -د اسيابنياد٢٠٠٨(١٣٨٧-١٣٨٦) افغانستان په ٢٠٠٧ کال کې د افغانستان د ولس څيړنه.
[٣٥] - د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون ٢٠٠٨(٨٧-١٣٨٦) معلوليت لرونکي کسان.
[٣٦]-د بهرنيو چارو وزارت ٢٠٠٨ (٨٧-١٣٨٦) د اقتصادي ،ټولنيز او فرهنګي کميټې ته د افغانستان دوهم .

او یا سخت معلولیت خخه په عذاب دي او ۳۷% خلک بیا سخت او یا منځني معلولیت لري [۳۷] په دغه مطالعه کې دا هم ځرګنده شوه چې د ښځو په پرتله د نارینه وو معلولیت لرونکوکسانو شمیره۳۰% ډېر وو. دغه شمیرنه ددغه واقعیت سره سر خوري چې په افغانستان کې معلولیت د دیرشو کلونو جګړو سره تطابق کوي [۳۸] تر ټولو مهمه داده چې حکومت دغه لاس ته راغلي معلومات وساتي او معلولیت ته د اړیکې لرونکي مسئلې په سترګه وګوري.

خوشیان ددې خنډ ګرځي چې د معلولیت لرونکو کسانو سره مرسته په منصفانه توګه ونشي. د ډاکټر نجیب الله د حکومت راپه دې خوا -۱۹۹۲-۱۹۸٦(۱۳۷۱-۱۳٦٤) پورې دمعلولیت لرونکو کسانو سره مرستې تر ډېره حده سیاسي شوې دي . د ډاکټر نجیب الله په وخت کې د معلولیت لرونکو کسانو وزارت جوړ شو چې د پورته کسانو دپاره خدمت وکړي.دغه وزارت دمرستو په توګه معلولیت لرونکي کسانوته مځکې ورکړي اود حکومت له خوا جوړ شوي توکي دوی ته ورکړي تر څو دژوند د تیرولو په خاطر دغه توکې خرڅ کړي خو دغه مرستې یوازې هغه کسانو ته ورکول کیدې چې د حکومت سره یې وفاداري لرله .خوکله چې مجاهدین مینځ ته راغلي نو دغه څه سر چپه شکل ځانته ونیوي. له بده مرغه چې دغه څه تر نن پورې لا روان دي په اوس وخت کې ملي شورا پر دغه موضوع تاوده بحثونه کوي چې دا په هغه غوښتل شوي لایحه کې شوي ده چې په ۲۰۰۷(۸٦-۱۳۸۵) کې یې د یو سیستم غوښتنه شوې ده چې سیاسي اړیکې د معلولیت لرونکي کسانو په برخه کې وځیړي اوسمه ګړنلاره جوړه کړي . په افغانستان کې دمعلولیت لرونکي کسانو د معلولیت د ډول معلومول او دهغوی توپیرونه او د ټولنیزو مرستو په اړه ګړنلاره چې د معلولیت لرونکي کسانو دپاره تر لاس لاندې نیول شي ده تر اوسه ناکامه ده . په اوس حال کې دمعلولیت لرونکو کسانو دپاره د تقاعد حق یوازې تش په نوم د ټولنیز مرستو په نوم دی چې دوی ته ورکول کېږي یو معلولیت لرونکي چې کورنۍ ونلري دمیاشتې ٤۰۰افغانۍ (۸ډالره ) او هغه چې کورنۍ لري دمیاشتې ٥۰۰افغانۍ (۱۰ډالره ) ورکلو کېږي [۳۹] دغه مرستې د یو معلولیت لرونکي کس له پاره داسې څه دي چې حتا د ورځې یو ډالر چې بیخې لږ دي هغو ته ورسیږي نو دهغوی د ژوند د تیرولو دپاره هیڅ توګه کفایت نه کوي اوددوي ژوند په ستونزو کېدی مالي مرستې یو دهغو ټولنیزو مرستو څخه دي چې ددغه کسانو د ژوند دښه کولو په منظور باندې لګیږي.تر څو د هغه لارې معلولیت لرونکي کسان وکولای شي یو مهارت زده کړي او یاهم خپله ښوونه پرمخ بوزي. دغه څه د مختلفو موسسو همغږي ته اړتیا لري لکه دکار او ټولنیزو چارو وزارت دمعلولیت لرونکو او شهیدانو چارو وزارت د پوهني وزارت د روغتیا وزارت د ښځو چارو وزارت غیر دولتي سازمانونه او هغه ځانګې چې د ملګرو ملتونو د ادارو سره سروکارلري. دمعلولیت ملي ټولیزه ګړنلاره په ۲۰۰۳ ز کال کې (۱۳۸۲-۱۳۸۱) ترتیب او تنظیم کړل شول چې د هغه په پلي کیدو سره به په ښوونیزو اونورو چاروکې به د معلولیت لرونکو کسانو ژوند ښه شي . ددغه ګړنلارې په مطابق یوه اجرائي کمیټه جوړه شوه ۲۰۰٤(۱۳۸۳-۱۳۸۲) خو دبده مرغه چې دغه ګړنلاره په عمل کې پلې نشوه . اوس څو پروګارمونه دمسلکي زده کړو دپاره شته چې دمعلولیت لرونکي کسانو دپاره ځانګړي شوي دي په کابل کې یوه ښوونځي د ړندو کسانو اویوه ښوونځي هم دکڼو خلکو دپاره جوړ شوي دی. خو په افغانستان کې د ډېر شمیر معلولیت لرونکي کسانو له امله دغه پروګرام کفایت نه کوي دلوست زده کولو پروګرام یوازي د۱۰۰۰ معلولو کسانو دپاره پرانستلی دی.۲۰۰۸(۱۳۸۷-۱۳۸٦)[٤۰]

په افغانستان کې د معلولیت مانا یوازي جسمي معلولیت ته ځانګړی شوی دی. ذهني معلولیت ددې سبب ګرځي چې دغه ډله کسان د ټولنې څخه جلا په یوازیتوب کې اوسیږي په داسې هیواد کې چې -۳۰- کلونه یې په جګړه کې تیر کړي دي. دغه څه مهم دي . د افغانستان په اساسي قانون کې د جسمي او ذهني معلولیتونو توپیر نه دی راغلی ،نو ددوی د حقونو په اړه په عمل کې کوم توپیر نشته .

## پور:

پور او د پور ادا کول د ښځو دحقونو په اړه اهمیت لري.داسې څه اوریدل کېږي چې پوروړی کورنۍ د پوروال کورنۍ ته دپور په بدل کې خپله لور دهغه وزوی ته ورکوي[٤۱] پور په سنتي ډول باندې په فردي

---

[۳۷] - د معلولیت نړیوال سازمان handicap international ۲۰۰٥(۱۳۸٥-۱۳۸٤) د افغانستان اسلامي جمهوریت دمعلولیت پیژندني ملي لوستنه ،د اتلونکي ننګونو پیژندنه.

[۳۸] -دغه محاسبه د هغه شمیر له مخې شوې ده چې دمرکزي احصایې له خوا پر ۲٤میلونو افغانانو باندې سرته رسیدلې وه.

[۳۹] -د بهرنیو چارو وزارت ۲۰۰۸(۱۳۸۷-۱۳۸٦) د اقتصادي ،ټولنیزو او فرهنګي حقونو کمیټې ته د افغانستان دوهم رپوټ.

[٤۰] -دکار ټولنیزو ،شهیدانو او معلولینو وزارت ۲۰۰۷(۸۷-۱۳۸٦) کلنی رپوټ.

[٤۱] -دیوې ورځپانې رپوټ: د نجونو او ښځو خرڅول دپور دستونزي په حل کې ((یوه نجلۍ چې ۱٦کالنه وه د ۱٦٥ډالره په پور کې و یوهلک ته واده شول)) ((درې نورې پیښې د نجونو بدل دکور په

شبکو باندې کېږي او دهغه شرطونه بدليدونکي دي [42]دېور اداکول وخت دېوروړي په مالي ظرفيت باندې تړلي دي .داسې وضعيت شته چې دېور والا دځان څخه سخاوت نښي نو پور وړی په داسې حال کې مجبوره کېږي چې ددغه ستونزي د حل دپاره خپله لور وهغوی ته دېيسو په مقابل کې ورکي . خوددې رپوټ د څېړنې په وخت کې په دې هکله کوم مالومات مور ته په لاس کې وو.اوسنی څېړنې داسې ښيي چې کله کله د رسمي پور داداکولو دپاره دسنتي پور په ادراينه سره داکار کوي.دغه څه کوچنيو پورونو په ادراينه کې ځانگړی تاثير ښندي چې دکړ نلارو جوړونکي بايد پاملرنه ورته وکړي.ځکه چې داسې يوميکانيزم بايد جوړ کړل شي چې دهغه له مخې بايد ددغه شان پور په اداکولوکې د ښځو پر حقونو باندې منفي اثر ونکړي. دکوچني پورونو د ورکولو موسسې په ۲۰۰۳(۸۲-۱۳۸۱) کې افغانستان ته راغلې او اوس يې نيم ميلون کسانو ته خدمت کړيدي چې د هغوی دوه پر درې برخې په ښارونو کې ژوند کوي [43] دکوچنيو پورورکوونکي موسسې ډېر خله خپل خدمتونه دښځو په وړاندي ترسره کوي،نو له همدې کبله رپوټونه داسې ښيې چې دغو موسسو ته دمراجعه کوونکو ۷۰% يې ښځې دي چې هغوی معمولا ډله ايز پورونه تر فردي پورونو بهتره گڼې کيفي لوستونو دا ثابته کړې ده چې پورونکي کسان په اسانی سره کولای شي چې ددغه موسسو ومقرراتو ته اهميت ورنکړي.[44]

د ارزوني د ځينو څېړونو څخه څرگنديږي چې په افغانستان کې د ناکافي پورونو ورکولو له امله ځيني وخت يوکس دټول ډله ييز پور څخه گټه ترلاسه کوي.[45] کوچني پورونه ژر مصرفيږي [46] په کليو کې د فقر دسطحې د ټيټې درجې له امله کليوال غواړي چې د ټولو سرچينو څخه دکوچني پورونو په شمول پور تر لاسه کړي.

که څه هم شمير نې رانښيي چې د تيروکلونو په پرتله د ۳% لروالي راغلی دی. خو دبشري حقونو سيمه ييز څارونکي دمرکه شوو په اړه وايي چې لږ تر لږه ٦۲% کورنی پوروړي دي . دزيانمنونکو ډلو پور د نورو په پرتله ډېر وو۷۰% چې په دغه گروپ کې ښځې،ماشومان ،راستانه شوي داخلي بيځايه شوي او هغه کورنی چې دماشومانو شميريې له اتو څخه ډېر وو تر ټولو ډېرې فقيري کورنی هغه وې چې دهغوی سرپرستي دماشومانو په غاړه وه اوبيا په ترتيب سره دمعلوليت لرونکو کسانو بيرته راستانه شوي کورنی او داخلي بيځايه شوي کورنی وې . دهغه پورونو سطحه چې په افغانستان کې دبشر د حقونو څارونکو ډلې په گوته کړي دي ډېر مهم دي د دوه په درې برخو مرکه کونکو ويلي دي چې دوی ۰،۰۰۰٦٠افغاني چې ۱۲۰۰ ډالره کېږي پوروړي دي . د پور دغه سطحه جدي بلل کېږي ځکه په افغانستان کلنی ملي عايد -۳۰۰- ډالره دی[47]

په تقريبي ډول يو پر پنځمه برخ کسانو وويل چې دوی ۲۰۰۰۰ پوروړي دي. چې دکلني عايد له مخې دغه شمير دهغوی د يونيم کال عايد جوړوي .يو پر پنځه نوربيا د خپل دوه نيم کال عايد په کچه پوروړي دي . يو پر درې بيا وويل چې ددوی پور دهغوی دشپږو کلونو عايدو سره برابردي. د پور اندازه دومره درنه ده چې هغوی تر ستوني نيسي او د اساسي سرچينو ته دهغوی د لاسرسني مخه نيسي. دغه ټکي له دې څخه څرگنديږي چې ډېر مرکه شوي کسان چې د بشر د حقونو دسيمه ئيز څارونکو له خوا شوي دي ډېر زيانمنونکي وه.

## *تذکره او د زيږيدلو تصديق پاڼه :*

د تابيعت حق دماشوم د حقونو د کنوانسيون په لومړی ماده کې تسجيل شوي دي. دغه ماده وايي (( هر ماشوم د زيږيدو وروسته په خپل نوم باندې ثبتيږي او د زيږيدو د وخته څخه هغه د نوم لرولو حق او دامکان تر حده د پلار او مور دپيژندلو حق او دماشوم څخه څارنه ده )) د افغانستان مدني قانون ماده داسې حکم کوي ((د يو کس مدني حالت په يوه ځانگړي پاڼه کې ليکل کېږي او که يې وغواړي ورکول

---

پورکېږ)) www.ustoday.comn/ews/world/2007-07-09-afghan.girls.n.htm. يوه لس کلنه نجلۍ دکور دپاره د ډوډۍ پيداکولو په خاطر خرڅه شول اودهغې مور اوس عفت خرڅوي او هم يوه بله نجلۍ د کيمياوي کود دپور په بدل کې خرڅه شوې ده .دغه ټول خبرونه د ۲۰۰۸ کال داگست په ۲نيټه کې پيداکولای شئ د ۱۳۸۷کال د اسد۱۲.

[42] -فلورتجي کليجن floortie klijin و آدم پين ۲۰۰۷(۸٦-۱۳۸۵) دپيسو پيداکولوپه افغانستان کې غيري رسمي پورنه .

[43] - ۲۰۰۸misfa(۸۷-۱۳۸٦) دکوچنيو پورونو په اړه نوي مالوماتونه (د۱۳۸۷کال دزمري ۹)

[44] www.Misfa.org.af/uploads/files mf2%sector%2 20update%2march%220081pdf.

پايو کانتور او ارنا اندرسن (ema Anderson) ۲۰۰۷(۱۳۸٦-۱۳۸۵) کوچني پورونه،غير رسمي پورونه او په کليو کې ژوند تيرول ،په کابل کې ديوه کلي په اړه لوستنه کول .دافغانستان دڅېړنې دارزوني ځانگه .

[45] _ فلو تجي کليجن او ادام پين ۲۰۰۷ز کال (۱۳۸٦-۱۳۸۵) دپيسو پيداکول د افغانستان په کليو کې دغير رسمي پورونو طريقه .

[46] پايوکانتور او ارنا اندرسن ۲۰۰۷(۱۳۸٦-۱۳۸۵) په کابل کې د يوه کلي په اړه لوستنه او څېړنه.

[47]- د پيسو نړيوال صندق (IMF) ۲۰۰۸(۸۷-۱۳۸٦) د نړۍ د اقتصاد ليدونکي مالوماتي ځانگه .
www.imf.org/extenal/pubs/ftweo/2008.01/weodata/weoreport د۲۰۰۸کال اگست ۱۰۲۰-زمری-۱۳۸۷کال

کېږي په دغه پاڼه کې نوم ،کورني نوم،دزیږیدیوسیمه اونېټه دنده تابعیت د اوسیدلو ځای دمیرمنې /میره نوم،اولادونه اودهغوی د زیږیدلو نېټې لیکل کېږي.

اصلي ماده دې دقانون له مخې ولیکل شي

په افغانستان کې د تذکرې او دزیږیدلو تصدیق پاڼې د موثره سیستم نشتوالي دمدني حقونو له نظره یوه تشه ده اود هغوی اقتصادي او ټولنیز حقونه ککړوي.

د نوي زیږیدلو ماشومانو د نومونو ثبت چې دهغه لګښت یو نیسیف ورکوي د هغه موسسې له خوا پیل شو چې د ګوزڼ واکسین یې (۱۳۸۲-۱۳۸۱) پیل کړ[48] دزیږیدني تصدیق پاڼې ورکولو واک د کورنیو چارو وزارت دی. په دې لاره کې لویه ننګونه تصدیق پاڼه ورکوي. خو هغه ښځې چې په کورونو کې لنګیږي دغه اسانتیاوې هلته نشته ،یوازې د ولایتونو په مرکز کې دغه اسانتیاوې شته. د واکسین د ځانګو څخه د نوي زیږیدلو د ماشومانو د نوم ثبتول ښه نظر دی خوطبي کارمندان هڅه کوي چې لیرې سیمو ته هم لاسرسی پیدا کړي[49] اړین بریښي چې د نومونو دثبتولو له پاره یوه ټولیزه ستراتیژي د نوي زیږیدلو ماشومانو دپاره تر ۲۰۰۹ پورې (۱۳۸۸-۱۳۸۷) پورې طرح کړي.

درسمي شمیرنو له مخې د۱% څخه لږ کسان دزیږدني تصدیق پاڼې لري [50] هغه مالومات چې د بشر دحقونو خپلواک کمېسیون له خوا راټول شوي دي دابښیي چې تقریبا د زیانمنونکو کورنیو څخه یوازې ٤% یې دخپلو ماشومانو دپاره د زیږیدني تصدیق پاڼې لري او د ټولو کورنیو په پرتله یو پر پنځمه یې د نفوسو تذکرې لري ، دشمیرنوله مخې هغه توپیرونه چې د اقتصادي او ټولنیزو سببونو له خوا (لکه موقعیت ،شغل ،پور،عمر ،قوم، پلار اومور) ترسره شوې دقناعت وړ ځواب په کې نه لیدل کېدي .ممکن دغه څه دهغه فرهنګ له امله وي چې خلک په افغانستان کې د تذکرې اخیستلو د زیږیدلو تصدیق پاڼې او پاسپورټ سره علاقه نلري .نو ځکه اړین بریښي چې د پرځای او درستو خدمتونو دپاره دنومونو دثبت بهیر پیل شي تر څو ټولنیزو خدمتونو ته لاره اواره شي.

## وړاندیزونه:

دافغانستان حکومت بایدد ټولنیز امنیت داسې سیستم جوړ کړي چې د زیانمنونکو ډلو دپاره د خدمتونو زمینه برابره کړي او په دې برخه کې د خلکو د پوهاوي سطحه لوړ کړي.

حکومت باید داسې میکانیزم جوړ کړي چې دمعلولیت لرونکو کسانو نومونه ثبت کړي او هم حکومت باید داسې ټولنیز امنیت راولي چې د معلولیت لرونکوکسانو د خدمت دپاره مساعد وي او دغه بهیر غیرسیاسي کړي.

حکومت باید داسې میکانیزم رامنځ ته کړي چې په هغه کې سیمه ئیزې شوراګانې ګډون وکړي او په دې ډول په هر کلي کې دنومونو د ثبت بهیر طرح او راوج کړي.

دافغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون دهغه کنوانسیون په اهمیت باندې رڼا واچوي کوم چې د ملګرو ملتونو سازمان د معلولیت لرونکو خلکو دپاره تصویب کړی دی. کمیسیون د حکومت څخه غوښتنه کوي چې په حکومتي ځانګو کې د ۳% څخه تر ٥% پورې ونډه معلولیت لرونکې کسانو ته ځانګړې کړی،په ځانګړې توګه دمخابراتو په وزارت کې .

حکومت باید داسې میکانیزم جوړ کړي چې دهغه له مخې ذکات دخلکوڅخه ټول کړي شي او دزیانمنونکو کسانو پر کورنیو (په ځانګړې توګه هغه کسان چې د طبیعي افاتو دلاسه متاثره شوي دي) باید وویشل شي اونور ي سرچینې ولټول شي.

# کورنی ژوند:

د اقتصادي،ټولنیزو او فرهنګي حقونو نړیوال میثاق په -۱۰- ماده کې د کورني ژوند حق پیژندل شوی او دهغه ملاتړ کوي ((واده کول د دواړه پلوه په ازادانه رضا باندې د اعتبار وړ دی )) دکورني ملاتړ حق په دې مانا دی چې واده کول باید رضایت سره وي دماشومانو د واده کولو منع کول او په واده کولو کې د

[48]- دیونیسیف مطبوعاتي مرکز د۲۰۰۸کال د جولای ۲۸(د ۱۳۸۷ دزمري ۷) www.unisef.org/mediaprbirthregistration.htm/

[49]- ثریاسرحدنیلسن soraia sarhaddi nelson ۲۰۰۸(۱۳۸۷-۱۳۸٦) افغانستان غواړي چې نوي زیږیدلي ماشومان ثبت کړي. www.npr.org./tenpletes/sory/php?storyld=91936836

[50]- ډوین فلټر Devin felter. ۲۰۰۸ (۱۳۸۷-۱۳۸٦) افغانستان ه‌څه کوي چې د زیږیدل شوي ماشومانو دپاره تصدیق پاڼې ورکړي. www.findingdulcinea.com/newsmeadleeastjuly-augist/afghanistan-eyes newborn with birth cetificate.drive.htmr.

ښځې او نارينه د حق په ضمانت سره تفسير کېږي [51] په هر حال دافغانستان د وضعيت په نظر کې نيولو سره دپورته ميثاق د احکامو پر اساس دکورني ژوندملاتړ په پوره توګه ناممکنه ښکاري.

په افغانستان کې ښځې د ټولنيز ژوند په ګڼون کې محدوده ونډه لري او ډېرى ښځې د کور څخه بهر کارنه کوي. نو ځکه دښځو په وړاندي تاوتريخوالي د کورونو په څلور ديوالونو کې محدوده کېږي. په افغانستان کې د کورنيو د ملاتړ حق په لومړى سر کې په واده کولو کې ازادي په واده کولو کې د ښځو او نارينه وو د حقونو ضمانت او د واده د فسخ کولو په وخت کې دهغوى د حقونو ضمانت او دکورني تاوتريخوالي په برخه کې تمرکز لري.

دافغانستان اساسي قانون ٥٤ ماده هم دکورنيو دملاتړ په اړه ده خو بيا همد ښځو په وړاندي تاوتريخوالى جبري ودونه ،دماشومانو واده کول ،قاچاق ،عفت خرڅونه،دغيرت په نوم قتلونه ،ناوړه کړني ،غفلت او رواني تاوتريخوالى په افغانستان کې موجود دى.[52]

## ***کورنى قانون:***

کورنى ژوند او د واده کولو دعمر مقررات روښانه نه دي او داساسي قانون او دنړيوال قانون دمعيارونو سره سر نه خوري .دافغانستان مدني قانون د واده کولو او دهغه دانحلال اد کورني ژوند دحق د ملاتړ څخه برخمن دي . خو له دې سره سره مدني قانون دغو مسئلو ته اشاره کوي. خو دکورني ژوند څخه ملاتړ ډېرو مقررو ته اړين برښي. هغه قانون چې اوس د جوړيدو په حال کې دى ،هغه دکورنيو څخه ملاتړ دافغانستان د اساسي قانون او دنړيوالو قوانينو په اساس باندي دروي.اوسنى مقررې د واده له پاره د نارينه عمر (١٨کاله) او دنجونو (١٦کاله ) تثبيت شوي دي دغه مقرره نه يوازي په مستقيمه توګه د اقتصادي ،ټولنيزو او فرهنګي نړيوال ميثاق د دريمې مادې سره په ټکر کې دى. دپورته مـوادو په اساس ښځې او نارينه د قانون په وړاندي مساوي حقونه لري،برسيره پردې د ښځو دحقونو کمېټې په ښکاره ويلي دي چې د ښځې او نارينه عمردواده دپاره د CEDAWدکنوانسيون سره په تضاد کې دي [53]

که څه هم په اسلامي شريعت او اساسي قانون کې دښځو او نارينه وو دپاره مناسب حقونه ورکړل شوي دي خو په عمل کې او هم په ځينو مقررو او قوانينو کې د ښځو او نارينه تر منځ د حقونو برابري په نظر کې نه ده نيول شوې.په ځينو مقررو کې نارينه کولاى شي چې بې له قانوني مرحلو څخه ښځه طلاقه کړي دوکارده او طلاق نه ثبتول دددې سبب شوي دي چې د ښځو سره ناوړه چلند وشي . يوه ښځه کولاى شي چې د طلاق څخه درې مياشتې وروسته واده وکړي.خو دنيوکي په صورت کې هغه بايد د طلاق اخيستلو دپاره شاهدان ولري او دثبوت دپاره يې محکمې ته حاضر کړي .

ښځه کولاى شي دکافي دليلونو په لرلو سره د طلاق بهير پيل کړي اوهغه دليلونه عبارت دي د : دهغې ميړه ناروغه دى اوددې روغتيا د خطر سره مخامخ دى دهغې ميړه نشي کولاى ددې نفقه ورکړي،دهغې ميړه څلورکاله کېږي چې دکور څخه غايب (ليري) دى او ياهم په لس کلونو اودهغه نه په ډيره موده بند باندي محکوم شوى دى.په دغه حالت کې محکمه حکم کوي چې دمهر او سرپرستي په ورکولو سره نجوني تر نه کلني او هلکان تريولس کلنى پورې وهغې ته وسپاري. (( سيماګل ميړه په ٢٠٠١ کال کې (١٣٨٠-١٣٧٩) بيله قانوني مرحلو دپلي کولونه پرته سيما ګل ته طلاق ورکړ.د ٢٠٠٧کال په فبروري کې (سلواغه اوکب ١٣٨٥) دهغې ميړه پريکړه وکړه چې دابيرته خپل کورته وارولي هغه سيمه بيزي محکمي ته ورغى ترڅو حکم صادر کړي چې سيما ګل بيرته دده کورته ورشي .سيماګل د طلاق دثبت هيڅ ثبوت په لاس کې نه درلودي ٢٠٠١ ز کال (١٣٨٠-١٣٧٩) دهغې پلار د تحقير دويري له مخې انکار وکړ حتا يو کال وروسته چې د سيماګل ميړه هغې ته بيرته ورغلى دى دغه قضيه بيله کوم حل څخه پاته ده . سيما ګل بايد دخپل پخواني ميړه ازار تحمل کړي او هغه دا مجبوره کړې ده چې دده کورته ولاړه شي))

دنکاح کولو اوواده تصديق پاڼه او دواده کولو مسووليت دواړه پلو ته متوجه دى. دافغانستان دمدني قانون د-٦١- مادې پر اساس ټول ودونه بايدثبت شي. خو تر اوسه پورې دواده کولو او طلاق دثبتولو کوم ميکانيزم نشته يو سنتي دليل دادى چې خلک نه غواړي د فورمو په ثبت سره خپلو ميرمنونوم رسوا کړي. خوددغه دليل د اثبات له پاره کوم څه په لاس کې نشته .خو د ولسمشريزو ټاکنو په پروژه کې وليدل شول چې ډېرو ښځو خپل نومونه ثبت کړي وه ،دلته ستونزه دښځو نه ګډون نه وو بلکې ستونزه

---

[51]-دافغانستان د بشر ي حقونو خپلواک کميسيون او دملګروملتونو دپناه ورکوونکو څانګه .٢٠٠٦(١٣٨٥-١٣٨٤)دملي اونړيوالو قوانينو معيار.کابل

[52]- يو نيفم ٢٠٠٨(٨٧-١٣٨٦) د ښځو د تاوتريخوالي په وړاندي دمالوماتو لومړنۍ څانګه .

[53]- دښځو د حقونوکميټه ١٩٩٤(١٣٧٣-١٣٧٢) ٢١شمېره ټوليزه توصيه .په واده کولو اوکورنيو اړيکو کې برابري.

دا وه چې د نوم ليکنې ځانګه اصلا نه وه . اړين بريښي چې دواده او طلاق دثبت په اړه يو غښتلی ميکانيزم جوړشي اودخلکو ديوهې درجه هم لوړه شي د ښځو چارو وزارت په پلان کې لري چې په هر ولايت کې د واده او طلاق دفتر دثبتولو په منظور جوړکړي خوددې احتمال چې خلک دي دليري سيمو څخه دواده دثبتولودپاره د ولايت مرکز ته ورشي ډير لږ دی او ددوی څخه داسې هيله کيدای نشي په دې لاره کې د اسانتياوو نشتوالی ددې سبب شو چې درسمي الزامي واده ثبتولو بهير ناکامه شي.

## ***جبري ودونه :***

داقتصادي ،ټولنيز او فرهنګي نړيوال ميثاق لسمه ماده کورنۍ ((دټولنې طبيعي او اساسي واحد)) په توګه پيژني او يوازي هغه واده د قبول وړ ګڼي چې (( د دواړو خواوو په رضايت سره )) شوی وی.په افغانستان کې دغه حکم په معمولي توګه دپامه غورځيدلی دی . ددغه تاوتريخوالي پيښې ديونيفم د قضيو څخه لاس ته راغلي دي[٥٤]

په افغانستان کې د جبري ودونو په اړه کوم رسمي مالومات نشته . په اوس حال کې يوازنی سرچينه چې دښځو د تاوتريخوالي په اړه ترې مالومات اخيستل کيږي هغه ديونيفم ځانګه ده چې تر-١٠٠٠- ډيرې پيښې يې ثبت کړي دي چې په ٢٠٠٨ (١٣٨٧-١٣٨٦) کې خپره شوې ده . په دې مالوماتو کې لويه ننګونه هغه جبري ودونه دي . دجبري ودونو په اړه مرکه کوونکو ځوابونه ورکول (( زموږ په کور کې دجبري ودونوښه نه ليدل کيږي)) خو کله چې مرکه مخې ته تلل نو داسې ځوابونه واوريدل شول ((مانه غوښتل چې دميړه سره مې واده وکړم ،خو پلار مې ټينګار کاوه چې دغه واده ستادپاره ښه دی نوماځنګه دپلار دغه خبره ردکړې وای)) دجبري ودونو په اړه بايد ووايو چې دغه څه يوازي دپيغلو په حق کې نه بلکې دکونډو په حق کې هم صورت مومي چې هغه بايددمتوفا دکوم خپل سره واده وکړي .

((شيرن ګله يوه -٢٥- کلنه ښځه ده چې شپږ کلونه دمخه کونډه شوې ده .هغې دخپل ميړه څخه اولادپيدانکړ.دزاړه عمر له مخې هغه مړه شوې ميړه په کور کې اوسيدل خو په پای کې دميړه يو ورورغوښتل چې ددې سره واده وکړي خو شيرن ګله کولای شي ددغه کورنه بهر دکوم چا سره واده وکړي)) .

په ډيرو برخو کې دواده دحق دسرغړوني په اړه نارينه دښځو سره ديوې مادي متاع په ډول کارکوي په دې برخه کې درې ډوله ودونه راځي . خرڅول ،په بدو کې ورکول او بدلول. په لومړي برخه کې ښځې معمولا ديوه جنس په توګه يا په پيسو باندې خرڅيږي اويا هم دپور په بدل کې مامله کيږي . په بدو کې ورکول معمولا د دښمنيو دپای ته رسول دپاره ددغه ناوړه دود څخه کار اخيستل کيږي .په بدو کې ورکول معمولا نجوني د متوفا دکور دغړو ديوه تن سره واده وي . دمثال په توګه که ديوې قبيلې کوم بدماش دمقابله قبيلې يوکس ووژني نو دقاتل کوم خور يا لور دمقتول کس کوم چاته په نکاح کوي . او په دې ډول دغه جګړې ته دپای ټکی ږدي. هغه نجلۍ چې دمقتول کورته را واده شي نو په هغه کور کې دناوي په سترګه نه ورته کتل کيږي بلې د خدمتګاري او غلام کار ترې اخلي او ژوند يې په سره اور وي او بدلول هلته کيږي چې د واده دتوان دنه لرلو په صورت کې دواړې خواوې دوې نجونې سره بلدوي چې داهم په جبري ودونو کې شميرل کيږي په هر حال کې دجيز ورکولوحاجت نه شته ځکه چې دواړي خواوي بايد ډيرې پيسي ولګوي.

که په دې صورت کې يوه خوا د ستونزو سره مخامخ شي د هغه بلې خوا ژوند هم تريخيږي او ديوې په خاطر دغه بله هم سزا وينې، بدل ښځه په داسې يو حالت کې اچو ي چې هر څه ددې دلاسه وتلي دی او بايد امر او فرمان و مني او خپل هوس دخپل ورور اويا خور قرباني کوي.

ټوله جبري ودونه دافغانستان دمدني قانون په حکم سره غيري قانوني دي او ددوه کلونو زندان سزالري **د 2007 کال په اپريل کې (وري غوئي 1386) کي د پنجشير په ولايت کي دوه کسه په جګړه شوه، چي دهغوي يوه نوم احمد الله وو چي 25 کلن وو او ټپي شو، هغه دسيمي جرګې ته شکايت وکړ، نو جرګې پريکړه وکړه چي ددغه ټپ دجرم په بدل کي دي محبوبه چي 5 کلنه ده دده سره واده وکړي، که څه هم په دغه پيښه کي دپنجشير والي او دافغانستان دبشر دحقونو خپلواک کميسيون ددغه پريکړي مخالف وه، خو بياهم احمد الله ددغه نجلی سره واده وکړ.**

---

٥٤ -يونيفم ٢٠٠٨کال (٨٧-١٣٨٦) دښځو په وړاندې د تاوتريخوالي لومړی مالومات.

## دماشومانو ودول:

داچي په افغانستان کي دماشومانو ودونه رواج لري يوه بله اندېښنه ده. دافغانستان قوانينو دواده کولو قانوني سن دنجونو دپاره 16 او دهلکانو دپاره 18 ټاکلي دي. خو په عمل کي څوک ددغه قانون مراعات نکوي.

دهرات په ولايت کي يوه څېړنه ښئي چې دواده شوي تحصيل کړو ښځو 29٪ ئې د 16 کلني مخکي ودونه کړي دي[55]. خو دافغانستان دملي ستراتيژي پراختيا شميرنه راښئي چې په افغانستان کي 60٪ نجوني ددې ترمخه چې 16 کلني شي ودونه کوي.

په ماشومتوب کي واده کول په څو دليلونو سره ډېر زيان رسونکي دي، دغه ډول ودونه دماشومانو دزده کړي مخه نيسي او په کوچني سن کي هغوي دخپلو کورنيو څخه جلا کوي، برسيره پردې په ماشومتوب کي ودونه هغوي مجبوره کوي چې دجنسي او رواني تياري پرته دميړه سره يوځاي شي، او تر دې دمخه چې دهغې وجود ميندتوب دپاره تياري نيولي وي هغه ميندواره کيږي. له بلي خوا نه دمېډيکا مونډيال څېړنه راښئي چې هغه کسان چې په ماشومتوب کي ودونه کوي کله چې اولاد وزېږوي د روان له پلوه څخه هغوي دخپلو اولادونو څخه واټن نيسي او دهغه په نتيجه کي دمور او ماشوم رواني روغتيا ته زيان پيښوي [56]. په افغانستان کي کله ډيري ځواني نجوني او ډيرو زړو نارينه وته و ديږي، په داسي حال کي دغه نجوني دکور دخدمت کونکي حيثيت ځانته نيسي او دغه شان زاړه خلک بيا دجنسي توان څخه بې برخي وي او داولاد راوړلو توان نلري.

دافغانستان اساسي قانون جبري ودونه او دماشوم واده کول منع کړي دي. خو تر اوسه پوري داسي قضيه نه ده ثبت شوې چې پلار او مور دي دماشوم دا واده کولو په خاطر باندي دقانون له مخي پوښتل شوي وي.

"دفارياب په ولايت کي په 2001 کال کي (80-1379ـ يوه نهه کلنه نجلۍ "نسيمه" د 70 کلن سړي سره واده وکړ. دواده وروسته دغه نجلۍ دپورته سړي دخدمت کونکي په توګه کارکاوه. هغه سړي ډېر زوړ وو اودجنسي توان ئې دلاسه ورکړي وو، او ددغه نجلۍ سره جنسي اړيکي نه لري. کله چې نسيمه 16 کلنه شوه و ئې غوښتل چې دهغه نه جلا شي. محکمې دهغې دغه غوښتنه رد کړل او وئې ويل چې په نهه کلني کي دهغې واده قانوني بڼه لري. دافغانستان دبشر دحقونو خپلواک کميسيون غوښتنه وکړه چې دمحکمې دغه پريکړي ته دي بيا کتنه وشي د2007 کال په لومړيو کي (1386-1385) خو محکمې دغه پريکړه قانوني بللي او بيا کتنه ئې پرې نه ده کړې."

په ماشومتوب کي دنجونو ودول پرهغوي بده اغيزه ړدي. دمرکه کونکو دکورنيو څخه دماشومانو دواده کولو 1662 قضيې ويل شوي دي له دغه ډلي څخه 1494 نجونی (90٪) او 168 کسه ئې هلکان دي (10٪) دمرکه کونکو 10٪ ويلي دي چې دوي خپل اولادونه تر 16 کلني مخته ودوي. پور ددغه ودونو يو سبب بلل کيږي نه ټاکونکي سبب. دمرکه کونکو څخه 8٪ پور وړي نه وه خو 12٪ ئې پور ددغو ودونو سبب بللي دي ددغه ودونو 55٪ ويلي دي چې ددوي دماشومانو ودونه داقتصادي ستونزو دحل دپاره وه او 30٪ نور ئې چې بدلول وه هم په اقتصادي پوري اړه لري ځکه بدلول دواده دلګښت مخه نيسي.

## دکور نه تيښته:

په افغانستان کي په هيڅ قانون کي دکور نه تيښته ديو جرم په توګه وړاندينه شوې نه ده، خو بيا هم دکور نه دتيښتي په قضيو کي دمحکمو پريکړي او روئي مختلف شکلونه لرل، ډيرو محکمو هغه ته ديو جرم په توګه کتلي دي، ددې مانا داده چې ښځي بايد بې له محرم څخه دکورنه ونه وزي، هغه هلکان او نجوني چې دواده په مطلب دکورنه تښتي معمولاً هغوي بنديان کيږي، نارينه دښځي تښتولو او ښځه بيا دزناکولو په تور متهم کيږي، دغه څه دافغانستان دجزا دقانون د 425 مادې پرخلاف دي.

---

٥٥- مېډيکا مونډيال 2004. (1383- 1382) په افغانستان کي دماشومانو دودونو څېړنه.
٥٦- پورته سرچينه.

"هغه تهمتونه چې دښځو په وړاندي کيږي چې دوي زور واده کولو له امله دکورنه تښتي، دهغوي څخه نه ملاتړ دانديښني وړ څه دي. ددغه پيښو ډيري قضيې په سنتي شکل باندي دحل لاره مومي، چې په ډيرو برخو کي دقانون مخالف دي دمثال په توګه:

فرينه چې 19 کلنه ده د2006 کال په وروستيو کي (1385-1384) دسمنګان په ولايت کي ديو کس سره دواده کولو په مطلب دکوره څخه تښتي، پوليس هغه پيدا کړل او وئې نيول، قاضي پريکړه وکړه چې څرنګه چې فرينه دکورنه تښتيدلې ده نو هغې زناکړيده او هغوي دواړه ئې په 18 مياشتو بند باندي محکوم کړل. نو دوي ته دواده ورکولو اجازه ورنکړل شول.

دغه قضيه د 2007 کال په پيل کي (86-1385) دافغانستان دبشر دحقونو دخپلواک کميسيون پاملرنه ځانته واړه ول. دکميسيون دغوښتونو سره سره محکمې دخپلي پريکړي پرته بل څه ونکړل، خو بياهم ځيني قضيې دکميسيون په غوښتنه باندي دحل لاره پيدا کوي. دمثال په توګه دسرپل ولايت څخه عاطفه چې 19 کلنه ده په 2007 کال کي (86-1385) کي له دې امله چې کورنی ئې يو چاته په زوره واده کوله له خپله کور نه وتښتيده او دبل چا سره ولاړه، که څه هم دغه دوو نکاح پاېه لرله، خو پوليس په دې خاطر چې هغه ترمخه دبل چا سره کوز ده شوې وه هغه ئې بندي کړل، دکميسيون په هڅو او والي صاحب په زيار دغه ستونزه حل شول."

په دې وروستيو کي هڅه شوې ده چې دکورنه دتيښتي دقضيو دحل دپاره داسي يو مرکز جوړ شي چې ښځي پرته له دې چې زندان ته وليږل شي په پورته ځاي کي قضيه حل کړل شي. جبري ودونه يو دهغه سببونو څخه دي چې نجونی او ښځي د کورنه تيښته کوي. دداسي مرکزونو جوړول ددغه ستونزي دپاره ښه بهير دي، ځکه دغه ډول موسسې دکورنی تاوتريخوالي مخه نيسي او دجبري ودونو کچه راټيټوي په دغه مرکزونوکي بايد دجنسيت دموضوع يو ماهر هم کارمندوي اوس په افغانستان کي څو دغه ډول مرکزونه شته او فعاله دي، يوازي هغه مزکزونه چې دجنسيت موضوع ته پاملرنه لري هغوي دجنسيت ماهران لري او بس او دوي خپل کار دقانون دمخي پرمخ بيائي. نور پاته مرکزونه دکورني مرکزونو ترنوم، لاندي کارکوي او کله کله هلته تبعيض رويه هم ليدل کيږي.

## *کورني تاوتريخوالی:*

په افغانستان کي کورني تاوتريخوالي په پريمانه اندازه رواج لري، څرنګه چې په ټوليزه ژوند کي دښځو دګډون کچه په نسبي ډول لږ ده، نو ډير ځله دښځو په وړاندي تاوتريخوالي په کورونو کي دننه کيږي. ديونيفم دشميرني له مخي 80٪ تاوتريخوالي دښځو په وړاندي په کوروکي دننه کيږي، او دافغانستان دبشري دحقونو دخپلواک کميسيون په قضاوت دغه شميرنه دتائيد وړ ده. کورني تاوتريخوالي يوه جدي ستونزه ده، چې دښځو په وړاندي دتيريو شمير راښئي چي دشکايتونو 1/3 برخه جوړ وي چې کميسيون ته رارسيدلي دي.

ډير ځله تاوتريخوالي دومره سخت وي چې ښځي دکورونو څخه تښتي او دې ته تياري دي چې په زندان کي واوسي او کورته ولاړي نشي. ډير وخت ښځو ته دغه موقع نه برابريږي چې دکورنه وتښتي، نو ځکه ځني ئې ځان وژني او ځيني نوري بيا د تاوتريخوالي له امله مړې شي. ډيرځله ددغو پيښو ځيړنه نه کيږي. رواني تاوتريخوالي او غفلت يو بل ډول ظلم دي چې دښځو په وړاندي ترسره کيږي، يو نارينه کولاي شي چې ښځه په طلاق باندي وويروي او يا هم خپل ميرمن دماشومانو څخه جلا کړي او ياهم دکور داړتيا وو څخه اوره خالي کي. څرنګه چې ډيري ښځي محرومه دي او دښووني دپاره وخت نلري يا لږ وخت لري نو دا ډول تاوتريخوالي پرښځو منفي اغيزه کوي، ځکه هغوي ډير ځله دخپل ميړه دخپلوانو پرسخاوت باندي متکي دي.

"په خوست کي نيک بخته چې 12 کلنه ده ديوه زاړه سړي سره واده کړي دي، هغه دکور ددرانه کارونو دپرمخ بيولو څخه عاجزه وه، ځکه ديوه کور کار د 12 کلني نجلی دپاره ډير سخت دي، نو ځکه هغه دخپل ميړه دهوس په خاطر هره ورځ وهل کيده، په پاي کي په 2006 کال کي (1385-1384) چې نيک بخته 16 کلنه شوه او دخپل ميړه سره ئې وضعه کړکيچنه شوه او دهغې ميړه هغه دتبر په وسيله مړه کړل. دهغې کورنی ددغه قضيې دځيړني دپاره اړونده ځانګو ته شکايت وکي، خو چاغوږ ورته ونه نيوی. د امنيت رياست

دغه پېښه تاييد کړل، خو بياهم دغه پېښه ونه څېړل شو. ترڅو مياشتو وروسته چې دافغانستان دبشر دحقونو خپلواک کميسيون جوړشو، په دې وخت کي دنيک بختي پلار نهيلي شوي وو او ويرول شوي وو چې دپيښي دپلټولو څخه لاس واخلي."

### *وړانديزونه:*

دافغانستان حکومت دتبعيض د مينځه وړلو دپاره بايد دنړيوالو قوانينو او افغانستان اساسي قانون په مطابق کړني وکي دا په دې مانا ده چې حکومت بايد:

- دواده کولو سن دنجونو او هلکانو دپاره بايد تر 18 کلونو لږ نه وي.
- دواده ثبتول بايد په اسانه طريقو سره په ټول هيواد کي رواج شي نه يوازي دولايتونو په مرکزونو کي.
- حکومت بايد داساسي قانون په مطابق داسي مقررې او قوانين جوړ کړي چې هغه دنړيوالو وعدو سره په درناوي باندي دخلکو حقونه، دهغوي ملکفيتونه او د دواړه پلوه ازادي او دکورنی جوړولو حق او دواده کول او يا هم يو دبله جلا کيدل په ډيره درسته او قانونمنده توګه تنظيم کړي.

دښځو دحقونو دملاتړ په خاطر لازم دي چې حکومت دتاوتريخوالي د له مينځه وړلو دپاره داسي مقررې جوړ کړي چې ددغه ناوړه چلند مخه ونيول شي. هغه تاوتريخوالي چې پايله ئي مړينه وي هغه ته په ځانګړي توګه پاملرنه وشی، دښځو څخه دملاتړ ځانګی نبايد يوازي په روغتونونو او روغتيايی کارمندانو پوري محدود پاته شي.

دافغانستان دبشر دحقونو خپلواک کميسيون دحکومت نه غوښتنه کوي تر څو تخصصي مرستي لکه درمل کونه، مشوره، روغتيايي خارني ټولنيز خدمتونه او نوري اسانتياوي دهغو ښځو دپاره برابري کړي کوم چې دجبري ودونو قرباني شوي دي. بايد دقانون مجريانو، قضايي کارمندانو، دمدافع وکيلانو او نورو اړونده ځانګو دپاره لارښونه برابر کړل شي چې څرنګه دهغو ښځو سره مرسته وشي چې په زوره واده شوي دي.

## دژوند مناسبه کچه:



دژوند دمناسب سطحي حق داقتصادي، ټولنيز او فرهنګي نړيوال ميثاق په 11 ماده کي ليکل شوي دي په دغه حق کي دمناسب استوګنځي حق، دملکيت امنيت، دجبري ايستلو منع کول، دلباس، اوبو، روغتيا خو ړو او دلوږي مخ نيولو حق شامل دي.

داقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو کميټې ويلي دي "دولتونه دنده لري چې دخپلو اتباعو دپاره دومره خواړه برابر کړي چې دهغوي دپاره کفايت وکړي، ترڅو هغوي دخوړوله پلوه ډاډه وي او هغوي دلوږي سره مخامخ نشي" [٥٧].

داقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو دنړيوال ميثاق په تصويب سره حکومت وعده کړيده تر څو دلوږي دمخ نيولو دپاره په ملي او نړيواله کچه باندي ځيني تدبيرونه ترلاس

[٥٧]- داقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو دکميټې ټوليز نظر، شميره 12 (1999) دپوره خو ړو حق 14 ماده.

**لاندي ونيسي. حکومت په ځانګړي توګه مکلفيت لري ترڅو دزيانمنونکي او محرومي ډلي دپاره دهغوي دخوړو دحق په خاطر پوره خواړه برابر کړي.**

**دزرکلني پراختيا دهدفونو پربنسټ دحکومت مسووليت دفقر او لوږي ورکولو دپاره دهغه کړنلاري سره مطابقت کوي. که څه هم ددغه هدف دځيړلو دپاره دځينو بنسټيزو ارزښتونو شاخصونه تراوسه پوري هم ځانګړي شوي نه دي، خو دهغه معلوماتونو له مخي چې دماشومانو دکم وزني په هکله شميرنه ترسره شوې ده ښيي چې د5 کلونو لږ سنه ماشومان ډنګردي دهغوي سره دمرستي دپاره چي په سلو کي 15 شمير راټيټ کړل شي نو حکومت ممکن تر 2020 پوري (1399-1398) دغه واټن ووهي.**

**دافغانستان داساسي قانون 14 ماده دژوند دښه کولو او استوګنځيو برابرولو دپاره دعملي ګامونو اخيستلو ته اړتيا لرل لازم ګڼلي دي او دکوچيانو داستوګني غوښتنه ئي کړيده. دملکيت امنيت، استوګنځي، اوبه او خواړه هغه بنسټيزي څلور مسئلې دي چې د افغانانو دمناسب ژوند دسطحي په لاره کي خنډګرځي. دغه مسئلې په نامتناسب ډول باندي، بيرته راتلونکي، بيځايه شوي او کوچيان متاثره کوي او په دې ډول دراستنيدونکو دراتلو مخه نيسي.**

## ***دمناسب استوګنځي حق:***

**داقتصادي، ټولنيز او فرهنګي نړيوال ميثاق پربنسټ حکومت مسووليت لري چې دمناسب ژوند سطحي زمينه خلکو ته برابره کړي او ټول خلک داسي ژوند ولري چې په هغه کي دمناسب استوګنځي حق (د 11 مادي پر اساس) پکي شامل دي. دمناسب استوګنځي حق دانه دي چې يو څوک پر خپل سر باندي يوه سرپناه ولري، بلکي ددې حق مانا داده چې مناسبه استوګنځي په يوه سولمني سيمي کي ولري او دانسان کرامت پکي خوندي وي. د** CEDAW **دکنوانسيون په مطابق حکومت دنده لري چې په کليو کي دښځو په وړاندي تبعيض دمناسب استوګنځي په لرلو سره دمينځه يوسي. (14) ماده (2جز) (2).**

**دنژادي تبعيض دله مينځه وړلو دکنوانسيون په مطابق حکومت بايد قومي تبعيض منع کي او هغه دمناسب استوګنځي په لرلو سره دمينځه يوسي (5 ماده)**

**په مناسب استوګنځي کي دکورکيفيت، داوسيدونکو شمير، دملکيت امنيت، دجبري ايستلو منع کول او دپاکي لرل شامل دي. داسي عوامل لکه دکورنو دپروژو دپاره دمرستو نشتوالي، په دې برخه کي دحکومت دموسسو صلاحيت نه لرل او دسياسي ارادې نشتوالي ددې سبب ګرځيدلي دي چې په افغانستان کي دټولو هيوادوالو دپاره مناسب کورونو جوړول يوه لويه ستونزه شي. که څه هم حکومت دکورنو دبرابرولو پروګرام اعلام کړي دي، خو په دغو اعلامونو کي تسلسل موجود نه وو او دغه پروګرامونه پلي کړل شوي نه دي. داقتصادي، ټولنيز او فرهنګي کميټې ته دافغانستان ددوهم رپوټ وړاندي کول او په هغه کي دپورته ستونزو سببونه دملکيت ثبتولو موضوع ددغه پورژو ستونزي بللي دي. خو دغه څه دپورته مسئلو دپاره کافي دليلونه نشي کيداي.**

**داستوګنځي ډيري پروژي په کابل کي پرتي دي. دنړيوال بانک په مرستو سره حکومت په دې بوخت دي چې په ده سبز کي 20000 استوګنځي جوړ کړي او دکابل ښار د 19 ناحيوو داستوګنځيو حالت ته ښه والي ورکي. په هرحال په دې لاره کي پرمختګ ډير ورو پرمخ ځي او اوس پر داسي ښارګوټی چي د 26 دلو، په نوم ياديږي کار روان دي چې هغه د 15000 کسانو دپاره په نظر کي نيول شوي دي او اوس اوس دکابل دښار په شاوخوا سيمو کي دهغه کارونه روان دي. کله چې دغه پروژه بشپړه کيږي دهغه 65٪ برخي به هغه کارمندانوته ورکول کيږي چې په ټوليزو خدمتونو باندي بوخت دي او پاته کورونه به ټولو خلکو ته وويشل شي. دغه پروژه د 2007 کال په پيل (1386-1385) کي فعاله شوه، سيمه وکور جوړولوته تياره شوې ده او دځينو کورونو بنسټ ايښودل شوي دي، دپورته کورونو ارزښت به د 20000 څخه بيا تر 30000 امريکايي ډالرو پوري وي. هغه کسان چې ددې کورونو دپاره مستحق ګڼل کيږي ديوې کميټې له خوا ټاکل کيږي، هغوي بايد دهمدغه ولايت وي او دهغوي دکور دغړو څخه هيڅ يوئې بايد په کابل کي دمځه کور نه لرلاي او نه لري. دغه څه ډير هغه کسان چې بيرته هيواد ته راستانه شوي دي او نشي کولاي چې دمختلفو دليلونو له کبله خپلو ولايتونو ته ورشي ددغه حق څخه محرومه کوي، نو ځکه**

دغه کسان ترټولو زيانمنونکي دي. دښاري پراختيا وزارت په نظر کي لري چې ورته شان پروژې په کوچني کچه باندي په نورو سيمو کي لکه هرات، کندهار او نورو ښارونو کي پيل کړي خو ددغو پروژو دپيل وخت لاندي ټاکل شوي. که څه هم د دلو 26 ښارګوټي جوړ ولو مطلب دمنځني پرګني داستوګنځيوو دکمبودي دپوره کولو دپاره دي خو ددغه شان ښارګوټو جوړول دډيرو زيانمنونکو کسانو اړتيا ته پاملرنه نه کوي. که د 26 دلو پروژې ترڅنګه نوري پروژې فعاله نشي په حقيقت کي حکومت دډيرو غريبو کسانو دحالت ته پاملرنه نلري په هغه مرکو کي چې د ښاري پراختيا وزارت سره شوي دي هغوي منلي ده چې دوي دفقيرو کسانو دستونزو څخه خبر دي او دا ددوي دانديښني سبب ګرځيدلي دي، خو کله چې ګورو په عمل کي دوي دپورته کسانو دستونزو دحل دپاره کوم پلان نلري او هغوي ئې هير کړي دي دښاري پراختيا وزارت هڅه کوي چې دخصوصي پانګي اچوونو پروګرام ته پراختيا ورکي، دا کار يو مهم ګام بلل کيږي خو ترهغه لا مهم دادي چې په دغه ډول پلان کي بايد دښار اوسيدونکي دلومړيتوبونو په سر کي ځاي ولري. که مطلب داوي چې دهيواد اوسيدونکي دژوند مناسبه سطحه ولري نو اړين بريښي چې بيړني پلانونه ترلاس لاندي ونيول شي او دفقيرو کسانو دپاره اسانتياوي برابري کړل شي او دوي مطلوبو ځايونو ته وليږدول شي.

داستوګنځيو برابرول په ښارونو کي ډيره سخته ستونزه ده. ديوه پلوه ډير کسان هيواد ته بيرته راستانه کيږي او دبله پلوه څخه دمځکو دبيې لوړوالي په ښارونو کي داستوګنځيو نلرلو بحران راوستي دي. په هغه مرکو کي چې دبشر دحقونو دسيمه ييزو څارونکو له خوا ترسره شوي دي او کيداي شي چې دزيانمنونکو کسانو نمايندګي وکړي 40٪ ته کورونه په ميراث پاته دي 20٪ خلکو خپل کورونه پيرودلي دي او 20٪ بيا خپل کورونه په کرايه باندي اخيستي دي. دغه شميرني داستوګنځيو پرکړنلارو ډيره اغيزه اچوي. په ښارونو کي 10٪ زيانمنونکي وائي چي دوي دکور دلګښت توان نلري، د16٪ وضعيت لاروښانه ندي او 10٪ بيا دخپلوانو په کورونو کي ژوند کوي، 2٪ بيا دې ته مجبور شوي دي چې داستوګنځيو څخه وايستل شي، دغه ډلي يا په غير مالکانه ډول باندي کورونه نيولي دي او يا خوهم دخپلو خپلوانو سره ژوند کوي. دغه شميرني راښئي چې دښارونو په مرکز کي ارزانه کورونه نشته، په کابل کي ډير کورونه په دې سبب نړول شوي دي چې په غير رسمي سيمو کي وه او دسړک دپراخولو په خاطر بايد ونړول شي او يا هم دنوي پلان دپرمخ بيولو په خاطر دغه څه کيږي. په ښارونو کي دغريبو خلکو داستوګني دپاره کوم پلان ترلاس لاندي نشته. دښاري پراختيا وزارت داسي ادعا لري چې دوي ديوه پروګرام جوړلو په حالت کي دي چې دهغه له مخي به دغه کسان دمناسب ځاي ته وليږدول شي، دغه پروګرام به په 2009 کال کي (1387-1388) پيل شي خو دافغانستان دبشر دحقونو خپلواک کميسيون په دې و نه توانيدي چې ددغه پروګرام کومه پاڼه ترلاسه کړي.

دښاري پراختيا وزارت دکور جوړولو دپروګرام او پلي کولو او په ښاري سيمو کي د اباديو مسئوليت لري په داسي حال کي ددغه وزارت صلاحيت دښاروالي دصلاحيت سره په ټکر کي دي کوم چې دښار مځکي ئې په لاس کي دي او دجمهور رئيس ته مسووليت لري. دغه څه ددې سبب شوي دي چې هغه پروژې او پروګرامونه چې ددغه وزارت له خوا دغريبو خلکو دليږدولو دپاره ترسره شوي دي، او يا بيځايه شوي دي، ډير ستونزمن دي. په دې لاره کي يوازني پرمختګ داستوګنځي دپاره دمالي چارو دقانوني تشي ته رسيدل دي. دښاري پرمختيا او ماليه چارو وزارتونو په ګډه توګه دکورنو دپاره دپور اخيستلو قانون طرح کړي دي چې اوس اوس ملي شورا پرهغه باندي بحثونه کوي ددغه قانون په تصويب سره به هيوادوالو ته دا زمينه برابره شي چې دکور جوړولو دپاره څه پور ترلاسه کړي.

په کليو کي هم داستوګنځيو وضعه پيچلي ده. خو ددغه وضعي دڅيړلو دپاره لږي کړني شوي دي. هغه معلومات چې دکليو داستګنځيو دزيانمنونکو اوسيدونکو په هکله دبشر دحقونو دڅارونکو له خوا ترسره شوې ده داسي راښئي: 75٪ دکليو اوسيدنکو ويلي دي چې دوي ته کورونه په ميراث رسيدلي دي. 10٪ خلکو ويلي دي چې دوي دخپلوانو په کورونو کي اوسيږي او 10٪ بيا ويلي دي چې دوي خپل کورونه پيرودلي دي. دکليو اوسيدونکو 2٪ وائي چې دکورونو لګښت ته ناتوانه دي او له دغه ډلي څخه 40٪ ئي په کرائي کورونو کي ژوند کوي، په داسي حال کي چې 25٪ ئې دخپلوانو په کورونو کي ژوند کوي. برسيره پر دې دکليو 4٪ اوسيدونکي (دښار په پرتله 2٪ دښارو اوسيدونکي) دکور څخه دايستلو دخطر سره مخامخ دي. که چيري دغه شمير په رښتيايي عددونو کي وليکل

**شي نو موضوع ډير اهميت پيدا کوي. يعني ديو مليون کورنيو په شاوخوا کي ددغه کورنيو 70٪ ئې دخپلوانو سره ژوند کوي او 10٪ ئې په غير مالکانه نيولو کورونو کي اوسيږي. دغه شميرنه راښئي چې دمځکو کمبودي شته خو په دې برخه کي دمځکو په هکله ښه کړنلاره نشته. دافغانستان دبشر دحقونو خپلواک کميسيون په کليو کي دکورونو دبرابرولو دکوم پلان څخه خبر نه دي، يوازي دهغو کسانو سره د ځينو مرستو څخه خبر دي چې دانساندوستي له مخي دراستانه شوي او داخلي بيځايه شوي کسانو سره کړي دي.**

## *دملکيت امنيت:*

**دملکيت امنيت دټرلو افغانانو دپاره په ځانګړي توګه دمناسب استوګنځي دحق د تأمين دپاره مهم دي، دملکيت امنيت دموجودي اقليمي توپير، فقر، جبري ايستل، ځور او ازار او نورو له کبله ډير پيچلي دي. په حقه چي داستوګنځي حق په يوه سوله ييزه چاپيريال کي د امن او عزت په سترګه وکتل شي. دتيرو ديرشو کلونو کړکيچ ددې سبب شو چې دمځکو په هکله ډيري قانوني ادعاوي وشي. دغه څه ددې باعث وګرځيدل چې يوڅوک په کلکه باندي ديوې ټوټې مځکي غوښتونکي شي. خو دغه څه لا ډيره پيچلي ستونزه ده ځکه چې دري مليون افغانان لا اوس هم په بهر کي مهاجر دي نو دمځکو دسرنوشت ټاکل دهيواد اوسني اوسيدونکو په هکله دا ماناورکوي چې هغوي چې په بهر کي اوسيږي ددغه مځکو دملکيت نه محروميږي.**

**دملکيت دامنيت اوسني مکانيزم يا خوډير موثر نه دي او يا خوهم صلاحيت نلري په 2002 کال کي (1381-1380) يوه ځانګړې محکمه جوړه شوه چې دمځکو په هکله دعوې او قضيې حل و فصل کړي، خو د 2007 کال په جنوري کي (د 1385 کال مرغومي) دغه محکمه منحل شوه، او اوس دغه قضيې په مدني محکمو کي څيړل کيږي. خو بياهم په افغانستان کي ډيري قضيې دسنتي جرګو او شوراګانو دخوا حل او پريکړي پري کيږي. په دغه شان قضيو کي کله کله عرف دقانون ځاي نيسي. دغه يوه ستونزه ده ځکه عرف په ډيرو حالاتو کي دمدني قانون پرخلاف وي او په ځانګړي توګه دميراث دقانون سره سرنخوري په ډيرو حالاتو کي دشورا ګانو سندونه چې دمځکي دملکيت په هلکه دي دحکومت له سندونو څخه ډير دي، خو دغه اسناد کامل شوي نه دي او کله کله ديو بل پرضد وي. دځو غير دولتي سازمانونو سره مرکه وشوه هغوي وويل چې دمځکو دقضيو دحل دپاره شوراګانو ښه رول لوبولي وو.**

**دبشر دحقونو سيمه ييز څارونکو ډيري داسي قضيې را په ګوته کړي دي چې مځکي په غير قانوني توګه نيول شوي دي دشلو کورنيو کورونه ددولتي کارمندانو له خوا لاندي شوي دي 208 کورنئ دنامعلومو کسانو له خوا ، 50 کورنئ د فرماندهانو او 146 کورنئ بيا د سيمي د اوسيدونکو له خوا دخپلو کورونو څخه ايستل شوي دي. 66 کورنيو دخپل ملکيت پر سرباندي ستونزي لرلي ځکه چې هغوي دخپل ملکيت سندونه نلري.**

**په کابل کي 70٪ اوسيدونکي په غير رسمي توګه دملکيت دامنيت پرته په کورونو کي اوسيږي په کابل کي دغه غير رسمي اوسيدونکي دخپل ژوند دسطحي دپاره پانګه اچوونه کولاي شي ځکه 1.3 مليونه ډالره په دغه برخه کي په غير رسمي توګه په کار اچول شوي دي [58]. دامهمه ده چې حکومت ددغه پانګي اچوني اهميت وپيژني او دغه استوګنځي جوړوني رسمي کړي ترڅو په ډاډه ډول ددغو پانګونو ونډه ډيره شي.**

## *اوبه:*

**داقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي نړيوال ميثاق 11 ماده په لومړي برخه کي دحقونو په هکله "دکافي خوړو، لباس او استوګنځي په ګډون " په روښانه توګه وائي چې هغه دژوند دمناسب ژوند دسطحي څخه سرچينه اخلي او دهغه پلي کولو دپاره اړين بريښي چې هيڅ شي ددغه حق مانع نشي کيدلاي.**

[58]- سيد ذبيح الله مجيدي 2006 (85-1384) په کابل کي وروستي دربدنه دمعماري ټولنه.



داوبو حق په ښکاره ډول دمناسب ژوند دسطحي په حق کي راغلي دي، ځکه دغه حق دانسان دژوندي پاته کیدلو دپاره اړین شرط بل کیږي، برسیره پردې داقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي کمیټې لاتر مخه ویلي وه چې د اوبو حق دپورته میثاق د 11 مادې پربنسټ یو انساني حق دي[٥٩].

داقتصادي، ټولنیز او فرهنګي کمیټې په وینا چې داوبو حق ټوله کسان ددې مستحق ګڼي چې هرکس پاکي اوبه چې دڅکلو وړ وي، ارزانه وي هغه ته لاسرسي ولري. دپاکو اوبو لرل په وجود کي د اوبو دکمبودي او حتا دمړیني مخه نیسي، دناروغیو مخنیوي کوي او دکور دخوړو او پخلنځي دپاره اړین توکي بلل کیږي. دپاکو اوبو په لرلو سره چې دښه کیفیت لرونکي وي دانسانانو داړتیا وو په پوره کولو کي مرسته کوي چې دغه حق باید بیله تبعیض او توپیر څخه و هرچاته میسره وي.

ډیر کسان داسي ژوند کوي چې دهغوي کورنۍ د پاکو او ډاډه اوبو ته لاسرسي نلري. د اوبو او فاضلاب دمرکزي ادارې په وینا چې 70٪ دښارونو اوسیدونکي پاکو او ډاډه اوبو ته لاسرسنه نه لري دبشر دحقونو سیمه ییز څارونکي عقیده لري چې په ښارونو کي 40٪ اوسیدونکي او په کلیو کي 70٪ اوسیدونکي وپاکو اوبوته لاسرسي نلري او دغه یوه ستونزه ده. په دغه شمیرنه کي د اوبو کیفیت او مصئونیت په نظر کي نه دي نیول شوي. څو شیان ددغه شي سبب ګرځیدلي دي چې هغه عبارت دي دپیسو کمبودي. داوبو پیژندلو خیړنه او فني ماهرتوب ددغه خنډونو دمینځه وړل اسانه کار نه دي او دخلکو دژوند پرکیفیت ناوړه اثر اچوي داوبو رسولو او فاضلاب دځانګي یو لوړ پوړي کس ویلي دي چې نړیوال بانک اټکل کړي دي چې په افغانستان کي د 34 لویو ښارونو او 40 کوچني ښارونو ته دپاکو اوبو رسولو دپاره 2.1 ملیارډ امریکائي ډالروته اړتیا شته. خو په اوس حال کي دغه څآنګه یوازي 45 ملیونه امریکائي ډالره په لاس کي لري چې هغه دکابل او 14 نورو ښارونو دپاره ځانګړي شوي دي.

خو دا باید ووایو چې درسمي شمیرونو وړاندي کولو په برخه کي چي حکومت په خپل دوهم رپوټ کي وړاندي کړي دي، توپیرونه لیدل کیږي، دمثال په توګه په رپوټ کي ویل شوي دي چې 31٪ کورنۍ وپاکو اوبو ته لاسرسنه لري، خو کوچیان 16٪ دکلیوالو کورنیو په پرتله 26٪ او ښاري اوسیدونکو 64٪ وپاکو اوبو ته لاسرسنه لري. دولایتونو په پرتله په ښارونو کي لومړي کندهار دي چې ښاریان ئې 99٪ پاکي اوبه لري کابل ښار 71٪ او بلخ 67٪ پاکي اوبه لري. ددې برعکس بغلان 35٪ دهرات ښار 35٪ او کندز په 15٪ باندي هغه سیمي دي چې په کښته سطحه باندي پاکي اوبه لري، خو دغه څه د حکومت دمقامونو له خوا څخه ونه منل شوه. دمثال په توګه داوبو رسولو دمرکزي ریاست ځانګي په قول چې د کابل په ښار کي یوازي 30٪ اوسیدونکي وپاکو اوبوته لاسرسي لري او تر 2013 ز کال پوري به دغه لاسرسي و 50٪ ته لوړشي. ددغه مقام دوینا له مخي هغه رپوټ چې

---

[٥٩]- داقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو کمیټه، ټولنیز نظر 6 شمیره، دزړو کسانو حقونه 1995 5 بند او 32 بند.

په دې هکله ترلاسه شوي دي دهرات ښار به دپاکو اوبو د لاسرسي له مخې دافغانستان دنورو ښارونو په پرتله ترټولو مخته وي او 90٪ اوسيدونکي به ئې پاکي اوبه ولري.

داوبو دزيرمو پراخوالي او دمځکي لاندي اوبو دپاکولو اونل غزوني هغه بنسټيزي لارې دي چې داوبو دلاسرسي په برخه کي ستري اغيزي لري. دغه څه و ډېر کار او فني ظرفيت ته اړتيا لري او داسي اټکل کيږي چې تر 2013 ز کال پوري (92-1391) به دغه څه ميسره نشي. ددغه څه دترسره کولو سره سره به بياهم دمځکي لاندي دزيرمو دپاکولو سره دکابل ښاريان به يوازي 50٪ اوبو ته لاسرسي ولري. داوبو پاکول ډېر مهم څه دي، په کابل ښار کي ډېر ځاګان دپاکو اوبو لرونکي نه دي ځکه ددغه ښار فاضلاب سر خلاصي دي او داوبو دپاکولو سيستم نه لري نو په غير له دې چې دکابل دښار دبهر نه پاکي اوبه راوړي او يا هم داوبو پاکولو مدرني کارخانې جوړي کړي، نل غزوني وکړي له دې کار نه پرته به د کابل دښاريانو دپاره چې مخ پرزياتيدو دي دپاکو اوبو رسول امکان ونه لري داوبو دمرکزي ځانګي ديوه مسئول په قول چې ددغه کار دترسره کولو دپاره 750 مليونه ډالره پکار دي، چې دغه مقدار پيسي ددغه ځآنګي دبودجې څخه اوړي.

دزيانمنونکو کورنيو ځواب داوو چې راتلونکي تورښکاري. خو دښار اوسيدونکي وويل چې 90٪ ښاري کورنۍ يوازي دناپاکو اوبو ته لاسرسي لري 10٪ مرکه کونکو وويل چې هغوي مجبوره وه چې دنل څخه داوبو راوړلو دپاره يو ساعت ودريږي ترڅو نوبت ور ورسيږي. دا په دې مانا ده چې داوبو راوړل دځينو کسانو دپاره ټوله ورځ نيسي. دکليو 50٪ اوسيدونکي دسرپوښلو اوبو څخه ګټه اخلي، په داسي حال کي چې 50٪ نور بيا دسر خلاصو سرچينو څخه اوبه ترلاسه کوي. 40٪ مرکه کونکو ويلي دي چې دهغوي اوبه نا پاکه دي خو 30٪ نورو بيا ويلي دي چې دوي دهغه ځاي څخه اوبه راوړي چې څاروي ئې هم له هغه ځاي نه څکي 1/4 مرکه کونکو ويلي دي چې دوي د اوبو راوړلو دپاره بايد يو ساعت په نوبت کي ودريږي، له دغه ډلي څخه 32٪ کورنيو ويلي دي چې هغوي د اوبو راوړلو دپاره بايد 15 دقيقي ديوې خوا لاره ووهي او 10٪ ئې ويلي دي چې هغوي د اوبو راوړلو دپاره بايد يو ساعت لاره ووهي، دغه څه دانديښني وړ دي ځکه په کليو کي داوړ ده واټن لاره وهل ستونزمن دي. په سنتي ډول ښځي او ماشومان داوبو راوړلو مسوووليت لري او داوړدې لارو وهل هغوي دجنسي ازار ورکولو، دماين چاودلو او چاوديدونکو موادو دخطر سره مخامخ کيږي.

داوبو رسولو داداري ځانګي دغه ستونزي په ګوته کړي او دهغه دحل دپاره ئې کار پيل کړي دي. نجيب الله پتڼ دمرکزي اداري ځانګي مشر وائي چې داوبو رسولو او فاضلاب دستونزي دحل دپاره په افغانستان کي و يوي اوږ دمهاله ستراتيژي ته اړتيا ليدل کيږي. هغه دکابل رود دحوض دپروژې څخه ملاتړ وکړ کوم چې دهغه هدف دادي چې دڅو کوچني رودونواوبه به دکابل ورود ته لارښودکيږي او بيا به داوبو څکلو او دکښت د اوبولو دپاره ترې ګټه اخيستل کيږي، او يا به هم داوبو دانرژي څخه نوره ګټه ترلاسه کيږي. هغه زياته کړه چې که داوسيدونکو دپاره داوبو رسول مطلب وي او دتير 15 کلونو وچ کالي اترونه دمينځه يوورل شي نو افغانستان بايد دځيلو اوبو دزيرمو دپراخولو دپاره کار وکړي. د اوبو رسولو او فاضلاب مرکزي ادارې يوه ستراتيژي ترلاس لاندي نيولي ده چې داجرا په حال کي ده.

لومړي مرحله چې روانه ده هغه دټانکر په وسيله داوبو رسولو او خواړو ورکولو دنده ده. دوهمه مرحله بيا دژورو څاګانو کيندل او په هيواد کي داوبو پيژندلو دکار پيل دي او دريمه مرحله بيا د کابل د رود دحوض پراخول دي چې په هغه کي د اوبو دزيرمو پراخول او دباران داوبو زيرمه کول دي، په هرحال ددغه کار دپاره داوبو مرکزي اداري ځانګي مالي پانګه ددغه کار دپاره کفايت نکوي.

## دخوړو حق:

دخواړو حق په يو شمير نړيوالو اعلاميو او کنوانسيونونو کي لکه دبشر دحقونو نړيواله اعلاميه، داقتصادي ټولنيزو او فرهنګي حقونو نړيوال ميثاق دماشومانو حقونه او دلوړي او بې کيفيته خواړو پيژندلو او دمينځه وړلو نړيواله اعلاميه کي ملاتړ شوي دي. داقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو نړيوال ميثاق په 11 ماده کي وائي چې ټوله خلک دژوند دمناسبي سطحې لرونکي حق او دخواړو حق لري چې پوره خواړه ځانته او کورنۍ ته ولري دا حق لري او همدارنګه دپورته مادې په دوهمه برخه کي راغلي دي چې بايد

**وروكسانو او هغه كسان چې دلوږي او بي كيفيته خوړو دلاسه ناتوانه شوي دی بيړني ګامونه واخيستل شي.**

**داقتصادي، ټولنيو او فرهنګي حقونو كميټه دټولنيزو نظر په 12 ګڼه كي دپوره خوړو حق په برخه كي ليكي "دپوره خوړو حق هغه وخت ميسره كيږي چې ټوله نارينه، ښځې او ماشومان په يوازي توګه يا هم دنورو سره په ټوليزه توګه تل پوره خوړه او ياهم اقتصادي او فزيكي وسيلي دهغه دپيدا كولو دپاره ولري "[٦٠] .**

**دپوره خوړه حق په دې مانا نه دي چې خوړه دي په موټه (بيله خرځلا و) څخه خلكوته وويشل شي، بلكي دهغه مانا داده چې حكومت بايد دلوږي دمخنيوي دپاره دټولو خلكو دحق ملاتړ وكي.**

**دخوړو حق حكومت په دې باندي مكلفه كوي، چې داقتصادي، ټولنيز او سياسي سالم چاپيريال تيار كړي ترڅو دهغه په مرسته هيوادوال وكولاي شي خپل دخوړو اړتيا وي پوره كاندي په اقتصادي برخه كي ناپوره فعاليتونه يوازي دلوږي او بي كيفيته خوړو سبب نه ګرځي بلكي دغه څه دبزګرانو پر توانائي او دهغوي دژوند پرتيرولو او خلكو ته دپوره خوړو برابرولو باندي هم اثر اچوي. همدارنګه دغه حق دافغانستان زر كلني پراختيا دلوميږی شميري سره اړه لري چې هغه دلوږي دمينځه وړل دي.**

**دخوړو امنيت په افغانستان كي يو ډير ښه شاخص دفقر دپاره بلل كيږي. عايد لاس ته راوړل دفقر دشاخص په توګه داعتبار وړنه دي دبشر دحقونو سيمه ييز څارونكي معلوماتونه داسي ښئي چې 37% زيانمونكي كورنۍ په ورځ كي تر 50 افغانيو لږ عايد لري، په داسي حال كي چې 22% كورنيو ويلي دي چې ددوي عايد په ورځ كي تر 50 افغانيو ډير دي 40% نورو كورنيو ددې سوال ځواب ورنكړ ځكه احتمالي دليل به دا وي چې څوك دهغوي دعايد دترلاسه كولو دډول په هكله بې خبره وي، ښه به وي. دفقر دمعلومولو بل شاخص دمنظم معلومات نه لرلو له كبله ګران دي[٦١].**

**دحكومت رسمي شميرنه ښئي چې په هيواد كي 44% كورنۍ دخوړو له پلوه په امن كي نه دي 37% كورنۍ دخپل اړتيا وړ انرژي (كالوري) چې په ورځ كي اړين ښكاري، نه پوره كوي[٦٢]. او د 61% كورنيو دخوړو كيفيت دخوړو دډولونو په لحاظ خراب دي[٦٣].**

**هغه لوستنه چې دخوړو دوضعيت له پلوه شوي ده، ښئي چې 6% ماشومان چې ترپنځو كلونو لږ، سن لري، هغوي د بي كيفيته غذا له امله (دقد او وزن لږ والي) او هم د 45-60% پوري ماشومان چې په دغه سن كي دي د بي كيفيته خوړو له كبله (دسن له پلوه دقد نه وده) دنه ودې په ناروغي اخته دي[٦٤].**

**دنړيوال خوړو پروګرام او دكښت او خوړو سازمان په افغانستان كي دخوړو دحالت كړكيچ راښئي. دخوړو نړيوال پروګرام داسي اټكل كوي چې په افغانستان كي 20-25% خلك په مزمنه توګه دخوړو په نا امني باندي اخته دي[٦٥].**

**دخوړو نا امني په دې مانا ده چې ديو هيواد ولس په لوږه او قحطي كي ژوند كوي [٦٦]. كه دغه شمير دهغه 45% خلكو سره پرتله شي چې ورځني داړتيا وړ كالوري (انرژي) نشي ترلاسه كولاي، په كښته سطحه كي قرار لري[٦٧].**

---

[٦٠]- ټوليز نظر 12 ګڼه داقتصادي، ټولنيز او فرهنګي كميټه، 1999 (1377-1378) دپوره خوړو حق.
[٦١]- دافغانستان دملي پراختيا ستراتيژي 2005 (1384-1385) دافغانستان د زركلني پراختياو دهدفونو دوهم رپوټ دخوړو حق.
[٦٢]- دكليو دبياجوړولو او پراختيا وزارت 2008، (1386-1387) په افغانستان كي دخوړو دامنيت پرځارني باندي (هشدار) مي (غوائي/ دغبرګولي) دمركزي احصائيې دغذا نړيوال پروګرام.
[٦٣]- دكليو دبيا جوړولو او پراخولو وزارت او مركزي سرشميرني ځانګه 2007 (86-1385) دملي خطر او زيانمنني ارزونه 2005 (1383-1384).
[٦٤]- ونډي جاني چيك (Wendy Jhonechek) او داين هالنډ (Diane Holland) 2005 (84-1382) دبي كيفيته او لږو خوړو خطر په افغانستان كي د NSS دپروګرام ازمايښتي لوستنه 2004 (83-1382) 2003 (1381-1382) او دملي خطر او زيانمنني ارزونه 2003 (81-1382).
[٦٥]- فردي اړيكي دمحمد شفيق ياري سره مركه دفوري پاسخ دپروګرام مسوول، او احمد شاه شاهي دزيانمنني دپروګرام مسوول، دخوړو نړيوال پروګرام د 2008 كال دجون 22 (د 1387 كال دچنګاښ 2).
[٦٦]- دخوړو دنا امني تعريف د 2008 كال د جون 23.
[٦٧]- دكليو بيا جوړولو او پراخولو وزارت 2008 (1386-1387) په افغانستان كي دخوړو امنيت دڅارني پروګرام (هشدار) دنفوس شميرني مركزي ځانګه دخوړو نړيوال پروګرام.

**هغه رښتياني شمير چې دخوارو په نا امني باندي اخته دي دسرچينو له خوا څخه توپير کوي. دهغه سرشميرني له مخي چې په 2006 ز کال کي (1385-1384) دافغانستان دنفوسو دسرشميرني مرکزي ځانګه له خوا ترسره شوې ده دهيواد نفوس 22 مليونه دي په داسي حال کي چې دنړۍ دواقيعيتونو کتاب World fact book په 2008 ز کال کي (7-1386) داسي اټکل کوي چې دافغانستان نفوس 33 مليونه دي[٦٨]، نو ځکه ويلاي شو چې 4.5 مليونه په ډير ښه حالت کي او 8.3 مليونه بيا په ډير بدحالت کي دي چې دخوارو دنا امني سره لاس په ګريوان دي، او هم داسي کسان شته چې دخوارو دتلونکي ناامنيو لاندي ژوند کوي او ترې متاثره دي، داهغه کسان دي چې وچ کاليو، سيلاب او يا دکښت کمبودۍ پرهغوي بده اغيزه کړې ده او نور ددې توان نلري چې پوره خواړه وپيري. دخوارو دنړيوال پروګرام او دخوارو اوکښت د سازمان په شميرنه باندي هغه کسان چې دتلونکي (موقتي) غذائي نا امنيو سره لاس په ګريوان دي د 2006 ز کال (1385-1384) را په دې خوا دهغوي شمير په ډيريدو دي او ممکنه ده چې دغه شمير د 2008 کال په ورستيو کي (1387-1386) و 7 مليونه کسانو ته لوړ شي نو په داسي حال کي ويلاي شو چې که وضعيت ښه وي دپورته کسانو شمير به 9 مليونه او که وضعيت بدوي دغه شمير به 15 مليونه ته جګ شي چې په 2008 او 2009 ز کلونو کي (881-87-1386) به په لوږه کي ژوند تيروي.**

**که څه هم دخوارو اوسني کړکيچ ساري نه لري خو په افغانستان کي دخوارو نارامني نوې پديده نه ده. په اوس وخت کي افغانستان خپل داړتيا دخوارو ټول توکي پخپله نه توليدوي. که څه هم 2007 کال (86-1385) د کښت په لحاظ ښه وو خو بياهم دنيم مليون ټن خوارو کمبودي موجوده وه. په دغه دوره کي دهغه خلکو شمير چې دخوارو به تلونکي نا امنيو (موقتي) سره لاس په ګريوان وه ډير شوي دي، هغه بزګران چې مځکه ئي للمي ده او په ښارونو کي فقير کسان دوه زيانمنونکي ډلي دي. به 2006 کال کي وچ کالي (1385-1384) 2.1 مليون کسان پر دغه ډلي نور هم ډير کړل، چې په دې ډله کي ډير هغه کسان شامل دي چې مځکي ئي للمي دي. په 2007 کال کي (1386-1385) دخوارو ارزښت دوه چنده شو او هغه بزګران ئې وځپل چې خپل دلګښت دپاره ئې پوره اندازه خواړه نه لرل او په ښارونو کي ئې فقير کسان وځپل په 2007 ز کال کي (1386-1385) حکومت دخوارو دنړيوال پروګرام په ملاتړ 126037 ټنه خواړه پراړمنو کورنيو وويشل، په همدې ډول دافغانستان حکومت دغنمو او نورو خوراکي توکو څخه ګمرګي ماليه ليري کړل تر څو خوارکي توکي اړوکسانوته په ارزانه بيه ولويږي، ددې ترڅنګه حکومت اعلان کړل چې دوي به سوداګروته 100 مليونه ډالره پور ورکړي ترڅو هغوي وکولاي شي چې غنم هيواد ته وارد کړي، دافغانستان خاوره ددې ظرفيت لري چې خپل ټول خوارکي مواد په دننه کي توليد کړي خو په دې شرط چې خپل د اوبو کولو سيستم جوړ کړي، بزګرانوته دپور ورکولو زمينه برابره کي، باکيفيته تخمونه بزګروته ورکړي او دبزګرانو دپاره دعايد لاس ته راوړلو نوري اسانتياوي برابري کي. دغه مسئله به دکار دحقونو او پراختيائي اقتصادي وضعي په برخه کي په بشپړه توګه بيان شي.**

## *پناه اخيستونکي، راستانه شوي او داخلي بيځايه شوي:*

**دجمهوري رياست 297 شميره فرمان وائي "دافغانستان لنډ مهاله اداره د راستانه شوي کسانو دحقونو او ازاديو مسوول او دهغوي ملاتړ کوي او دهغوي دمصئونه راستانه کيدو او عزت ضمانت کوي .... او هيله لري تر څو د راستانه کيدو د اصل سره سم د افغانانوته په ازاده توګه دبيرته راتګ دتصميم په هکله وخت ورکړل شي ترڅو هيواد ته راشي"**

**دملګرو ملتونو سازمان د 10.1 دلارښود اصل د داخلي بيځايه شوو او دپناه اخيستونکو په خپل خوښه راستانه کيدل د خپلو کورونو، مځکو او پخواني استوګنځايونو ته پرخپل عزت او مصئونيت باندي تمرکز لري پخپل خوښه راستانه کيدل دمصئونيت او عزت سره د ازادانه خوښي او دهغوي پرپوهه باندي ولاړ دي. پناه اخيستونکو ته بايد پوره معلومات چې پر واقيعتونه باندي ټول شوي وي او هم داخلي بيځايه شوي کسانوته دفزيکي، مادي او قانوني امنيت په هکله چې په هيواد کي شته وړاندي کړل شي.**

---

[٦٨]- دمرکزي اطلاعاتو اژانس CIA دنړۍ دواقيعتونو کتاب http/www.cia.gov/library publication/ the world fact book/ af html 2008 دجون 23.

**دغه اصل داهم وائي چې دولت باید هغو پناه اخیستونکو او بیځایه شوي کسانوته دبیرته راتلو اجازه ورکي چې په خپلو پخوانیو کورونو، ځمکو او استوګنځیو کې میشته شي. د دولت په بدلون سره دغه حق پرخپل ځای ثابت پاتیږي او څوک ددي حق نه لري چې هغه پخپل سرباندي بدل او یا محدود کړي او یا غیر قانوني بڼه ورکي.**

**دپناه اخیستونکو، راستانه کیدونکو او داخلي بیځایه شوو دڅوند دمناسبي سطحي ستونزه اثر لرونکي ده. دملګرو ملتونو سازمان دپناه اخیستونکي څانګي په قول په 2001 کي (1380-1379) چې دجګړې حالت تود وو تقریباً دافغانانو اوه ملیونه مهاجر ثبت شوي وه چې په پاکستان او ایران کې اوسیدل. کله چې په 2002 ز کال کي په هیواد کې ثبات راغي 1381-1380 نو هیواد ته دراستانه کیدو بهیر پیل شو. د 2001 ز کال (1380-1379) راهیسي ملګري ملتونو د 4.5 ملیونه مهاجرو افغانانو سره مرسته کړیده چې دپاکستان او ایران څخه بیرته راستانه شوي دي. او اوس تقریبا دوه ملیونه افغانان په پاکستان کې او یو ملیون هم په ایران کې مهاجر دي. مخ په ډیریدونکو نا امنۍ په افغانستان کې ډیر راستان شوي مهاجر ناخوښه کړي دي په همدې وخت کي دپاکستان او ایران دولتونو خپله خوښي دمهاجرو افغانانو د اوسیدلو په هکله ښودلې ده، د افغانستان داقتصادي جوړښت دومره قوي نه دي چې ټول راستانه شوي مهاجر جذب او ځای پرځای کړي، داخولا پریږده چې دراتولونکو مهاجرو په هکله به دافغانستان دولت توان څه وي.**

**څرنګه چې د راستانه شوو هیوادوالو دپاره دژوند دمناسبي سطحي امکانات نشته نو ځیني راستانه شوي کسان بیا هم مجبوره کیږي چې د داخلي بیځایه شوي کسانو په ډله کي ودریږي. او اوس په هیواد کي 235000 کسان د داخلي بیځایه شوي کسانو په کتار کي راځي، که څه هم توپیرونه شته خو د راستانه کیدونکو کسانو ستونزي سره ورته دي او دغه ستونزي د راستنیدونکو دراتګ مخنیوي کوي.**

**مخ په ډیریدو نا امني، بې کورې، دژوندو تیرولو دپاره ښه امکانات نه لرل هغه سببونه دي چې د راستانه شوو کسانو په ټولنه کي ګډیدل، داخلي بیځایه شوي او دمهاجرو د راتګ مخنیوي کوي. په هیواد کي نا امنۍ ددې سبب شوي دي چې ځینو راستانه شوي هیوادوالوته دا نامِمکنه وي چې خپل اصلي ټاټوبي ته ورشي. په لږ وخت کي دمختلفو رژیمونو بدلیدل ددې سبب شوي دي چې دیوې ټوټې ځمکې پرسر څو ادعاګاني موجودي وي. ډیر فرمان لرونکو او "جګړه ییزو واکدارانو" کله چې یو ځای او سیمه نیول نو دهغه اړونده ځمکې ئې خپلو ملګرو او اشنایانو ته ویشلې دمهاجرت دوخت څخه را په دې خوا دمهاجرو کورنۍ دري چنده شوي دي، کله چې دوي بیرته هیوادته راستنیږي نو دهغوي کوچني ټاټوبي ددغه ډیروکسانو دپاره کفایت نه کوي. ددې ترڅنګه ځیني کسان چې دهیواد نه مهاجر کیدل هغوي ځمکې نه لري نو کله چي هغوي هیواد ته راستانه کیدل دډیرو ستونزو سره لاس په ګریوان وه او ژوند ئې تریخ وو. داقتصادي فرصتونو نشتوالي ددې سبب شول چې خپل اصلي ټاټوبي ته رسیدل یا ډیر ستونزمن دي او یا اهم غیر محال ډیر هغه کسان چې دبیرته راتګ په وخت کي خپلو سیموته نشي تللای نو په ښارونو کي دګدایانو په ډول ژوند تیروي.**

## *پناه اخیستونکي افغانان:*

**دمهاجرو افغانانو برخلیک دافغانستان، پاکستان، ایران او ملګرو ملتونو سازمان په ګډو مذاکرو پوري تړلي دې. دمهاجرینو او راستنیدونکو چارو دوزارت په وینا، افغانستان ددې توان نه لري چې په یو ځلي باندي ډیر شمیر مهاجر دپاکستان او ایران څخه راوبولي او هغوي ځای پرځای کي ځکه چې حکومت داقتصادي ناتواني سره لاس په ګریوان دي[69]، خو پورته دواړه هیوادونه دافغان مهاجرینو سره پخپله خاوره کي ناراحته دي.**

**دپاکستان حکومت غواړي چې ډیر شمیر مهاجر افغانان ژرتر ژره افغانستان ته راواستوي او پخپله خاوره کي ټول پنډ غالي وتړي. په 2006 ز کال کي (1385-1384) پاکستان هوډ لري چې 900.000 مهاجر افغانان بیرته افغانستان ته راولیږي، خو دافغانستان دولت او دملګرو ملتونو سازمان ددې کارسره خپل مخالفت ښودلي[70]. په هم**

---

[69]- دمهاجرینو چارو وزارت دمعین سره مرکه د 2008 کال دجولاي 27 (د 1387 کال زمري 6).
[70]- فردي ایریکي: دملګرو ملتونو دسازمان دیوه کارمند سره مرکه د 2008 کال د اګست 4 (د 1387 کال دزمري 14).

**هغه کال کي د پاکستان دولت هوډ وکړ چې دوه پنډغالي دشمال لویدیز ایالت په سیمه کي او دوه نور بیا دبلوچستان ایالت په سیمه کي وتړي. خو د 2008 کال تر مارچ میاشتي پوري ( د 1387 کال وري) یوازي په شمال لویدیځ ایالت کي NWFP (دجلالزي او کچه ګړی پنډغالي) تړل شوي دي. دپاکستان کړنلاره او کړني په دې برخه کي دهغه هیواد دبې ثباتي په وجه باندي ثابت شکل نه لري دپولو څخه دډېر شمیر افغانانو راشړل به په افغانستان کي یو انساني کړکیچ راولي. په اوس وخت کي دا په دې پوري تړلې ده چې په افغانستان کي سیاسي کړکیچ له مینځه لاړ شي او ددې وس پیدا کړي چې ډېر شمیر مهاجر ځاي پر ځاي کړي.**

**په ایران کي دافغاني مهاجرو وضعیت ښه نه دي. په تیر وخت کي دمهاجرو راليږل په کراره باندي روان وه. له 2001 څخه تر 2006 پوري (1380-1379) (1385-1384) تقریبا 833.000 مهاجر افغانان د ایران څخه خپل هیواد ته راستانه شول او نور 920.000 افغانان په ایران کي دمهاجر په ډول پاته شول[71]، خو دایران په ځینو سیمو کي دبهرني اتباعو اوسیدل دافغانانو په شمول منع اعلان شوي دي. له هغه ځایه څخه چې د تیرو 30 کلونو راهیسي په دوامداره توګه افغانان ایران ته مهاجرت کوي نو ډېر کسان ئې په منع شوي سیمو کي میشته دي اساسي ستونزه داده چې د ایران حکومت اوس په دې باندي مشغول دي چې مهاجر د سره څخه ثبت (راجستر) کړي خو په منع شوي سیمو کي دثبت او لیکلو ځانګي نشته که دغه افغانان له سره څخه بیا ثبت نکړل شي نو دهغوي دمهاجرتوب حالت باطلیږي او دوي مجبوروي چې د ایران څخه ووزي په څو وروستیو کلونو کي د ایران د دولت کړنلاره د افغانان مهاجرو په وړاندي سخته شوې وه. په 2001 ز کال کي (1380-1379) ایران هغه پروګرام پیل کړ چې هغه مهاجران چې دکار اجازه پاڼه ونه لري دپولو څخه دې خواته رابهر کړي. "قدرت الله یو افغان چې ثبت شوي مهاجر دي په تهران کي دپولیسو له خوا ونیول شو کله چې هغه خپل دهمایش 2 پاڼه چې دپناه اخیستونکو اجازه پکي وه وپولیسوته وښودل نو هغو ورته وویل چې دغه څه په درد نخوري او هغه پاڼه ئې څیري کړه، هغه له دې وروسته په 99 شلاقو باندي محکوم شو او د ایران دپولو څخه راوایستل شو، قدرت الله وائي چې دهغه 5000 ډالره او نور شخصي توکي په ایران کي پاته شوي دي، ځکه چې هغه ته دا اجازه ورنکړل شول چې دپولو څخه درا ایستلو مخکي خپل مال او توکي ټول کړي".**

## *راستنېدونکی افغانان:*

**ډېر هغه کسان چې بیرته هیواد ته دطالبانو د واک د راپرزیدلو وروسته راستانه شول په بریالي توګه په ټولنه کي میشته او ګډ شول. هغوي یا ښووني کړي وې او یا هم ئې په بهر کي پوره اندازه پیسې او پانګه پیدا کړې وه چې دهغه په وسیله باندي په هیواد کې سم ژوند وکي، خو هغه کسان چې په دې وروستیو کي راغلي دي دډېرو ستونزو سره مخامخ دي ځکه چې دهغوي اقتصاد خراب دي[72].**

**کله چې دمهاجرو افغانانو لوئې ډلي وهیواد ته راستنیږي، دلته دخدمتونو دکمبودي سره مخامخ کیږي افغانستان داتوان نلري چې دخپل نفوس دپاره دژوند برابرولو امکانات برابر کړي. کله چې دمهاجرو چارو دوزارت سره مرکه وشوه هغوي دا ومنل چې دوي اوس اوس ددې توان نلري چې ډېر مهاجر افغان په یوځلي باندي بیله ستونزو ځاي پر ځاي کړي.**

**اساسي خدمتونه او زیربنا یوازي په ښارونو کي میسره دي او په ډېره لږه پیمانه په کلیو کي لیدل کیږي. هغه راستانه شوي افغانان چې په هیواد کي کورونه نلري یوه لویه ستونزه ده. ددغه ستونزي دلیري کولو دپاره دافغانستان حکومت دمځکو ورکولو پروګرام جوړ کړي دي.**

## *دمځکو دځانګړي کولو پروګرام:*

**په 2005 کال کي (1384-1383) دافغانستان حکومت دهغو مهاجرو دپاره چې هیواد ته راستانه کیږي یو پروګرام ترلاس لاندي نیولي دي چې دهغوي دمیشته کیدو دپاره مځکي**

---

[71]- دالتاي دمشاورې سازمان (2008 کال) (1387-1386) دپولو څخه دبهرکولو مهاجرو افغانانو څیړنه.

[72]- فردي اړیکي دملګرو ملتونو سازمان دیوه کارمند سره مرکه د 2008 کال اګست 4 (د 1387 کال دزمري 14).

ورکي. ددغه استوګنځيو پروګرام داسي ترتيب کړل شو چې دا به نو کوچني ښارونه وي او د اوسيدونکو دپاره به دخدمتونو پوره اسانتياوې يکي وي او کوچني سوداګري به يکي وچليږي او دژوند تيرولو دپاره ښه ځاي واوسي. په لومړي سرکي حکومت اعلان وکي چې دوي به 100 دغه شان ښارونه جوړ کړي خو په عمل کي يوازي د 50 ښارونو پرانستل ترسره شوي دي خو په اوس وخت کي يوازي 15 کوچني ښارونه دملګرو ملتونو سازمان دپناه ورکونکي ځانګي له خوا فعاله شوي دي او نور لا خالي (تش) پاته دي.

مستحق کسان دهغوي داړتياو او غوښتونو پر بنسټ باندي پيژندل کيږي دناروي دپناه اخيستونکو دشورا ديوکس په قول چې د دغو استوګنځيو دويشلو په برخه کي ډير کسان لاسونه وهي او دشخصي ګټو په خاطر دغه بهير دخپل اصلي لاري څخه بلي خواته ځي او په نتيجه کي داسي ستونزمن شي چې مستحق کسان دي په رښتيا سره وپيژندل شي. هغه څه چې دفساد په نوم په دغه بهير کي روان دي ددې سبب ګرځي چې هغه کوچني ښارونه چې و لويو ښارونو ته نژدي موقيعيت لري دسوداګريزو ګټو له پلوه دهغه مځکي وغيرمستحقو خلکو ته وويشل شي او مستحق کسان محروم پاته شي، نو دا اړين ښکاري چې داسي يو پروګرام طرح شي چې مستحق کسان وپيژندل شي او مځکي ورکړل شي.

دزيربنا دنشتوالي له کبله او داچې په دغو ښارګوټو کي دژوند امکانات لږ دي نو هلته د اوسيدونکو کچه هم ډيره لږ ده. هيڅ داسي يو ښارګوټي نشته چې هلته دي ټولو هغو خلکو کورونه جوړ کړي وي کوم چې مځکي ورته ورکړل شوي دي، او ډيرو خلکو دزيربنا دنشتوالي او دژوند دتيرولو د امکاناتو نه لرلو له کبله هغه ځاي ته نه دي کډه شوي په ټوليزه توګه هلته دمشغولتيا سطحه (دهغو کسانو سلنه چې هلته ئې مځکي پيرودلي دي) يوازي 17٪ دي.

دغه څه دقبول وړ نه دي، ځکه چې پرته دعزيزخان کڅ دښارګوټي پرته چې دلغمان په ولايت کي 83٪ کورنۍ دي په نور پاته ولايتونو کي خلکو دمځکو بيه ورکړې ده خو ددې توان نلري چې هغه ښارګوټو ته کډه وکړي. دهرې نومري مځکي ارزښت ثابت دي. ياني دهر 100 متر مربع بيه 1500 افغاني دي چې ديوي نمري مځکي بيه 4500 افغاني دي (90 امريکائي ډالره) او ياهم 9000 افغاني (180 امريکائي ډالره) دي. که څه هم دغه ارزښت دښاري سيمو د استوګنځيو په پرتله ډير لږ دي، هغه د غريبو کسانو دپاره دغه پيسي ډير شي دي.

دغه ښارګوټي په غير مناسبه توګه جوړ شوي دي ټوله دغه ښارګوټي ديوې طرحي له مخي جوړ شوي دي او په دې برخه کي دهغوي جغرافيائي سيمه ييز موقعيت په نظر کي نه دي نيول وي (د ډيرو څيړونو دپاره لاندي مسئله وګوري) ډير ښارګوټي پوره زيربنانه لري هغه ښارګوټي چې اوبه لري، سړک نه لري، هغه ښارګوټي چې ښوونځي لري، کلينيک نه لري راستانه شوو مهاجروته دمځکو د ويش پروګرام دزيانمنونکو دپاره دغه استعداد لري چې دهغوي دملکيت امنيت وساتي او دهغوي دپاره بنسټيزه خدمتونه وکړي، دبده مرغه چې دغه استعداد په عمل کي نه دي پلي شوي ددغه پروګرام اساسي زيربنا نشته. ددغه ښارګوټو څخه هيڅ يوئې دبريښنا شبکه نلري دغه معضله په هغو ښارګوټو کي ډيره ژوره ستونزه ده چې هغوي ژوړ ځاګان لري او د اوبو د را ايستلو دپاره و بريښنا ته اړتيا لري.

ددغو ځاه ګانو څخه د اوبو را ايستلو دپاره ميشت اوسيدونکي مجبوره دي چې ډيري پيسي ولګوي ترڅو دجنراټورونو دپاره تيل وپيري.

په دغو ښارګوټو کي په اټکلي توګه 2/3 برخي ئې روغتيايي خدمتونه نلري او ډير نور ښارګوټي بيا ښوونځي نلري، ګرځيدونکي روغتيايي خدمتونه هغه يوازيني څه دي چې دحکومت له خواو دغه ښارګوټو ته ميسره شوي دي خو بيا هم په دوو ښارګوټو کي دغه خدمتونه نشته.

دلوي ښارونو سره دښارګوټو دلېږ دولو هيڅ ډول اسانتياوي نشته (پرته دشيخ مصري ښارګوټي چې دننګرهار په ولايت کي پروت دي). ددغو ښارګټو ډير نژدي واټن دلوي ښارونو څخه 12 کيلو متره دي، چې په تود او ړي او ساړه ژمي کي دپورته واټن وهل ډير ګران دي له دې کبله چې دغه ښارګوټي مصنوعي دي هيڅ يو ئې هغه امکانات او اسانتياوي نلري کوم چې يو کلي ئې لري که څه هم په دغو ښارګوټو کي سوداګري

محدوده ده خو بیاهم 1/3 برخي دغه ښارګوټي سوداګري نلري په پاي کي ویلاي شو چې ددغو ښارونو څخه یو ئې هم دژوند تیرلو وړتیا نلري او په دې ډول ددغو ښارګوټو داوسیدونکو ژوند ډیر محدود شوي دي.

"دباریک آب ښارګوټي په 2006 ز کال (1384-1385) کي پرانستل شو، ددې ښارګوټي مساحت 5000 جریبه دي دغه ښارګوټي دکابل ښار څخه 35 کیلو متره دبګرام دهوائي ډګر څخه 10 کیلو متره او د چاریکار دښارنه 15 کیلومتره واټن لري تر دې دمخه چې مهاجر هلته میشته شي دغه سیمه دجغرافیوي له پلوه نه وه کتل شوې ددې ښارګوټي مځکه ډیري لوړي او ژوري لري او پلي تګ داوسیدونکو ته یوه ستونزه ده او څرنګه چې هلته 20 کسان چې معلولیت لري اوسیږي او په ویلچرونو کي دهغوي ګرځیدل ناممکن ښکاري ددې ښارګوټي مځکي په تیت او پرک ډول ویشل شوي دي ځینو کورنیو پریکړه وکړه چې اصلا کورونه جوړنکي، ځکه چې دغه ښارګوټي دژوند دوړتیاو څخه بي برخي دي، په نتیجه کي د اوسیدولو کورونه په ګروپي ډول چې د 10 څخه تر 20 پوري دي جوړ شوي دي نو ځکه دغه ښارګوټي دیوي ټولني د اوسیدلو دپاره مساعد نه دي".

د 160 کسانو ورکړي مځکي په داسي سیمه کي دې چې دسیلاب راتلولوري په همدې خوا وو. 60 کورونه په داسي سیمه کي جوړ شوي وه چې هغه د موسمي اوبو دتلو لوري وو. یوه کونډه ښځه د افغانستان دبشر دحقونو خپلواک کمیسیون ټیم داسي ځاي ته بیائي چې هغه دیوه رود لمنه ده او هلته ئې ددې دپاره کورګي جوړ کړي دي او دائې وټیم ته ور ښئي، ددې ګاونډي کور خپل نیمي کور دلاسه ورکړي وو او اوسیدونکي بیا ددې کوره وتلي وه، خو نورو کورنو ته په ګاونډیو کي تاوان رسیدلي وو دا په داسي حال کي ده چې دغه کونډه  د اوسیدلو بل ځاي نلري او په ډیر غم او خپګان سره ئې خپل کورته کتل هغه په کابل کي زیږیدلي ده او هلته ئې 40 کاله ژوند کړي دي او مجبوره شول چې پاکستان ته مهاجره شي ځکه چې ددي ګاونډیان لکه پسونه حلالیدل. پس له اوه کلونو بیرته کابل ته راغله او دهغې میړه مړشو هغې ونکړاي شواي چې خپل پخواني کور لاس ته راولي، هغه کور اوس نورو لاندي کړي دي هغه مجبوره شوه چې دخپلو ماشومانو سره په یوه ټولیز تعمیر کي ژوندو کړي، دهغې امید دمځکو ورکولو پروګرام وو. هغې دمځکي دورکولو دبیي په سبب څه پیسې پور کړې، دکور دجوړیدو څومیاشتي وروسته دهغې دکور دریمه برخه سیلاب ونړول، دهغې دنړیدلي کور خښتي لامعلومیږي، هغه مجبوره شول چې دکور دبیا جوړولو دپاره پیسې پور کړې، خو دغه پیسو هم دکموالي له امله ونکړاي شوي چې دهغې کور جوړ کړي. هغه دداسي کور غوښتنه کوي چې هغه مصئون وي خو بیاهم ویره لري چې داخل سیلاب بیا دهغوي کور ونړوي.

په دغو ښارونو کي دژوند تیرولو امکانات ډیر لږ دي. مځکي ئې حاصل نه ورکوي او غنم هم نه پکي کرل کیږي، کله چې د کمیسیون ټیم ددغو ښارګوټو څخه لیدنه کول نو وئې لیدل چې دټپو پرسر باندي کښت شوي وو خو حاصل ئي تري نه وو اخیستي و نژدې ښارونو ته دلیږ دولو کوم سیستم نشته، ددې ځاي اوسیدونکي مجبوره وه چې یو خصوصي بس کرایه کړي چې دغه بس دهر کس په سر 200 افغانۍ کرایه اخیسته چې دغه مقدار دهغوي دیوې ورځي د اجورې سره برابره وه، او هغه کسان چې کار نشي کولاي نو دخپل اړتیا وو دپاره دبشردوستانه مرستو ته اړه لري داوسیدونکي وښارونو ته لاسرسي نلري او دکوچنیو صنایعو له لاري خپل ژوند تیروي ډیر توانمند کسان په اونیو کي په کابل کي اوسیږي ترڅو په ښارګوټو کي دخپلو کورنیو داړتیا وړ توکي برابري کي.

په دې ښارګوټي کي یوه 14 کلنه نجلۍ وائي چې کله چې هغوي په کابل کي اوسیدلي هغې کولاي شواي چې ښونځي ته ولاړه شي هغې تر پنځم ټولګي پوري لوست کړي دي خو اوس هیڅ دلیل نشته چې دا ولي ښونځي ته ولاړه شي، ښوونکي له هغې څخه غواړي چې نورو نجونو ته لوست ورکړي، خو دغه نجلۍ اصلا څشي نه زده کوي هغه داسي هیله لري چې نور ښوونځي ته ولاړه نشي. ځینو ښځو دکمیسیون دټیم سره دښوونځیو په برخه کي خبري وکړي.

دهغوي څخه یوې ئې و داسي ښوونځي ته اشاره کړه چې دوه پوړه لري او داسي ئې وویل "ددې ښونځي سره څه کار وکړو؟ زموږ نس تش دي زموږ حال به سبا څنګه وي؟".

یو ګرځنده کلینیک په دغه ښارګوټي کي شته چې دطب دکوچنیو ناروغیو د درمل دپاره مرسته کوي دبیړنیو حالاتو دپاره طبي مرستي نشته حتا یو پرستار یا قابله هم نشته څو

**میاشتي مخکي یو ماشوم دزیړتون په وخت کي مړشو، مورئې څو اونۍ ناروغه وه خو په پاي کي روغه شوه دکمیسیون دټیم تر کتني دمخه په دغه سیمه کي پر یوه کس دزړه حمله راغلې وه، او دهغه کورنۍ مجبوره وه چې کابل ته دناروغ دوړلو دپاره کور په کور وګرځي او 1000 افغانۍ پور کي، هغوي تر اوسه پوري دهغه دناروغي د درملني دلګښت په هکله خبر نه دي.**

**ماشومانو دښونځي په مخ کي کتار جوړ کړي دي هغوي چې عمرونه ئې دلسو کلونو څخه لږ دي ددې انتظار لري چې دزور څاه جنراتور چالانه شي هغوي په نوبت باندي ولاړ دي تر څو یو ساعت وروسته نوبت ور ورسیږي دغه ښارګوټي اوه داني لاسي پمپه څاه ګان لري او دري هم ژور څاه ګان. دغه څاه چې ماشومان په نوبت ورته ولاړ دي دښوونځي دپاره جوړ شوي دي. دغه جنراتور پرهرو دوو ورځو کي د دوه ساعتونو دپاره چالانیږي دجنراتور چالانول ډیر ګران لویږي.**

**ددغو ښارګوټو خبر مهاجرین دپیښوور او اسلام آباد څخه رابولي ځیني پناه غوښتونکي ددانا هر اینکشمنټ سنترکي** Danaher’s Encashment center **وائي چې هغوي په دې خاطر راغلي دي چې حکومت دوي ته مځکي ورکوي خان محمد چې په 1979 ز کال کي (1358-1357) دکابل څخه وتلي وو اوس په دې هیله بیرته راغلي دي چې دي به بیرته دخپلي مځکي خاوند شي او بیا به ځانته کور جوړ کړي. په تیرو 30 کلونو کي هغه په اسلام آباد کي کالي پریول او اتو کول او له دې لاري څخه ئې خپل ژوند ته ادامه ورکول، هغه کوم پس انداز (ټولي کړي پیسي) نه درلودې او په دې هیله وو چې په خپل هیواد کي به پیسي وګټي، هغه هیله لري چې دحکومت څخه یوه نومره مځکه و پیري او په هغه کي کور جوړ کړي او بیا په یوه مسجد کي دکالو مینځلو کار پیل کي دافغانستان دبشر دحقونو دخپلواک کمیسیون په څیړونو سره داسي ښکاري چې دمځکو دویش پروګرام کي که خان محمد ته مځکه هم ورکړل شي نو په کابل کي به د ژوند تیرولو دپاره کومه وسیله ونلري، کله چز دهغه څخه داپوښتنه وشوه چې هیواد ته ستا راستنه کیدل تاته څه هیلي درکوي هغه ځواب ووایه "زه مځکه اخلم، کار پیدا کوم، بیا کور جوړوم او خوشاله به یم" دکمیسیون دڅیړونو له مخي دهغه دهیلو سرته رسیدل به ډیر ګران وي.**

## *داخلي بیځایه شوي:*

**افغانستان تقریبا 235.000 داخلي بیځایه شوي کسان لري چې هغه پرپنځو ډلو ویشل شوي دي: لومړۍ ډله هغه کسان دي چې د 2001 ز کال (1380-1379) څخه د مخه بیځایه شوي دي او دجګړې او وچ کالي له امله تښتیدلي دي، دغه ډله دټولو داخلي بیځایه شوو څخه 70٪ جوړ وي[۷۳]. دوهمه هغه ډله ده چې د 2001 ز کال وروسته (80-1379) بیځایه شوي دي په ولایتونو کي ډیریدونکي نا امنۍ، په شمال کي دپښتنو آزارول په دې پلمه چې هغوي دطالبانو ملاتړي کول، وچ کالي او داقتصادي فرصتونو نشتوالي ډیر افغانان مجبوره کړل چې خپل کورونه پریږ دي او پر بله سیمه میشته شي.**

**دریمه ډله هغه راستانه شوي افغانان دي چې دبهر نه راغلي دي او اوس ددغو داخلي بیځایه شوو سره یوځاي دي، هغوي هغه کسان دي چې مځکي نلري ځکه چې هغوي اصلا مځکه نلري اویائې مځکه بل چا په زور لاندي کړې ده. ددغه ډلي ډیر کسان هغه څوک دي چې د 2007 ز کال په سپټامبر کي (د 1386 کال وږي/ تله) دپیښور دجلوزي او کچه ګړۍ دپنډغالو څخه وایستل نو ډیرو ئې دبیا تللو توان نه درلودي او دبیرته تګ دپاره سمبال نه وه. په نتیجه کي دوي دهیواد په دننه کي ځانونوته پنډغالي جوړ کړل.**

**دراستانه شوو کسانو ډیري ئې نشي کولاي چې خپلو اصلي سیموته ولاړ شي. نو ډیر ئې په داسي سیمو کي اوسیږي چې په دغو پنډغالو کي اساسي زیربنا او خدمتونه نشته. ډیر لږ دغه شان پنډغالي چې دداخلي بیځایه شوي کسانو دپاره جوړ شوي دي، هغوي ښوونځي او پاکي اوبه نلري او دښوونو خدمتونه نشته. ډیر لږ دغه شان پنډغالي لومړني ښوونځي لري او دغه یوازني دزده کړو موسسې دي چې هلته شتون لري. دژیړۍ دښت پنډغالي په افغانستان کي دداخلي بیځایه شوو دپاره ترټولو لوي پنډغالي**

---

[۷۳]- دملګرو ملتونو سازمان دپناه غوښتونکو ځانګه (2008-87-1386) په افغانستان کي د داخلي بیځایه شو تصویر.

دي چې دکندهار ښار نه بهر جوړ شوي دي، دغه يو دهغه پنډغالو څخه دي چې دهغه ځاي ميشته کسان لومړنيو ښونځيو ته لاسرسنه لري.

دداخلي بيځايه شوي کسانو دپاره په رسمي توګه په 2006 ز کال کي (1385-1384) مرستي درول شوي دي او ددغو پنډغالو اوسيدونکي ډيره برخه دورځني اجوري اخيستونکي په توګه کارکوي او ځيني ئې دکوکنارو په کښت کي دهيواد په سهيل کي بوخت دي او ددې لاري خپل ژوند پرمخ بيائي[٧٤]. برسيره پردې دخوارکي توکو دارزښت لوړيدلو هم پروسږکال دداخلي بيځايه شوي خلکو پرژوند بد اثر کړې دي، خو په شمال کي پرکوچيانو باندي دخوارکي توکو ويشل دهغوي ستونزي يو څه سپکي کړي دي. په هرحال دغه بهير په ټول هيواد کي سرته نه دي رسيدلي او دغه څه دموقتي وخت دپاره دحل يوه لاره بللاي شو[٧٥].

## کوچيان:

په افغانستان کي دتيرو 15 کلونو وچ کالی دکوچيانو ژوند دسنتي حالت نه مختل کړي دي. دهغوي دځړسيمي وچي شوي دي او دهغوي څاروي دلوږي او تندي له لاسه مړه شوي دي. دکوچيانو لويه برخه چې دهغوي شميرو 60000 ته رسيږي او په هغه کي هغه کوچيان هم شامل دي چې نشي کولاي د ريګستان دښتونو ته ورسيږي، په يوه سيمه کي پراته دي[٧٦].

په شمال کي پرله پسي وچ کالي او دکوچيانو دبيرته راتلو دپاره دسيمي داوسيدونکو ناخوالی ددې سبب شوه چې 100.00 نور کوچيان هم بيځايه شي. دغوشيانو دکوچيانو سنتي ژوند مختل کړي دي او هغوي ئې مجبوره کړي دي چې په پنډغالو کي دخوراکي توکو دمرستو په ورکولو سره خپل ورځني ژوند پرمخ بوزي. څرنګه چې دکوچيانو څاروي دپرله پسي وچ کاليو له سببه دمينځه تللي دي نو دغه نامکنه ښکاري چې کوچيان دي بيرته دخپل سنتي ژوندته دوام ورکي. پر دغه ستونزو باندي دکوچيانو بري محدودښکاري، ځکه هغوي دثابت طريقو څخه دژوند تيرلو سره اشنائي نلري او په تاريخي لحاظ هم هغوي ملکيت نه لري، نو دغه سببو نو دهغوي دميشته کولو بهير دستونزو سره مخامخ کړي دي.

## دغه وضعيت ته درسيدلو اوسنی ستراتيژي:

دحکومت کړنلاره دمهاجرو او داخلي بيځايه شوي کسانو په هکله د ډاډ وړ نه ده. دحکومت رسمي ستراتيژي داده چې داخلک دخپلو اصلي ټاټوبي ته واستوي، خو په دې لاره کي کلک ګامونه ندي اخيستل شوي ځکه چې په عمل کي دغه څه عملي نه دي هغه مسئلې چې ددغه بهير په مخ کي خنډ دي بايد ترخيړني لاندي ونيول شي او هغه ليري کړل شي دملګرو ملتونو سازمان دپناه اخيستونکي ځانګي په قول چې دافغانستان په جګړه ځپلو سيمو کي دمايئونو شته والي ددې سبب ګرځي چې مهاجر به هغه سيمو کي ميشته نشي. ددې ترڅنګه دخواراکي توکو دارزښت لوړيدل، وچ کالي، بې کوري او په ولايتونو کي دامنيت نشتوالي ددې سبب شوي دي چې دوي خپل اصلي ټاټوبي ته ولاړ نه شي. دوچ کالي داثرونو دلږيدو دپاره نوي پروګرام ترلاس لاندي نيول شوي دي، خو په عمل کي دهغه پلي کول به ډير کلونه په برکي ونيسي [٧٧].

دمهاجرينو او راستانه کيدونکو دچارو وزارت دکارکونکو سره په مرکه کي هغوي وويل چې اوسني کړنلاره په عمل کي شونې نه ده، دملګروملتونو سازمان همدغه شان ورته نظرلري، په هر حال هم حکومت او هم دملګرو ملتونو سازمان داسي لاره نه لري چې دبيځايه شوي کسانو دځاي پرځاي کولو ستونزه داوږدې مودې دپاره ورحل کړي. دراستانه شوي کسانو دبيرته ميشته کولو او په ټولنه کي دهغه دورګډولو په بهير کي چې

---

[٧٤]- فردي اړيکي- دملګرو ملتونو سازمان دپناه اخيستونکي ځانګي ديوه کارکونکي سره مرکه، د 2008 کال داګست 4، (1387 زمري).
[٧٥]- پورته سرچينه.
[٧٦]- دآسيا دمشاورانو نړيوال سازمان consultant Asia International. 2006 (85-1384) دکوچيانو دستونزو دحل دپاره يوه لاره (دافغانستان دلويديځ بيځايه شوي کوچيان).
[٧٧]- فردي اړيکي، داوبو رسولو، او فاضلاب دمرکزي ځانګي دمشرو سره مرکه. د 2008 کال داګست 5، ( د 1387 کال زمري 15).

دافغانستان په اقتصادي برخو کي ونډه واخلي، دمهاجرو او راستانه شوو کسانو په هکله داسي وويل "موږ ټوله 10 مليونه ډالره بودجه لرو، چې دا ديوه پنځغالي دپاره هم بس نه دي".

## وړانديزونه:

دافغانستان حکومت بايد دمځکو په هکله دشخړو دمينځه وړلو او دکورنيو دملکيت دامنيت دراوستلو په برخه کي په ښارونو او کليو کي عملي ګامونه پورته کړي. په دې هکله بايد دغير رسمي استوګنځيو سيمي په کابل کي په رسمي استوګنځيو بايد بدل شي او هغه بايد نور هم ښه شي. که چيري دغه کار دامکان څخه ليري دي، نو بايد ددغو سيمو د اوسيدونکو دبياځاي پرځاي کولو دپاره هڅه وشي او دهغوي سره مرستي وشي. داړمنو خلکو دپاره بايد داسي پروګرام ترلاس لاندي ونيول شي چې ارزانه مځکي وي او په کليو او ښارونو کي دهغوي سره مرستي وشي ترڅو کورونه جوړ کړي. دمختلفو وزارتونو واک بايد سره هم غږي او روښانه شي، د سيمي دپراختيا شورا او سيمه ييزه شورا بايد په هغه دعواګانو کي دحل دپاره دمدني قانون په مطابق باندي ونډه واخلي دملکيت دامنيت مسئله ډيره مهمه ده چې دراستانه شوو او داخلي بيځايه شوي کسانو دپاره او په ځانګړي توګه دهغو کسانو پر ژوند ډير اثر اچوي کوم چې دښارونو به شاوخواکي ژوند کوي، بايد دراستانه شوي او داخلي بيځايه شوي کسانو دملکيت دامنيت په برخه کي ډيري هڅي وکړي. هغوي ته مځکي ورکړل شي ترڅو دهغه په نتيجه کي دهغوي اقتصادي غښتلي شي.

دافغانستان حکومت بايد د اوبو دسرچينو دپراختي دپاره پانګه اچونه وکي، بايد هڅه وشي چې دکړکيچ دحل دپاره اوږدمهاله پروګرامونه ترلاس لاندي ونيول شي. په ځانګړي توګه دغه څه دکابل رود دحوض په هکله ديوه پروګرام جوړول اړين بريښي چې هغه کولاي شي دافغانستان د ډيرو اوسيدونکو دپاره دڅکلو اوبه برابري کي، داوبو سرچيني ډيري کړي ترڅو دوچ کاليو اثرات دمينځه ولاړ شي.

دافغانستان حکومت بايد دخوراکي ناامنيو دمسئلې دپاره يوه اوږدمهاله ستراتيژي ترلاس لاندي ونيسي، په دغه ستراتيژي کي دغه شيان شامليږي: دبيا جوړولو او دکليو دزيربنا دپينګولو پروګرام، دکليو دلاپراختيا دپاره موثره پروګرام او ټوله پانګه په يوه مرکز باندي نه لګول. دامکان په صورت کي کله چې امن موجود وي دخوارکي توکو مرستي بايد دراستانه شوو دپاره دهغوي په اصلي ټاټوبي کي سرته ورسيږي ترڅو بيځايه شوي کسان بيرته راتلونه وهڅول شي. په هغه صورت کي چې په اصلي ټاټوبي کي امن نه وي او ياهم د وچ کالي له اثره متأثره شوي وي. نو خواراکي مرستي بايد په هغو سيمو کي ورکړل شي کوم چې بيځايه شوي پکي ميشته دي. دراستانه کيدو پروګرام بايد دبياميشته کيدو او په ټولنه کي دګډيدو دپروګرام سره يوځاي کړل شي ترڅو داخلي بيځايه شوي کسان وکړلاي شي چې داړتيا په صورت کي دهيواد په بله سيمه کي ځاي پرځاي شي. خو داځه بايو څه ننګوني هم ترشا لري چې په هغه کي دعامه وګړو دګټي اخيستني دپاره دمځکو استملاکول، دسيمي داوسيدونکو او داخلي بيځايه شوو ترمنځ کړکيچ (چې قومي بڼه به ولري) دبيرته ميشته کيدو وروسته دژوند تيرولو امکانات دزيربنا دبرابرولو دپاره دحکومت توانائي او بنسټيزه خدمتونه دي. اوسني وضعه د ډاډ وړنه ده ځکه چې دبيخي ډيرو داخلي بيځايه شوي کسانو دژوند سطحه له هغه کچي نه ډيره ټيټه ده کوم چې دمناسب ژوند دسطحي په کتار کي راځي.

بايد په اقتصادي برخه کي دافغانستان وضعه ډاډه کړل شي ترڅو دراستانه شو کسان بيا ځاي پر ځاي کول او په ټولنه کي د دوي ګډيدل ميسره شي. په اوس اوس کي افغانستان په 183 هيوادونو کي داخلي نا خالصه محصول په برخه کي GDP دپيريدلو د واک په خاطر PPP دهغه مقام 104 دي[78].

که دولت دخلکو دخدمت غوښتنه کوي نو اړين بريښي چې حکومت داقتصادي دپراختيا په برخه کي هڅي وکړي، نو دا ډول هڅي بيله ښه امنيت راوستلو څخه امکان نلري او داقتصادي زيربناوو توانمن کول به سرته ونه رسيږي.

---

[78]- نړيوال بانک 2008 (1386-87) داخلي ناخالصه محصولات 2007 (1385-86) دپيريدلو توان http/stireosources bank org/datastatistics/ resources/ GKP ppp pdf داګست 10. 2008 (د1387 دزمري 20).

دمځکي ورکولو پروګرام خلکوته دا وخت وربخښي چې بیرته په ټولنه کي میشته شي (راستانه شوي کسان) داوسني ناتوانۍ له کبله باید ددغه پروګرام سیستم ښه کړل شي، دټاکنوبهیر باید روښانه وي، دغه بهیر به داخلي بېځایه شوي کسان هم ترخپل پوښښ لاندي راولي، ښارګوټي باید په بیړه سره جوړ شي او په اساسي زیربناوو باندي باید سمبال کړل شي، او ښارګوټي باید دسړکونو په وسیله دښاري مرکزونو سره ونښلول شي.

دافغانستان حکومت باید دجمهوري ریاست دهغه فرمان په مطابق باندي میکانیزم جوړ کړي کوم چې د 2008 کال دجون پر 28 (د 1387 کال دچنګاښ 8) باندي داساسي قانون د 14 مادې پراسا دکوچیانو دژوند دښه کیدو به خاطر خپور کړي دي.

## دروغتیا حق:



دروغتیا نړیوال سازمان روغتیا داسي تعریفوي "دجسمي حالت آسودګي، د رواني حالت او ټولنیزي وضعي هوسائي، نه یوازي دناروغي او ناتواني نشتوالي" په دې تعریف کي د روغتیا فردي، ټولنیزي خواوي دتبلیغ بعدونه دناروغي مخه نیول، درملنه او توانمند کول په برکي نیسي. داسي یوه کړنلاره ترلاس لاندي ده چې دهغه له مخي درمرضونو مخنیوي، روغتیائي خدمتونو ته اسانه لاسرسنه، د ډاکترانو شته والي او باکیفیته درملنه موجوده شي. دحکومت ټینګار پردې دي چې اوسني ټولنه په یوه سالمي ټولنه باندي بدله شي.

داقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو نړیوال میثاق د 12 مادې له مخي خلک حق لري چې د ډېر سالم صحت لرونکي واوسي. روغتیا ته دانسان دیو داسي حق په سترګه وکتل شي چې په هغه کي دیو کس هوسائي او روغتیائي خدمتونو ته لاسرسنه میسره شي[٧٩]. دغه خدمتونه باید ارزانه وي او بیله تبعیض څخه هرچاته میسره هم وي او 12 ماده داهم وائي چې دماشومانو مړینه باید راټیټه کړل شي دماشوم په روغتیا کي ښه والي راشي، دساري ناروغیو مخه ونیول شي او خلک وکولای شي چې روغتیائي خدمتونو ته لاسرسنه ولري.

داساسي قانون د 52 مادې له مخي حکومت تعهد کړي دي چې دټولو هیوادوالو دپاره باید روغتیائي خدمتونه موت وي په همدې ډول دماشوم دحقونو دکنوانسیون په تصوییبدو سره حکومت وعده کړې ده چې دماشومانو دمړیني کچه راټیټه کړي او دماشوم دزیږیدو ترمخه او دزیږیدو وروسته د دوي او دمیندو ته خدمتونه برابر کړي (24 ماده 2 بند)

هغه جلسه چې دافغانستان په هکله په 2006 کال کي (85-1384) په لندن کي وشوه او دافغانستان دملي ستراتیژي پراختیا په هغه کي تصویب شوه او جمهور رئیس هغه د 2008 کال په اپریل کي (د 1387 کال غوائي) لاسلیک کړه، پر دغو وعدو باندي نور ټینګار هم شوي دي.

دافغانستان حکومت و خلکو ته دروغتیائي خدمتونو په وړاندي کولو کي د دري ننګونو سره مخامخ دي، دغه هدفونه ډېر لوړ ټاکل شوي دي، دخدمتونو دپاره پوره اندازه مرستي نه ورکول کیږي او مخ په زیاتیدونکو ناامنیو د روغتیائي خدمتونو ډېري موسسې تړلي دي.

دافغانستان دزړکلني هدفونو دپراختیا پر اساس، دافغانستان معاهده او دافغانستان داخلي پراختیا ستراتیژي پر پنسټ باندي پورته هدفونه ډېر لوړ دي.

- تر 2010 ز کال (89-1388) پوري به لږ تر لږه 90٪ هیوادوال د روغتیائي خدمتونو ته لاسرسي ولري.
- دمیندو مړیني باید 15٪ راټیټ کړل شي.

---

[٧٩]- داقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو کمیټه، (2008 کال) (79-1378) وښه صحت ته دلاسرسي حق د 2000 کال اګست د 1379 کال چنګاښ.

- ټول هغه ماشومان چې عمرونه ئې تر 5 کلنو ټيټ دي بايد دځينو ناروغيو دمخنيوي په خاطر واکسين کړل شي او دهغوي دمړيني سطحه بايد د 2004 ز کال (83-1382) په پرتله باندي 20٪ راټيټه کړل شي[۸۰].

دزرکلني هدفونو په پراختيا کي دافغانستان دپاره لا نور دقيق مقصدونه تر 2020 (99-1398) پوري ټاکل شوي دي، دماشومانو دمړيني کچه په هر 1000 کي د 260 څخه و 90 ته (چې دپنځو کلونو کښته وي) او د نوي زيږيدلو ماشومانو کچه په هر 1000 کي د 165 څخه و 55 ته او دميندو دمړيني کچه په هر 1000 کي د 16 څخه و 4 ته (دزيږيدني په وخت کي) دملاريا په ناروغي اخته کسانو کچه د 16٪ څخه و 14٪ او دسل ناروغي په هر 100.000.0 کي 321 څخه و 48 ته او دګو زڼ ناروغي بايد له مينځه تللي وي[۸۱].

دپورته هدفونو دسرته رسولو په لاره کي لويه ننګونه دروغتيائي خدمتونو کمبودي ده دافغانستان دملي ستراتيژي د پراختيا پر بنسټ 85٪ هيوادوال دروغتيا اساسي خدمتونو ته لاسرسنه لري، ددغه وضعي په لرلو سره دا امکان پيدا کيږي چې د 2004 کال (83-1382) په پرتله دهغه ماشومانو مړينه 26٪ راټيټه کړل شي کوم چې تر پنځو کلونو لږ عمر لري، خو دروغتيا سيستم منظم شوي نه دي، روغتيائي موسسې په دې ډول ويشلي شوي دي:

1) په سيمه ييزه سطحه باندي د روغتيائي څارونو لومړني روغتيائي مرکزونه. 2) دولسواليو روغتونونه.3) دولايت يو روغتون.4) دسيمي په کچه يو روغتون.5) او دتخصص لرونکي روغتون. کابل تر نورو ولايتونو ډير روغتونونه لري (124) په داسي حال کي چې باميان او پنجشير تر ټولو لږ روغتونونه لري چې ديوه روغتون په لرلو سره په هرو 8.000 کسانوباندي يوروغتون دي.د34 ولايتونو له جملې څخه يوازي14ولايتونه دي چې دروانې ناروغيو دخدمتونو روغتونونه لري. دغه شمير روغتونونه ډير لږ دي، ځکه چې دجګړې وروسته په اخته هيوادونوکي رواني ناروغي ډيري دي.

د داسي کلينکونو جوړول چې لږ ترلږه د 3.000 کسانو دپاره روغتيائي خدمتونه وکړلاي شي او يا هم ليږدونکي (سيار) کلينيکونه جوړول هغه دوه مهم تدبيرونه دي چې دخلکو روغتيائي وضعه پرې ښه کيږي. په دې وروستيو کي د نړيوال بانک په مرستو باندي په 11 ولايتونو کي 120 روغتيائي مرکزونه جوړ شوي دي. غير حکومتي سازمانونه او خصوصي مرستندويان ددغه کارونو بشپړه کونکي دي او ډير خله دټوليزو خدمتونو مرکزونه جوړوي.

دبشردحقونو سيمه ييز څارونکي دابنئي چې په ښارونو کي 15٪ او په کليو کي 30٪ خلک دداسي حکومتي روغتيائي خدمتونو څخه بې برخي دي او هغوي دشخصي او يا نورو روغتيائي خدمتونو څخه هم مرسته نه ده ليدلې، په داسي حال کي چې به ښارونو کي يوازي 22٪ او په کليو کي 2٪ خلکو دټوله دغه خدمتونو څخه ګټه ترلاسه کړې ده. دروغتيائي مرکزونو څخه د اورده واټن لرل ددې سبب شوي دي چې خلک دي و روغتيائي خدمتونو ته لاسرسي ونه لري، په ښارونو کي 28٪ مرکه کونکو او په کليو کي 61٪ خلکو داسي ځواب ورکړي دي. په ښارونو کي 30٪ او په کليو کي 20٪ خلکو ويلي دي چې دوي ځکه د روغتيائي خدمتونو مرکزونو ته نه ورځي چې هغوي درمل نلري. ځينو بيا دا دليل هم راوړي چې په روغتيائي خدمتونو او کلينيکونو کي دکارکونکو دټيټ ظرفيت ددې سبب کيږي چې دوي خپل باور پر دغه مرکزونو دلاسه ورکي او هلته ورنشي (په ښارونو کي 25٪ او په کليو کي 8٪ پورته باور لري او ډير کسان بيا ددې توان نلري چې وخصوصي، روغتونونو ته ورشي، په ښارونو کي 95٪ او په کليو کي 40٪ کورنۍ وائي چې د ډاکتر او درمل لګښت بيخي ډير دي ددې تر څنګه دکليو 37٪ کورنۍ بيا دا دليل راوړي چې د دوي څخه د روغتيائي مرکز واټن ليري دي نو ځکه نشي کولاي چې دهغه نه ګټه ترلاسه کړو او دخصوصي روغتيائي موسسو دکران قيمت توان راسره نشته.

د روغتيا وزارت په دې هڅه کي دي ترڅو طبي متخصيصان استخدام کړي، وکليوته لاسرسي پيدا کړي او مناسب تعميرونه، سامان او دښه کفايت لرونکي روغتونونه ترلاسه کړي. روغتيائي اساسي خدمتونه به په ولسواليو کي خلکو ته ميسره دي، خو دغه مرکزونه يوازي يوه کوټه لري او ډير کارمندان ئې روزني نلري. که څه هم دبيهو ښه کولو

---

[۸۰]- ابتنابر بريالیتوب: دافغانستان په هکله دلندن جلسه، دافغانستان معاهده 2006 (85-1384).
[۸۱]- د www.moph.gov.af څخه لاس ته راغلي دي د 2008 کال دمي 26 (د 1387 دغبرګولي 6).

**درمل په ځينو مرکزونو کي شته خو په ډيرو سيمو کي دترياکو څخه دمسکن درمل په توګه کار اخلي. دغه سرچيني دماين چاودني او چاوديدونکو موادو دټپيانو او ځان وژونکو بريدونو دپاره کفايت نکوي، نو دغه ډول ټپيان بايد ژر تر ژره ونژدې روغتيائي مرکزونو ته وليږدول شي چې دغه کار يا دموټر دکرايه کولو يا هم دآس يا خره په کرائې سره کيږي څکه چې دامبولانسونو شمير لږ دي.**

**دميندو څخه دطبي خارني مرکزونه نشته دښځو دژوند اوږدوالي په منځني ډول 45 کلونه دي، که څه هم په ټوليزه توګه دښځو ژوند له نارينه وو څخه ډير وي خو افغانستان يو استثنائي هيواد دي. په هغه دوهم ريوټ کي چي دافغانستان حکومت په دوره اي ډول د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو کميټې ته وړاندي کړي دي دپورته ستونزي په هکله دميندو دپاره د روغتيائي خدمتونو کمبودي او دښځو په وړاندي تاوتريخوالي ښودلي دي. دميندو دپاره دروغتيائي خدمتونو کمبودي دبشر دحقونو دسيمه ييز څارونکو په 3 شکل کي ليدلاي شي. خپلوان او دوستان په ښارونو کي 40٪ او په کليو کي 50٪ دزيږيدلو په وخت کي دمرستو اصلي سرچيني دي چې دميندو سره پاتيږي. په ټوليزه توګه 30٪ ښځو دمسلکي کارمندانو په مرسته باندي زيږوني کړي دي او 8٪ ښځو بيا بيله کومو مرستو څخه ادولادونه زيږولي دي په ښاري سيمو کي ډيري کورنۍ دمسلکي مرستو څخه ګټه ترلاسه کولاي شي، هلته 22٪ کورنيو د ډاکتر يا هم پرستار او 25٪ بيا دقابلو دمرستو څخه ګټه ترلاسه کړې ده. په کليو کي 10٪ کرونيو د ډاکتر او يا پرستار او 17٪ ئې دقابلو دمرستو څخه برخمني وې. دروغتيائي خارني دکمبودي له امله په کليو کي دميندو وضعيت زيانمونکي دي او دلنګيدو په وخت کي 30٪ کورنۍ په کليو کي دا توان نه لري چې روغتيائي مرکزته ورسيږي.**

**حتا د زيانمونکو خلکو په مينځ کي هغه مرستي چې د زيږيدو په وخت کي شوي دي هغه د روغتيائي امکاناتو سره مطابقت نه لري ډيري زيږيدني دخپلوانو په مرسته باندي کيږي. دهيواد په ختيځ کي دغه شمير 70٪ ته رسيږي او دهيواد په مرکزي سيمو کي دغه شمير د 60٪ ته رسيږي په دغه سيمو کي بيا ډيري کورنۍ دقابلو (دزيږولو مرستندويان) څخه هم مرسته ترلاسه کوي.**

**دهيواد په شمالي سيمو کي 35٪ کورنۍ دزيږيدو په وخت کي د دوستانو مرستي ترلاسه کوي خو 30٪ ئې بيا دمسلکي کارمندانو په مرسته باندي دزيږيدو بهير سرته رسوي. په لويديځو سيمو کي مرکه کونکو ويلي دي چې 20٪ د دوستانو په مرسته او 50٪ بيا دمسلکي کارمندانو په مرسته داکار سرته رسوي، يوازي دهيواد په لويديځو برخو کي مرکه کونکو ويلي دي چې دوي د زيږيدلو په وخت کي دطبي مرستو او امکاناتو څخه برخمن دي.**

**د دولت څخه هيله داده چې دزيږيدلو په وخت کي او تر هغه وروسته دماشوم او دهغه دمور طبي خارنه وپالي.**

**دوهم شکل: دزيږيدولو په وخت کي دطبي مرستو د امکاناتو شتون**




**دافغانستان دنړيوال روغتيائي سازمان په غوښتنه باندي حکومت بايد داسي کړنلاره غوره کړي چې 60٪ بودجې لګښت دروغتيائي لومړنيو څارونو او 40٪ نور ئي د روغتونونو دخدمتونو دپاره ولګول شي. په هر حال هغه بودجه چې دعامي روغتيا وزارت له خوا د 2007 کال (86-1385) دپاره د 105 مليونه ډالره غوښتل شوي بودجې څخه چې دخدمتونو**

**دسرته رسولو دپاره باید ولګول شي یوازي 10 ملیونه ډالره ځانګړي شول[۸۲]، نو دبودجې نشتوالي ددې سبب کیږي چې روغتیائي خدمتونه وځنډول شي.**

**د امنیت نشتوالي بل هغه عامل دي چې طبي خدمتونه دځنډ سره مخامخ کوي. د 2007 کال دمارچ را په دې خوا ( د 86-1385 وري/ کب) د روغتیائي چارو کار کونکي په سهیل او سهیل ختیځ سیمو کي د مخالف لوري تربریدونو لاندي راغلي دي. یوازي د 2008 کال په لومړیو درو میاشتو کي (87-1386) حکومت لږ تر لږه 36 روغتیائي مرکزونه د امنیتي پیښو له امله تړلي دي چې دهغه له امله 360.000 کسان د روغتیائي خدمتونو څخه محرومه شوي دي[۸۳].**

**شمیرني راښئي چې هغه مرکزونه چې ګډي ښووني پکي وې ترټولو دخطر سره مخامخ وه په دغه رپوټ ورکونکي دورکي کوم کلینیکونو او ډاکترانو چې هم نارینه او هم ښځینه ناروغانو ته خدمتونه کول هغوي د ډیر خطر سره مخامخ وه، دا وضعه هلته کړکیچنه شوه چې ځینو ښځو ډاکترانو چې شمیرئې ډیر لږ وو هلته کار کاوه چې له دې کبله دناروغو ښځو دخدمتونو کارمنده چې ښځه وي نه لرل نو ښځینه ناروغه مجبوره وه چې دنارینه ډاکتر له خوا وکتل شي.**

## *وړاندیزونه:*

**په افغانستان کي د روغتیائي کارمندانو ډیریدل اړین ښکاري په دې برخه کي باید داشیان په نظر کي ونیول شي:**

**په سیمو کي د روغتیائي کارکونکو روزل، دناروغو ښځو ددرملني دپاره بیا بیا پاملرنه کول په ځانګړې توګه دماشومانو دزیږیدو په وخت کي او دهغه نه وروسته دماشوم او مور روغتیائي څارنه، او داسي تشویقول چې ښځي په خپله خوښه باندي د روغتیائي خدمتونو ښووني زده کړي او په دې برخه کي مهارت پیدا کړي. دروغتیائي خدمتونو سره باید مالي مرستي وشي کلینیکونه باید په عصري وسایلو سمبال شي.**

**"حکومت باید داسي اقدامات په نظر کي ونیسي چې د روغتیائي ستونزو او دهغه دمخنیوي او اداري په هکله، دښو او باکیفیته خوړو په برخه کي، د روغتیائي خدمتونو او پاکو اوبو برابرولو، دمور او ماشوم د روغتیائي څارني پروګرام او دکور تنظیمول، دعفوني ناروغیو مصئونول او دساري ناروغیو مخنیونه، دناروغیو مناسبه درملنه او دزخمونو او ناروغیو دپاره لازم درمل برابرول ترلاس لاندي ونیسي". باید د روغتیائي خدمتونو په برخه کي دافغانستان د پراختیا ملي ستراتیژي په نظر کي ونیول شي.**

---

[۸۲]- د www.moph.gov.af څخه لاس ته راغلي دي د 2008 کال د مي 26. (د1387 کال دجوزا 6).
[۸۳]- د http://www.irinnews.org/report.aspx?ReportId=78185 د 2008 کال د مي 26، (د 1387 دغبرګولي 5).

# ښوونه:



دښووني حق هم دماشوم د ودې دحق په توګه او هم د انساني نورو حقونو په توګه داقتصادي او ټولنيزو له ډېرو مهمو حقونو څخه ګڼل کيږي.[٨٤]. دښووني حق دافغانستان دپرمختګ شرط دي[٨٥]. ښوونه ښه ژوند ته دلاسرسي اسانتياوي دفقر دمينځه وړلو، دماشومانو دکار داڅرونو راټيټول او دجنسيت دبرابري دپاره ښه ترويج دي. ښوونه دماشومانو سره مرسته کوي تر څو دلويانو په توګه وده وکړي ترڅو په ښه شان باندي دهيواد په سياسي او ټولنيز ژوند کي فعاله ګډون وکړي. ددغه حق په پوره کولو سره يو شمير نوري مسئلې لکه عامه روغتيا، اقتصادي وضعه او ټولنيزيون ته هم مرسته کوي. دښووني حق هم په اقتصادي، ټولنيز او فرهنګي حقونو نړيوال ميثاق کي او هم دافغانستان په اساسي قانون کي تضمين شوي دي دپورته نړيوال ميثاق 13 ماده حکم کوي چې حکومت دنده لري خو لومړني زده کړي عامه او جبري کړي او هر چاته بايد ميسره وي. دافغانستان داساسي قانون 43 ماده وائي چې حکومت دښووني دحق په هکله دنده لري چې دليسانسه تر درجې پوري هغه موت دځپلو اتباعوته ميسره کي او هڅه دي وکړي چې هغه په مورنۍ ژبه باندي وي، قانون دحکومت نه غوښتنه کوي چې دغه هدف ته درسيدو دپاره پروګرامونه طرح او تطبيق کړي. برسيره پر دې داساسي قانون 44 ماده وائې چې حکومت بايد پردې ټينګار وکړي چې دکوچيانو او ښځو دښوونو دپاره لاټينګار وکړي.

دماشومانو دحقونو کنوانسيون په 28 ماده کي ټينګار کوي چې دټولو ماشومانو دپاره دښووني حق اړين دي او دغه حق بايد دماشومانوته دښووني د وخت ورکولو پر بنسټ باندي تامين شي. دغه ټکي ددې څرګندوي دي چې ډېر ماشومان دتبعيض له مخي دښونو څخه محرومه دي (په ځانګړي توګه هغه ماشومان چې په کليو کي دي، نجوني، هغه ماشومان چې په لرکيو قومونو پوري اړه لري او معلوليت لرونکي ماشومان ).

د CEDAW دکنوانسيون په لاسليک سره حکومت وعده کړې ده چې دښځو په وړاندي هر ډول تبعيض دمينځه وړلو دپاره ټولي هڅي په نظر کي نيسي تر څو ښځي دنارينه وو په شان دټولو حقونو لرونکي واوسي (10 ماده) داقتصادي ټولنيزو او فرهنګي حقونو کميټه دماشومانو دښوونځيو ته تلل په ځانګړي توګه دنجونو دتللو او بيرته راتللو امنيت ونيسي، ټينګار کوي[٨٦].

د زرکلني پراختيائي هدفونو پربنسټ حکومت وعدې کړي دي چې پر لومړنيو عامه ښوونو (د 2 زرکلني پراختيا هدف) او دجنسيت د برابري د ترويج باندي لاسبري پيدا کړي.

---

[٨٤]- دهند دمالي چارو وزارت 2000 کال (79-1378) اقتصادي څيړنه 2000 کال (79-1378) 1999 کال (78-1377) http://indiabudget.nic.in/es99-2000/chap1005.pdf د 2008 کال داګست 17 (د 1378 د زمري 27) او د افغانستان دبشر دحقونو خپلواک کميسيون او دملګرو ملتونو دپناه ورکونکو ځانګه، ملي او نړيوال قانوني معيارونه.
[٨٥]- ټامي ورت Tammy Worth (2008 کال) 87-1386، پراختيا 101: ښوونه په اقتصادي نظام کي لوي رول لري http://kansascity.bizjournals.com/kansascity/stories/2008/07/14/focus1.html د 2008 کال د اګست 17.
[٨٦]- ټوليز نظر شمېره 16، 2005 کال (84-1383) د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو کميټه. دښځو او نارينه وو برابر حق 30 بند.

- دافغانستان دزرکلني پراختيا دهدفونو 3 مطلب دادي چې تر 2020ز کال پورې (99-1398) ټول ماشومان نجلۍ او هلکان په ټولو سيمو کې دغه توانمندي ولري چې خپل لومړني ښوونيزه دوره پوره کړي. دنوم ليکنې اوسني حالت ښئي چې 54٪ ماشومان په لومړنيو ښوونځيو کې ثبت شوي دي او 45٪ بيا تر پنځم ټولګي پورې دوام کوي.
- دافغانستان دزرکلني پراختيا دهدفونو 4 مطلب دادي چې د 2020 ز کال پورې (99-1398) په ټولو سطحو کې دجنسيت نا برابري دمينځه ولاړه شي. اوسني نسبت دهلکانو او نجونو ترمينځ 0.6 دی.

دټولو هغه لاسته راوړونو سره چې دښووني په برخه کې شوي دي تر 2001، (1399-1398) افغانستان دعامه خلکو دښووني په برخه کې دځو ستونزو سره مخامخ دي. دښوونځيو کمبودي او هغه ته نه لاسرسنه او دنجونو او ښځو محروميت دلړکيو نه لاسرسنه په دې برخه کې د انديښنې وړ دي. ډيريدونکي نا امنی هم دښووني پر بهير بده اغيزه کړيده ددې راپور جوړولو په وخت کې دجګړې له امله دښوونځيو تړل، پرښونځيو باندي يرغل، دښونکو تښتول د زده کونکو ويرول په ځانګړي توګه دنجونو ويرول د جګړه ييزو عناصرو په وسيله کاريدل.

## *دښوونځيو ځرنګوالی او دهغو لاس نيوی:*

په ظاهر کې وښونځيو ته لاسرسنه ښه معلوميږي. افغانستان د 9000 په شاوخوا کې ښوونځی لري، ياني د 1500 کسانو دپاره يوه ښوونځی، په هيواد کې 5000 لومړنی ښوونځي، 2500 منځني ښوونځي او 1500 ليسې شته[87].

دمرکه کونکو څخه 90٪ ئې دبشر دحقونو دسيمه ييزو څارونکو په وينا ويلي دي چې هغوي دلومړنيو ښوونځيو ته لاسرسي لري، خو ددغو ښوونځيو ترمينځ د واټن په برخه کې څه معلومات نه دي ورکړل شوي، په ښارونو کې شخصي او حکومتي ښوونځی دهلکانو او نجونو دپاره شته (دمرکه کونکو 90٪ دغه څه ويلي دي دسيمه ييزو څارونکو په قول) په کليو کې حکومت دهلکانو دښوونځيو 92٪ برخې جوړ وي او 83٪ دنجونو ښوونځی د دولت له خوا جوړيږي. په هرحال دښووني سيستم دپوره مالي مرستو څخه برخمن نه دي. په افغانستان کې 60٪ ښونځی تلپاتي ت تعميرونه نلري[88].

"په بدخشان کې يو کليوال ښوونځی چې د 350 ډيرو کورنيو دپاره دي تعمير نلري. ماشومان ترشنه اسمان لاندي په خلاصه هوا او ياهم په خيمو کې درسونه لولي نجونی په مسجد کې درسونه لولي څوکۍ، ميزونه، کتابونه او نور وسايل نشته نجونو شکايت وکې: "موږ بايد خپل درسونه دکلي په مسجد کې وواېو، هلته به څشي زده کړو؟ ښونکي نلرو، کتابونه نه لرو او کتابچې نلرو، له 100 نجونو څخه لاډيري نجونی دلته شته چې لوست، ليک نشي کولای، ځرنګه چې هغه ډير نژدې ښوونځی دنجونو دپاره بياهم دوه نيم ساعته دپلي تللو واټن لري او زموږ کورنی اجازه نه راکوي چې دغه ليرې ښونځيو ته ولاړې شو"".

په ښارونو کې ښوونځی ډير تيت او پرک پرتې دي زده کونکي مجبوره دي چې دنژدې ښوونځی ته درسيدلو دپاره پلي تګ وکړي، دافغانستان په کليو کې حتا دلومړنيو ښوونځيو ته درسيدلو دپاره ماشومان بايد پلي تګ وکړي خو ځيني وخت امکان لري چې د لاري دنا امنيو په خاطر ياهم دهوا دخرابي، په سړکونو د ډيرو بيروبار په خاطر، ماينونه او ناچوديدلي چاوديدونکي توکي دهغوي تګ ناممکنه کړي.

دا په دې مانا باندي دي چې دلېر دولو يا ترانسپورتي وسيلو د نه شتون له کبله يوازي دخانانو کورنی دا توان لري چې خپل اولادونه ليسې ته واستوي او ياهم هغه کسان چې دخپل توان له پلوه وليسونه نژدې استوګنځي جوړې کړي او پاته نور بايد اوږ د واټن ووهي او ياهم دښونځی تللو څخه لاس واخلي.

"دافغانستان دبشر دحقونو خپلواک کميسيون دخلکو داسي قضيې ئې ثبت کړي دي چې هغوي ښوونو ته لاسرسي نلري، ټوله دغه قضيې په دې سبب باندي دښوونو

---

[87]- دښووني وزارت 2007 (87-1386) دښوونځيو څارنه په 2007 رپوټ کي د 2007 د مي مياشته ( د1386 غوائي- غبرګولي) د 2007 تر اګست پوري (د1386 زمري/ وږي) دپروګرامونه رياست.
[88]- پورته سرچينه.

دمحرومیت باعث شوي دي چې واټن ډېر اوږد وو او یا خوهم ښوونځي ته دتللو لاره دخطره ډکه وه. دبدخشان یو زوړ سړي داسي وائي " د 100 کورنیو په شاوخوا کي په یوه کلي کي اوسیږو ډېر نژدې واټن چې دښوونځي څخه زموږ تر کلي پوري دي هغه دیوې خوا څخه دوه ساعته پلي لار وهل دي، په پسرلي کي سیلاوونه ډېر دي او سړک دخطر سره مخامخ کیږي او ځیني وخت دخواونیو دپاره دغه سړک بند وي. ځیني وخت سیلاو د ورځي راشي او زموږ ماشومان د رود پر هغه بله خوا باندي پاتیږي په دوبې کي ماشومان مجبوره دي چې تر سو ځونکي لمر لاندي لاره ووهي له دې څخه ویره لرو چې زموږ ماشومانوته څه ضرر ونه رسیږي په داسي حال کي چې دهغوي دمرستي دپاره هیڅ ډول مرسته نشته".

دپورته ستونزي دحل دپاره څه کار نه دي شوي، کله چې دغه ستونزه دولسوال او دښووني د ریاست دچارواکو سره وځیړل شوي، هغوي داسي وعدې ورکړې چې دغه مسئله به دولسوالیو دپراختیا په پروګرام کي ونیسو خو ددغه هڅو سره بیا هم دغه کلې ته هیڅ ښونکي نه دی استول شوي او سیمه ییز ښوونکي نشته په یوه وخت کي هغه وخت چې دغه مقام لرونکي تر فشار لاندي راغلل نو هغوي وویل چې دوي دغه ښوونځی د 2008 کال دنوامبر تر 30 پوري جوړوي (د 1387 کال دلیندي 10) خو سوال دادي چې آیا په ژمي کي ددغه سي ښونځیو جوړول امکان لري؟"

ددغه مسئلې ته درسیدلو دپاره یاني ښوونځي ته تلل دحکومت دسیمه ییز ښوونو په پروګرام کي ځاي ورکړل شوي دي دغیر دولتي او وزارت (ښووني وزارت) له خوا یو ائتلاف جوړ شوي دي او د 2006 کال په اپریل کي (د 1385 وري/ غوائې) دښووني سیمه ییز پروګرام ته رسمي بڼه ورکړل شول، څکه داسي قبول کړل شول چې دسیمي ییزي ښوونو پروګرام به دلیري سیمو دپاره ښه لاسرسنه وي[89]. په افغانستان کي دسیمه ییزو ښووني د پراختیا دمرستي پروژه (PACE-A) دښوونیز نصاب دهم غړي ملاتړ کوي او ماشومانو ته اجازه ورکوي تر څو دسیمو نه بهر خپلو زده کړو ته دوام ورکي دغه پروژه په هغه 17 ولایتونو کي فعالیت لري کوم چې په سیمي رسمي توګه دهغوي دښووځیو شمیر لړ ثبت شوي دي. اوس اوس دغه پروژه په خپل دوهم کال کي فعالیت لري او هغه خلکو ته مرستي ورکوي چې دښوونځیو څخه په لیري واټن کي میشته دي او داڅه هم کوي تر څو چې کولاي شي د نجونو ته هم دښووني زمینه برابره کړي[90].

## *دښوونځیو پریښودل او دهغوی حاضري:*

دښوونځی دپریښولو کچه ډېره لوړه ده، دهلکانو څخه یوازي 11% او دنجونو څخه 5% چې په ښوونځی کي ئې دنوم ثبت کړي دي تر 12 ټولګي پوري رسیدلي دي په داسي حال کي چې تر شپږم ټولګي پوري دغه کچه په هلکانو کي 82% او په نجونو کي 63% ده[91].

دغه لاس ته راغلي معلومات په دې مانا دي چې په دي برخه کي مبالغه شوې ده. دسویډن هیواد یوې کمیټې چې څیړنه ئې کړې ده هغوي دغه واقعیت پیدا کړي دي چې ځیني هلکان چې د دري کلونه تر مخه ئې دښوونځي سره پریکړه کړې ده خو تراوسه پوري ئې نومونه دښوونځي په لست کي لیکلي وه[92]. دا په دې مانا دي چې هغه ماشومانو چې په لومړني ښوونځیو کي خپل نومونه ثبت کړي دي او تر لوړو ټولګیو پوري خپل ښووني ته دوام ورکوي، له هغه نه ئې شمیر ډېر ټیټ دي کوم چې رپوټ ئې ورکړل شوي دي.

د استوګنځي ډول، جنسیت او سیمه هغه دري مهم شیان دي چې دښوونځیو پر پریښودلو باندي اغیزي کوي هغه څه چې دتعجب وړ دي هغه دکورنیو پور او معاش دي چې دماشومانو دښونځیو پرحاضري باندي لړ اثر اچوي.

---

[89]- دامریکا دنړیوالي پراختیا اژانس/ افغانستان: په افغانستان کي دسیمه ییزي ښوونو دپراختیا دپاره مرستي (PACE-A) http://afghanistan.usaid.gov/en/Activity.47.aspx د 2005 کال داګست 15 (د1387 کال دزمري 25).

[90]- ښوونه- په افغانستان کي دسیمه ییزو ښوونو دپراختیا دپاره مرستي، دنجونو دپاره منځنۍ ښوونځي http://www.care.org/careswork/projects/AFG023.asp د 2008 کال د اګست 15 ( د 1387 کال د زمري 25).

[91]- دښووني وزارت 2007 (1386-1385) پر ښوونځیو څیړنه د رپوټونو لنډیز دڅیړني دوره د 2007 کال دمي میاشت (1386 کال غوائي- غبرګولي) دپروګرامونو ریاست.

[92]- دافغانستان دپاره دسویډن کمیټه 2007 کال (86-1385) دښوونځیو دپریښولو په هکله څیړنه.

دښمر دحقونو دسیمه ییزو څآرونکو په لاس راغلي معلومات راښئي چې په کلیو کي دماشومانو دښوونځیو حاضري منظمه ده دکلیو دښوونځیو دماشومانو دحاضري په پرتله باندي دښار دهلکانو دښوونځی حاضري 66.40٪ ده چې په کلیو کي 65.60٪ ده، په کلیو کي دغیر حاضرو ماشومانو کچه دښار په پرتله 18٪ او ښارکي 15٪ ده، په لویو ښارونو کي استوګني دښونځی دماشومانو (هلکان- نجوني) پرحاضري مثبت رول لري دي، په دې هکله توپیر 5٪ وو چې په ښارونو کي حاضري 57.60٪ او په کلیو کي 53.30٪ شودل شوې ده، دهغو نجونو شمیر او کچه چې دښونځی نه غیر حاضري وې کچه ئې په ښارونو او کلیو کي مساوي وه، چې په ښار کي 26.60٪ او په کلي کي 27.30٪ وه په کلیو کي دښوونځیو دنجونو غیر حاضري دښاري نجونو په پرتله یو څه ډیره وه، دغه تفاوت په ښارونو کي 8٪ او په کلیو کي 13٪ راښئي دغه څه ډیر مهم دي ځکه چې ډیر خلک په کلیو کي ژوند کوي نو ځکه دي چې په کلیو کي دنجونو پر ښوونو باندي ئې نا متناسبه تاثیر ایښی دي.

سیمه بل هغه سبب بللاي شو چې په ښوونځیو کي دحاضري پرکچه اثر اچوي. ترټولو ښه حاضري په هغه سیمو کي وه چې په مرکزي او یا هم لوړو ولایتونو کي یې خلک اوسیدل (دلومړی ټولګی څخه تر شپږم ټولګی پوری) او تر ټولو بده حاضري په سهیل او لویدیځ کي ولیدل شول. په لویدیځ او غرني سیمو کي او هم په مرکزي برخو کي دښوونځی په حاضري کي دجنسیت له پلوه لږ توپیرلیدل کیږي، هلکان تر نجونو په پرتله چې 4٪ وې 5٪ هلکان حاضر وه. ډیر لوي تفاوت په ختیځو ولایتونو کي وو چې 21٪ ته رسیدي په مرکزي او شمالي ولایتونو کي 17٪ وو که څه هم دجنسیت پر اساس په ښوونځیو کي دبشر دحقونو دسیمه ییزو څارونکو په قول په حاضري کي دهلکانو کچه تر نجونو ډیره ده، دغه ټکي ددې ماناهم ورکوي چې دښورښیانو ترلاس لاندي سیمو کي دبشر دحقونو دسیمه ییزو څارونکو دمعلومات ټولولو توان کم دي، په هغه سیمو کي دنجونو دحاضري کچه دهلکانو په پرتله ډیره لږ ده. دښووني وزارت اعلان کړي دي چې دلومړي ټولګي نجوني په ارزګان کي 10٪ په زابل کي 15٪ په هلمند کي 16٪ او په کندهار کي 22٪ دټولو زده کونکو دشمیر څخه جوړ وي[٩٣].

ښوونځی ته د نه تللو سببونه عبارت دي له: دښووني کیفیت، دښوونځی کفایت او اقتصادي علتونه، نور علتونه لکه فرهنګي خوښوني، ټولنیزي منع کوني او په ښوونځیو کي دناوړه چلند او جنسي آزار هم باید په پام کي ونیول شي دښوونځی څخه لیري واټن لرل دوهم لوي دلیل وو چې غیر حاضري ئې ډیره کړې ده، دغه سببونه ټولو کلیوالو هلکانو ته رښتیائي بڼه لري کار کول بل هغه سبب دي چې هلکان تر نجوو ډیر دښوونځی تللو څخه محرومه کوي.

واده کول بله ستونزه ده چې پرغیر حاضري باندي مستقیم اثر لري چې دغه څه دښار په نجونو کي 3٪ په کلیو کي 6٪ او دکلیو په هلکانو کي 4٪ اثر ړدي چې له ښوونځی نه غیر حاضر شي.

باید ددغو معلوماتو په څیرلو کي له څیرکي او احتیاط څخه کار واخلو، ځکه هغه سوال چې دمرکه کونکو څخه شوي وو دغه سوال وو. ولي ستاسو وروڼه او خویندي په منظم ډول ښوونځی ته نه حاضریږي؟

دریم جدول: هغه دلیلونه چې مرکه کونکو ښوونځی ته دنه تللو دپاره دبشر دحقونو څارونکو کسانو ویلي دي.

[٩٣]- دښووني وزارت 2007 کال (1386-1385) پرښوونځیو څېړنه 2007 کال (1386) د رپوټونو لنډیز د 2007 کال مې (د1386 کال غوائي- غبرګولي) د 2007 کال تر اګست پوري، دپروګرامونو ریاست EMIS department.




په دغه علامه کي دغالۍ او بد لو کار ډير وو.

## *داخلول: دښوونې په برخه کې دلږکيو او جنسيت ونډه:*

په ښوونځيو کي دجنسيت اختلاف او دلږکيو په وړاندي تبعيض هغه ننګونه ده چې دافغان هيوادوالو په وړاندي پرته ده. همدا اوس 1.8 مليونه نجونو په ښونځيو کي نومونه ثبت کړي دي، ددې سره سره نجوني دافغانستان دنفوس 35٪ جوړ وي چې ښوونځيو ته ورځي دلومړي ټولګی په کچه باندي نجوني دښوونځی 40٪ جوړ وي هر څومره چې لوړ ټولګي ته ځي دغه کچه راټيټيږي چې په منځنی ښونځی کي 34٪ او په دولسم ټولګي کي 25٪ ته رسيږي[٩٤]. هغه رسمي شميرنه چې دقوم او يا مذهب پر اساس شوې وي په لاس کي نشته.

نجونو ته دزدکړي وخت محدود شوي دي. دښر دحقونو سيمه ييز څارونکو مرکه کونکو ويلي دي چې په ښارونو کي د 2٪ او په کليو کي د 6٪ کورنيو دنجونو دپاره ښوونځی نشته له 150.00 کورنيو سره په مرکه کي يوازي يوې کورنی ويلي دي چې دهغوي دزامنو دپاره دښووني وخت نشته دا په دې مانا دې چې په ښارونو کي د 40.000 نجونو او په کليو کي ديونيم مليون نجونو دپاره دلومړني زده کړو زمينه نه ده برابره شوې يو لوي د انديښني وړ سبب دادي چې دښوونځی او کورونو تر ميان واټن ډير اورد دی، دښر دحقونو دسيمه ييزو څارونکو په وينا چې دغه څه هغه دوهم غټ دليل دي چې ولي کورنی نه غواړي خپلي لوڼي وښوونځی ته داخلي کړي. ددې احتمال ډير کمزوري دي چې خلک دي په دې باندي راضي شي چې خپلي پيغلي لوڼي دي داسي ښوونځی ته وليږي چې دهغه واټن دکور څخه دوه ساعته پلي لار وهل وي. بله ننګونه چې دښځو دښووني په وړاندي شته هغه په ښوونځيو کي دښځينه ښوونکو نشتوالي دي په ځانګړي توګه دلومړنی زده کړو وروسته.

"دافغانستان دښر دحقونو خپلواک کميسيون ديوه ښوونځي دکتلو په وخت کي دوه هندو نجونو داسي شکايت وکړ چې کله چې موږ په ښوونځي کي يو زموږ سره بده وضعه کيږي، ځرنګه چې زموږ دپاره ځانګړې ښوونځی نشته موږ بايد دغه عامه ښوونځي ته راشو، ځرنګه چې موږ خپل دين او فرهنګ لرو نو څوک زموږ ستونزوته نه ګوري، ټوله موږ مسخره کوي" کله چې دکندهار ولايت دښووني د رئيس سره مرکه وشول او دغه ستونزه ورته ووېل شول هغه ووېل چې په دې برخه کي کوم څه نشي کولاي.

## *ناامنی: پرښوونځيو بريدونه:*

په څو وروستيو کلونو کي پرښوونځيو باندي دښورښيانو بريدونه ډير زيات شوي دي په 2007 ز کال کي (1385-86) 55 امنيتي ويري اچوني او له 180 څخه ډير بريدونه

---

[٩٤]- پورته سرچينه.

**دښوونځيو پرضد شوي دي چې دهغه له امله 108 کسه مړه شوي او 154 کسه بيا ټپيان شوي دي[٩٥].**

**د2008 کال لومړۍ درې مياشتي (1387-1386) کي پنځه امنيتي تهديدونه او 24 بريدونه شوي دي چې د هغه په سبب دوه کسه وژل شوي دي په ځانګړي توګه دهيواد په سهيل کي چيرته چې شورشيان ډير واک لري وضعيت ډير کړکيچن دي. پرښوونځيو باندي بريدونه دويري وروستي ګام دي چې دافغان ماشومان او په ځانګړي توګه نجوني دښوونځيو دتللو څخه محرومه کوي. دويري نور ډولونه او بريدونه عبارت دي د: ويرونکي ليکونه استول تښتول، پرښوونکو بريدونه، دسيمه ييز چاروواکو ويرول او پرزده کونکو باندي دتيزاب پاشل[٩٦]. دغه کړني ددې سبب شوي دي چې له 200 څخه ډيري ښوونځي وتړل شي په (2007 کال کي [٩٧].**

**هغه ښوونځي لومړني هدفونه دي کوم چې دهلکانو او نجونو دپاره ګډ ټولګي لري او ياهم په يوه ګډ تعمير کي اوسي دهغه کورنيو سره چې دافغانستان دبشر دحقونو خپلواک کميسيون مرکې کړي دي هغوي ويلي دي چې نا امني هغه يوازيني سبب دي چې ولي دوي خپل نجوني ښوونځيو ته نه ليږي.**

**د 2007 کال په نوامبر کي (د1386 کال لړم/ ليندي) دپکتيا ولايت په يوه ښوونځي کي دکمپيوټر او انګليسي ژبې يو ښوونکي ترور کړل شو، سهار پنځه کسان چې په کلاشينکوفونو سمبال وه ښوونځي ته راغلل، ښوونکي ئې ترلاس ونيوي او دښوونځي انګړته ئې بوتي، په همدغه وخت کي زده کوونکو په دې انګړ کي ازموينه درلوده، دغه وسله والو بيله دې چې څه ووائي په اته دانو مرميو سره دا ښوونکي مړ کړ او هغه د زده کونکو مخي ته ساه ورکړه. دهغه وسله والو څخه دوه کسه دپوليسو سره په جګړه کي ووژل شول، طالبانو ددغه جګړې مسئوليت په خپله غاړه واخيستي او وئې ويل چې دوي دحکومت يو کس وژلي دي، دهغه ښوونکي پلار وويل چې موږ دچاسره دښمني نلرو، زما د زوي يوازيني ګناه داوه چې دانګليسي او کمپيوټر لوست ئې ورکاوه. موږ تر دې دمخه او ياهم دمړيني وروسته کومه شپې پاڼه ترلاسه کړې نه ده، زما زوي 22 کلن وو او کوزده ئې لرله.**

## وړانديزونه:

**حکومت بايد دښووني سيستم تنظيم کړي او په ځانګړي توګه دنجونو ښوونو ته پراختيا ورکړي، حکومت بايد داسي تدبيرونه ترلاس لاندي ونيسي چې دنجونو دښوونځيو دپاره (منځني او ليسې) ښځي ښوونکي وروزي.**

**حکومت بايد دښوونځيو دپاره لاښه امنيت راولي که بله وسيله نه وي نو دا اړين ښکاري چې دکورنه تر ښوونځي او برعکس د زده کونکو دپاره مل کسان پيدا کړي.**

**دافغانستان دبشر دحقونو خپلواک کميسيون دجګړې دټولو اخته خواو څخه هيله لري چې بشردوستانه او نړيوال قوانين په ځانګړي توګه دښوونيزو موسسو دامنيت ساتنه وکړي او داسي سوله من چاپيريال تيار کي چې هلته دښونکو او زده کونکو احترام ساتلي وي.**

**هم حکومت او هم هغه نړيوال مرستندويان چې دښووني لګښت ته مرسته ورکوي داسي ترتيب ونيسي چې دټولو زده کونکو او په ځانګړې توګه هغه زده کونکي چې دمالي ناتواني سره اخته دي دهغوي اړتياوي ورپوره کي بايد دنالوستي دوړلو دپاره ملي هڅې پيل شي دټولو مضمونونو ويل ډير اهميت لري په هغه صورت کي چې ديوه هيواد ولس نالوستي وي نو هيواد نشي کولاي چې ښوونه ترويج کړي. دښووني وزارت بايد دلوست زده کړي دپاره دغير دولتي موسسو سره مرستي وکړي.**

---

[٩٥]- فردي اړيکي ديونيسيف ديوه کارمند سره مرکه د 2008 کال داګست 21 (د1387 کال دزمري 31).

[٩٦]- دبشر دحقونو دليدونکو سازمان (HRW) 2007 کال (86-1385) انساني لګښت په افغانستان کي دښورښيانو دبريدونو پايلي.

[٩٧]- دښووني وزارت 2007 (86-1385) دښوونځيو څارنه په 2007 کال کي 1386 د رپوټونو لنډيز دځيړني دوره د 2007 کال مي (د 1386 کال غوئي/ غبرګولي) دپروګرامونو رياست Emis department.

دښووني حق (دعالي ښونو حق) دافغانستان په اساسي قانون كي تضمين شوي دي دغه حق بايد افغانستان دخلكو دراتلونكي رپوټونو اساس وي. دلوړ وزده کړو حق په وړيا توګه دحكومت له خوا تضمين شوي دي چې دافغانستان په اوسيدونكو پوري ځانګړيتوب لري چې دهغه نه بايد سترګي پټي نشي ځكه چې ډير صنعتي هيوادونه داسي حق په رسميت باندي نه پيژني ددغه حق څخه په ګټه اخيستني سره بايد ښځي تشويق کړل شي خپلي لوړي زده كړي وكړي او د روغتيا او ښووني په هكله هڅي وكړي.

مسلكي زده كړي او دمهارتونو لوړول بايد په نظر كي ونيول شي داهغه برخي دي چې كولاي شي وزرات او نورو مسلكي برخو په لاره كي ښه والي راشي.

په هره ښونځۍ كي بايد يو مسئول كس په دې وګمارل شي چې هغه ماشومان چې ښوونځي ته راځي دهغوي دحاضري ډاډ ځانته حاصل كي او په دې ځان وپوهوي چې دغير حاضرو كسانو دنه راتګ سببونه څشي دي، دا هڅه هم وكړي چې دښونځۍ دټرانسپورټ ستونزي څرنګه حل كولاي شي او دغير حكومتي سازمانونو سره د اړيكي ټينګي كړي چې دترانسپورټ سرچيني پيدا كي، يو ځل بيا بايد ووايو چې دښوونكو دمرستي دپاره بايد هڅي ترسره شي.

بايد ښوونځيو ته مالي مرستي وركړل شي او دكتابونو سامانونو او ښوونو دوسيلو توكي برابري او د امنيت چاري ئي په ملي او نړيواله سطحه باندي تامين كړل شي دښوونو ستني دتمدن بنسټ جوړ وي او دغه څه بايد په افغانستان كي دبيا جوړولو او ثبات دپاره لومړيتوب ولري.

## وړاندیزونه:

افغانستان باید دخپلو دندو دسرته رسولو دپاره داقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي نړیوال میثاق پر بنسټ په یو سلسله اجراتو لاس پوري کړي چې هغه عبارت دي د: دموجوده قوانینو پلي کول، دنړیوالو قوانینو سره دهغه داخلي قوانینو اصلاح کول کوم چې هغه تصویب شوي دي خو دافغانستان د اساسي قانون سره په تضاد کي دي، داقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي نړیوال میثاق د مندرجه حقونو پر اساس، اساسي ټولنیز خدمتونه وړاندي کړي، دملاتړو میکانیزمونو طرح او دامنیت ساتنه وکړي.

## *هم غږي:*

دافغانستان حکومت باید پرمشارکتي پراختیا باندي زور واچوي، دولایتونو دبیا جوړولو ټیمونه باید دسیمه ییزو خلکو دمشورو میکانیزمونه نورهم ښه کړي او دغه ډاډ ترلاسه کړي چې دپراختیا ټولي پروژې دافغانستان دپراختیا دملي ستراتیژي سره یوشان وي او دسیمه ییزو خلکو اړتیاووته لومړیتوبونه ورکړل شي.

دیوې کمیټې دجوړیدو غوښتنه کیږي چې په هغه کي باید دافغانستان دبشر دحقونو خپلواک کمیسیون، حکومت او د ملګرو ملتونو سازمان ددغه رپوټ دتعقیب دپاره کار وکړي اړین ښکاري چې یوه کمیټه دافغانستان دبشر دحقونو خپلواک کمیسیون، دملګري ملتونو دسازمان پوري تړلي اژانسونه او دوزیرانو دشورا دارالانشا په ګډون جوړه شي ترڅو اړونده وزارتونه داقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو پر اجراآتو باندي څارنه وکړي.

## *دموجوده قوانینو پلي کول:*

دافغانستان اساسي قانون دیوې عادلانه او منصفانه ټولني دجوړولو دپاره په دې هیواد کي ډیر ښه اساس دي نو په دې اساس دقانون پلي کول باید ټینګ کړل شي حکومت باید دورځني اجورې اخیستونکي کارګرانو دپاره ځانګړي قانون جوړ او دماشومانو دکار او روغتیا په اړه مقررې تصویب کړي. دکورنی قانون بل هغه څه دي چې اندیښنه راپاروي حکومت باید دزور ودونه او دکوچني سن واده کول منع کړي او ټول ودونه او طلاقونه باید په جبري ډول ثبت کړي دښووني او روغتیا خدمتونو ته لاسرسي باید دټولو دپاره او په ځانګړي توګه دښځو له پاره بیله کوم تبعیض څخه میسره کړل شي.

## *دمتناقضو قوانینو اصلاح کول:*

افغانستان حکومت باید هغه قوانین چې دنړیوالو قوانینو او دافغانستان داساسي قانون سره په تضاد کي دي اصلاح کي لویه اندیښنه د واده کولو په وخت کي دنارینه او ښځینه دسنونو (عمر) دتوپیر مسئله ده. دا اړین بریښي چې دکورنیو قانون دسالمو امورو دتنظیم دپاره جوړ شي چې دواده کولو، طلاق، حقونو، آزادیو، دکورنیو دغړو مکلفیتونه، دزور و دونه منع کول، دماشومانو ودونه، دکورني تاوتریخوالي پر ضد مبارزه او دښځو دحقونو څخه دملاتړ مسئلي یکي روښانه شوي وي دکار قانون باید داسي ترتیب کړل شي چې دجنسیت مسئله یکي روښانه او دجنسیت رویه په انساني بڼه ترسیم او دکار په ځاي کي دجنسي آزار منع کول پکي په واضیح توګه تثبیت شوي وي.

دلوړو زده کړو او دښووني قانون باید بیله ځنډه څخه جوړ شي، دغه قانون شخصي ښوونځی او موسسې ترویجوي چې دښووني او روزني دپاره ښه زمینه برابره شي، په ملي شورا کي باید دمعلولیت لرونکي کسانو قانون تصویب کړل شي، د روغتیا او روغتیا څخه ملاتړ قانون جوړ شي او د ښو او باکیفیته درملونو دصادرولو او واردولو کړنلاره ټینګه کړل شي.

دښځو په وړاندي دتاوتریخوالي سره مبارزه باید دنړیوالو معیارونو پر لارښود باندي ولاړه وي. نړیوال قوانین باید د داخلي قوانینو دپاره دلارښود او مثال په توګه وي. دافغانستان دپاره ملګرو ملتونو دمرستو سازمان (یوناما) او نړیواله ټولنه باید دملي شورا غړي تشویق کړي چې په دې رپوټ کي مندرجه اصلاحات عامه شي.

## دټولنيزو اساسي خدمتونو وړاندي کول:

داقتصادي او ټولنيزو حقونو دتأمين دپاره يو دهغه ټاکونکو مسئلو څخه د اوسني اړتياو دپوره کولو دپاره اساسي خدمتونه دي پراختيا بايد دپراختيا دګډون پر اصل بايد مينځ ته راشي نو په دې ډول افغانستان حکومت بايد دشوراګانو او سيمه ييز ټولنو څخه لاسه ګټه واخلي.

په غير رسمي اقتصادي کي بايد دمشغولو کسانو مهارت لوړ کړل شي او دکارګرانو دحقونو څخه ملاتړ بايد رسمي بڼه پيدا کړي دټولنيز امنيت خدمتونه بايد دپوهاوي ورکولو دمسئولينو په ملاتړ او دزيانمنونکو کسانو دهم غړي کولو خدمتونو په وسيله پراختياوومومي. حکومت بايد ټولنيز امنيت دمرستو وړاندي کولو او دمعلوليت لرونکو کسانو ته د خدمت کولو په وسيله داسي وړاندي کړي چې هيڅ ډول سياسي اړيکي او طرحي پکي نه وي.

دزيږدني ثبتولو، واده کولو او طلاق موسسې او ځانګي جوړي شي او ټولو هيوادوالو ته دملي هويت پاڼي موجودي وي او دهيواد په ډيرو ليري سيمو کي هغه هيوادوالوته ورکړل شي.

دافغانستان حکومت بايد د بيخ بنائي خدمتونو ته پراختيا ورکړي، په دې کي داوبو دسرچينو پراختيا، دمځکو پرسر د دعوا او دحلولو دپاره موثره ميکانيزم او دژوند تيرولو دپاره داسي زميني برابري کړي چې کار او روزګار وکړلاي شي دملکيت امنيت هم بايد دښاري کورنيو او هم دکليوالو دپاره تأمين کړل شي، ددغه هدف داجرا دپاره کوم داسي يوه پروژه ترلاس لاندي ونيسي چې ارزانه بيو کورونو جوړول پيل کړي او خلکوته ئې وسپاري او دکابل دښار په شاوخوا کي غير رسمي ښارګوټي رسمي کړي او هغوي ته پراختيا ورکړي، که چيري دغه څه ناممکن وي نو اوسيدونکوته دي دبيرته ځاي پرځاي کيدو دپاره مرستي وشي.

دبيرته راستانه کيدلو کړنلاره بايد دداسي کړنلاري سره يوځاي شي چې هيوادته دبيا راستانه کيدو او داخلي بيځايه شويو دپاره دا زمينه برابره وي چې دوي کولاي شي چې دخپل اصلي ټاټوبي نه بهر په بله سيمه کي ميشته شي.

دمځکو دځانګړيتوب طرح هغه مهم فرصت را په برخه کوي چې دهغه په وسيله موږ کولاي شو چې هغوي په نوي کورونو کي ځاي پرځاي کړو او هغوي په ټولنه کي مدغم کړو په هر حال دغه شيان بايد په نظر کي ونيول شي دټاکنو بهير بايد روڼ دي او دغه بهير بايد دداخلي بيځايه شوو دپاره هم په نظر کي ونيول شي او ښارګوټي بايد ژرتر ژره پراخه کړل شي او بيخ بنائې بايد اساسي وي او دلويو ښارونو سره ئې اړيکي ټينګي وي، په ښارګوټو کي بيرته، ځاي پرځاي کول بايد دحکومت په کړنلاره کي شامل وي.

روغتيائي خدمتونه او کلينيکونه بايد ټوله وسايل او لازمه درمل ولري چې په هغه کي امبولانسونه هم شامليږي چې هغه دبيړني روغتيائي وسايلو لرونکي واوسي حکومت بايد ډير سيمه ييز روغتيائي کارکونکي وروزي، دښځو روغتيائي وضعيت ته بايد ځانګړي پاملرنه وشي چې په هغه کي دزيږيدلو په وخت او دهغه نه وروسته دمور او دهغه دماشوم سر پرستي شامليږي او ښځي دروغتيائي پوهني او روزني دپاره تشويق کړل شي ترڅو دښځينه ډاکترانو او قابلو شمير ډير شي.

په کلينيکونو کي بايد فيزيوتراپي او دبدن دمصنوعي غړو (پښې- لاسونه) خدمتونه په ټول ښاري مرکزي کلينيکونو کي موجود واوسي.

محرومه او غريبو ماشومانو دپاره بايد دسيمه ييزو ښوونو دلاري خدمتونه تيار کړل شي، په ځانګړي توګه دنجونو ښووني ته بايد ځانګړې پاملرنه وشي حکومت بايد داسي فعاله تدبيرونه ونيسي چې دنجونو دښووڼځيو اوليسو دپاره ډيري ښځينه ښوونکي وروزي.

## دمرستندويه ميکانيزمونو طرحه:

دمهاجرو کارګرانو دملاتړ دپاره دافغانستان حکومت بايد د ايران دحکومت سره دوه اړخيزي مرستي او اړيکي ټينګي کړي.

دجنسيت برابري يوه مهمه ټولنيزه برخه ده چې په دې برخه کي بايد ښځو ته دکار برابرولو دپاره هڅي وشي، حکومت بايد داسي تکړه ميکانيزمونه جوړ کړي چې په هغه کي دجنسي آزار، قاچاق او جبري کارونو په برخه کي پوهاوي ورکړله شي. پوليس بايد دکورنيو دتاوتريخوالي په هکله په ځانګړي توګه هغه چې په وژلو سره پاي ته رسيږي ځانګړې پاملرنه وکړي، دا يوازي دروغتونونو دکارمندانو دنده نه ده چې دتاوتريخوالي په وړاندي دښځو ملاتړ وکړي.

دافغانستان حکومت بايد دخواړو دناامنيو په وړاندي اوږدمهاله ستراتيژي ترلاس لاندي ونيسي، په دغه ستراتيژي کي دغه شيان شامل دي: دکليو دبيخ بناوو او بيا جوړولو پروګرام، په کليو کي دپراختيا دپاره دډيرو پانګو لګول اړوکسانو ته دخواړو رسولو پروګرام، په کليو کي کر او کښت ته ځانګړي پاملرنه.

## دامنيت راوستل:

دافغانستان حکومت بايد دملي او نړيوالو ځواکونو په هم غږي کي موثره ګامونه واخلي او داسي لاري ولټوي چې ښوونيز مرکزونه او د روغتيا موسسي په درسته توګه امنيت ولري.

# اخذ ليکني:


- دافغانستان دبشر دحقونو خپلواک کميسيون او دملګرو ملتونو سازمان دپناه ورکونکو ځانګه، ملي او نړيوال قانوني معيارونه کابل 2006 (1385-1384).
- دافغانستان دبشر دحقونو خپلواک کميسيون دمعلوليت لرونکو کسانو په هکله رپوټ 2008 (87-1386) اليساتانګ Alisa Tang 2007 (86-1385) دافغاني نجونو سوداګري دپور او جګړې دحل دپاره، يو.اس. اې. ټودې USA today د http://www.usatoday.com/news/world/2007-07-09-afghan-girls_N.htm د 2008 کال د اګيست 2، (د 1387 کال دزمري 12).
- دالتاي مشورتي سازمان Altai Consulting. 2008 (87-1386) په کابل کي دماشومانو دکار په هکله بيړني ځيړنه دکار نړيوال سازمان IPEC.
- دافغانستان دملي ستراتيژي پراختيا 2005 (84-1383) دافغانستان دزرکلني پراختياوو دهدفونو دوهم رپوټ، سترګي غوړونه 2020 (99-1398).
- دافغانستان دملي ستراتيژي پراختيا، 2005 (87-1386).
- باري بيرک Barry Beark. 2006 (1385-1384) دناوي ارزښت، نيويارک ټايمز. http://www.nytimes.com/2006/07/09/magazine/09BRI.html د 2008 کال د اګيست2، (1387).
- ابتنا بر موفقيت په لندن کي دافغانستان په هکله غونډه. دافغانستان معاهده 2006 (1385-1384) .
- داقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو کميټه، ټوليز نظر شميره 3. 1990 (77-1376) په داخلي سطحه باندي دميثاق پلي کول.
- دمرکزي اطلاعاتو اژانس CIA دنړۍ دواقعيتونو کتاب افغانستان دجون 23. 2008 کال https://www.cia.gov/library/publications/the-world-factbook/geos/af.html.
- داقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو کميټه، 2000 کال (1379-1378) د روغتياته د ډيري لوړي سطحي دلاسرسني حق، داګست 11. 2000 کال، ټوليزي نظرئې.
- دښځو دحقونو کميټه، 1994 کال (73-1372) ټوليزي توصيې شميره 21. په ودونو کي برابري او کورنۍ اړيکي.
- د اسيا مشاورانو نړيوال سازمان (Consultants Asia International). (۲۰۰۶ (۱۳۸۵/۱۳۸۴)) د بې ځايه شوي کوچيانو دپاره دافغانستان په سهيل کي دحل لاره، ټاکوني او فرصتونه.
- ډيويډ منزفيلډ David Mansfield او آدم پين Adam Pain 2007 (86-1385) پرشواهدو باندي د کرنلاري طرح، په افغانستان کي دخاشخاشو بدليدونکې سطحه دافغانستان دځيړني او ارزښتني ځانګه AREU.
- دخواړو دناامنيو تعريفول، http://www.medterms.com/script/main/art.asp?articlekey=32947 د2008 کال د جون 23. ، (د 1387 دچنګاښ 3).
- ډوين فلټر Devin Felter. افغانستان هڅه کوي دزيږيدني تصديق پاڼې دنوي زيږيدلو ماشومانو دپاره جوړي کړي. http://www.findingdulcinea.com/news/Middle-East/July-August/Afghanistan-Eyes-Newborns-with-Birth-Certificate-Drive.html.
- ښوونه، په افغانستان کي دسيمه ييزو ښوونو دپراختيا دپاره مرستي دنجونو دپاره منځنۍ ښوونځی. http://www.care.org/careswork/projects/AFG023.asp داګست 15. 2008، (د 1387 زمري 25).
- فلورتجي کليجن Floortji Klijin او آدم پين، 2007 (86-1385) دپيسو پيدا کول: په کليو کي دغير رسمي پورونه ډولونه، دافغانستان دځيړونو ځانګه.
- دمعلوليت لرونکو نړيوال سازمان Handicaps International، 2005 (1385-1384) دافغانستان اسلامي جمهوريت دمعوليت دملي پيژندني لوستنه دراتلونکو ننګونو پيژندنه.
- دبشر دحقونو ليدونکي سازمان HRW، 2007 (1386-1385) دانسانانو لګښت، http://www.imf.org/external/pubs/ft/weo/2008/01/weodata/weorept.aspx.
- دمهاجرت نړيوال سازمان 2008 (1387-1386) په افغانستان کي دانسان قاچاق.
- دپيسو نړيوال سندوخ IMF، 2008 (87-1386) دنړۍ د اقتصادي معلوماتو بنسټ.
- دسيمه ييزو معلوماتو منسجم شوې شبکه IRIN، 2008 (87-1386) افغانستان: د 360.000 کسانو څخه ډير کسان دروغتيايي خدمتونو دنه رسيدو له سببه زيانمن شوي دي. http://www.alertnet.org/thenews/newsdesk/IRIN/9bf290e7f0eda9bd925c026783703d45.htm
- دسيمه ييزو معلوماتو منسجم شوې شبکه 2008 (87-1386) افغانستان: دبشر دحقونو څارونکي دماشومانو دپلورلو بنديدل غواړي، رويترز.
- ماټ والډمن Matt Waldman، 2004 (1383-1382) په افغانستان کي دمرستو موثريت اکبر ACBAR او اکسفام Oxfam.
- مډيکا مونډيل Medica Mondiale، 2004 (83-1382) په افغانستان کي دماشومانو د ودونو ځيړنه.

- دښوونو وزارت 2007 (1385-1386) په 1386 کال کي 2007 دښوونځيو څېړنه، د دوره اي رپوټونو لنډيز د 2007 د مي څخه د 2007 تر اګست پوري (غوايي 1386 څخه د 1386 تر وږي پوري) د پروګرامونو رياست Emis Department.
- دماليې وزارت- دهند حکومت. 2000 کال (1378-1379) اقتصادي څېړني. http://indiabudget.nic.in/es99-2000/chap1005.pdf
- Misfa (2008) (1386-1387) دکوچنيو پورونو په هکله تازه معلومات، 9. زمري/ 1387. د 2008 کال دجولاي 30. http://www.misfa.org.af/uploads/files/MF%20Sector%20update%20March%2008_1.pdf
- د بهرنيو چارو وزارت. 2008، (1386-1387) د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو کميټې ته د افغانستان دوهم دوره اي رپوټ.
- دکار- ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلوليت لرونکي کسان وزارت، 2007 (1385-86) کلني رپوټ.
- دکليو دبيا جوړولو او پراختيا وزارت او دمرکزي شميرنو ځانګه (2007) 86-1385 دملي خطر او زيانمنونکو څېړنه 2005 (1383-84).
- دکليو دپراختيا او بيا جوړولو وزارت 2008 (1386-87) په افغانستان کي دخواړو د امنيت پر وضعيت څارنه- دمرکزي شميرنو ځانګه، دخواړو نړيوال پورګرام.
- نيسان عدل پرور 2008 (1386-1387) دفقر دمشارکتي ازمايښتي ارزونه. اکبر.
- اکسفام 2008 (1386-87) افغانستان: دبشردوستانه پراختياو لومړيتوبونه.
- پاملا هونټ Pamela Hunte او آناستاسيا هوزو يانوا Anastasiya Hozyanova 2008 (1387-1386) په کليو کي دغير رسمي کوچني پورونو او ژوند څېړنه په کابل کي ديوه کلي لوستنه.
- پايو کانټور وارنا اندرسن. 2007 (1385-86) کوچني پورونه په غير رسمي ډول، دباميانو په ولايت کي ديوه کلي لوستنه.
- رابرټ هايډون Robert Haydon، 2000 (1378-79)، جنسي تيري او دجنسي تيري مخنيوي په قومي شخړو کي په کوچني دولتونو کي جنسي تاوتريخوالي د امريکا دانسان پيژندني مجله 102 ګڼه.
- سميع يوسفزي او ران مورو Ron Moreoau، 2008 (1386-87) په افغانستان کي دترياکو ناوي، دنيوزويک نړيواله مجله http://www.newsweek.com/id/129577 .
- سيد ذيح الله مجيدي. 2006 (1384-85) په کابل کي وروستني ناسته – دليک پاي.
- ثريا سرحدي نلسن Sorayasarhadi Nelson، 2008 (1386-1387) افغانستان غواړي چې ټوله نوي زيږيدلي ماشومان په نوم ثبت کړي. http://www.npr.org/templates/story/story.php?storyId=91936836
- سوزان براونملير Susan Brownmiller، http://www.drishtipat.org/1971/war-susan.html د 2008 کال اګست.
- د افغانستان دپاره دسويډن کميټه، 2007 (1385-1386) 101 پراختيا.
- ټامي ورت Tammy Warth، 2008 (1386-1387) 101 پراختيا: ښوونه په اقتصادي نظام کي لوي رول لري، http://kansascity.bizjournals.com/kansascity/stories/2008/07/14/focus1.html
- داسيا بنسټ، 2008 (1386-1387). افغانستان په 2007 (1385-1386) دافغانستان دولس په هکله څېړنه.
- دملګرو ملتونو سازمان داقتصادي، ټولنيز او فرهنګي حقونو کميټه، ټوليز نظر شميره 19. دټوليز امنيت حق (دميثاق 9 ماده) د 2008 کال دفبروري 4، http://www.unhcr.org/refworld/docid/47b17b5b39c.html
- دحق دپراختيا په اړه دملګرو ملتونو سازمان اعلاميه 1986 (1364-65) په افغانستان کي د داخلي بيځايه شوي کسانو څيره. (تراوسه نه دي خپور شوي).
- د يونيسيف دمطبوعاتو مرکز، د 2008 کال دجولاي 28 (د 1387 کال د زمري 7). http://www.unicef.org/media/media_pr_birthregistration.html
- يونيفم، 2008 (1386-1387) دښځو په وړاندي تاوتريخوالي معلوماتي بنسټ.
- د امريکي دمتحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزارت، 2004 (1382-1383) دانسان دقاچاقو واقعيتونه.
- دملګرو ملتونو سازمان د مخدره موادو او جرمونو سره دمبارزې ځانګه UNODC (2007) (86-1385) بند ياني ښځي او په ټولنه کي دهغوي ګډيدل.
- دامريکې دمتحده ايالتونو نړيوال پراختيايي اژانس: په افغانستان کي دسيمه ييزو ښوونو په هکله مرستي. PACE-A، http://afghanistan.usaid.gov/en/Activity.47.aspx
- وينا ډاس Veena Das، 2007 (1385-1386) دلغاتونو ژوند تاوتريخوالي او دپښو غورځيدنه. براکلي دکاليفرونيا دپوهنتون چاپ خونه.
- ونډي جانيچهيک Wendy Johnecheck او ډاين هالنډ Diane Holland، 2005 (1383-1384) په افغانستان کي دبي کيفيته خواړو خطر دازمايښتي پروګرام څخه شواهد. NSS، 2004

**(1382-1383)، 2003 (1381-1382) ملي ارزونه او دزيانمنوني خطر. 2003 (82-1381) د الان شان فاينښټين دقحطي سره دنړيوال مرکز سره مبارزه.** ( Alan Shawn Feinstein International Famine Center**).**

- **نړيوال بانک، 2008 (1386-1387) داخلي ملي ناخالص محصول، 2007 (1385-86) دپيريدلو برابري واک.** http://siteresources.worldbank.org/DATASTATISTICS/Resources/GDP_PPP.pdf **د 2008 کال داګست 10 ( د 1387 د زمري 20).**